از موضوع آن در ...
معذرت خواسته شود

هیومانیزم

د افغانستان د علومو اکاډمي
د نشراتو او خپرونو ریاست

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

لیکوال
د سرمحقق مرستیال محمد ولي سندوزی

کابل - ۱۳۶۸

5

هیومانیزم

د افغانستان د علومو اکاډمی
د نشراتو او خپرونو ریاست

لیکوال
د سرمحقق سرستیال محمدولی سندوزی

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

کابل - ۱۳۶۸

PROPERTY OF ACKU
8526

هیومانیزم

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د نشراتو او خپرونو ریاست

لیکنه : د سر محقق مرستیال محمد ولی مندوزی

مهتمم : عبدالاحد (نهضتمل)

تیراژ : ۲۰۰۰ ټوکه

د چاپ ځای : د آریانا مطبعه

کابل - ۱۳۶۸

فهرست

موضوع	مخ
ـ تقریظ	لومړی
ـ تقریظ	شپږم
ـ سریزه	الف
ـ د انسان انسانیت او برخه لیك	۱
ـ د انسان برخه لیك	٦
ـ په نړیوا لو مسا یلو باندی دنوی نړیوال تفکر اغیزه	۱٤
ـ وحشت یا دهشت یا د متمدنـی نړی سو غات	۳۸
ـ د لاتینی ژبی مقوله په حقیقت‌کی بد لیږی	٤۰
ـ د مضمون په پای کی دغـه لاندی پو ښتنی مطرح کوم	٤۳
ـ په یوه ورځ کی د دوتراژ یکـو پیښو عکس العمل	٤٤
ـ سیا سی اخلا قی شجا عت	٤۹

موضوع	مخ
ـ افغا نستان د دووسترو امپـــرتور یو او استعمار	
توتو نو د جیو پالیتیکس دقربانی‌اوخیز دتختی په توګه	٦٢
ـ د انګر یزانو سیاست او غـــوښتنه څه وه ؟	٦٧
ـ ویاړ لی افغا نان د حق دمبارزی‌له واقعیت څخه	
دتاریخ په پاڼو کی ډیری ستـــری‌نمونی لری	٧٠
ـد افغان ـ انګلیس په دووجګړو کی‌دافغا نانو	
د وطن پر ستی دوی نمونی	٧٥
ـ لومړی نمونه	٧٥
ـ دوهمه نمونه	٧٦
ـ مآ خزونه	٧٩

اهـــدا

په دغه کتا بګو تی زما دهیلـو اوغو ښتنو مضمون: مینه، زړه سوی ځان پېژند نـه او انسا نیـــت و. نوځکه زه دغه څو پاڼی لیکنه، خپل نیکه ببرك خان ځدران پیـاوړی اومهربانه روح ته وړاندی کوم چـــی دوطن په مینه کی زیات زړور، سـر ښندو نکی اووطن ساتو نکی و. په واقعیتونو باندی ترټولو زیات دسالم وجدان قا ضی او رښتیا ویونکـــی و. په غریبانو باندی زیات مهربا نـه او زړه سوو نکی و اوپه میلمـــه پالنه کی تر ټولو زیات ډوډی مـاراو میلمه پا لونکی و.

* * *

مادر بت ها بت نفس شما است
لیک آن بت و این بت اژدها است
(مولا نا جلال الدین رو می)

تقریظ

عامه اصطلاح ده چی وایی «ښه کوی، بد مه کوی . » په همدغه مفهوم بله اصطلاح ده چی وایی « په دی هر سړی ښه پوهیږی چی ښه کوم دی او بد کوم دی . » مگر دد ی سره سره دښو او بدو تفریق او بیا ښه کول او بدنه کول دواړه هغه دو ل موضوعات دی چی هم د زمانی تابع دی هم تغییر ته ضرورت لری او هم دخلکو ودغی خبری ته په مختلفو طریقو او متو دو نوراګر ځول په کار دی چی ښه وکړی او دبدو څخه لاس واخلی .

محترم محمدو لی مندوزی پخپل دغه اثر کی هڅه کړی چی تر ممکنه حده پوری دښو او بدو تغییر په اوسنی زمانه کی وکړ ی او هم خلك و هڅو ی چی ښه سر ته ورسو ی او دبدو مخنیو ی وکړی .

لوموړی

البته د یادو لو وړ ده چی پـه دغه اثر کی فصلو نه نه شتـــه
یوازی جلا، جلا عنوا نه دی او بیادهغو عنوا نونو په اړو ند ، پـه
اخلاقی لحاظ دزمانی غو ښتنی چی دلیکوا ل فکر او تو جه یی جلب
کړی ، په علمی تو گه تر بحـــث لاندی نیول شوی دی .

په دی رساله کی دمو ضو عا توتر منځ اړو ند تو ب تر ممکنــــــه
حده پور ی ساتل شو ی دی. دیادولووړ ده چی درسالی لو مړی عنوا ن
دزیا تو علمی مفا هیمو او افـاد ولرو نکی دی . دلته دنورو علما و
نظر یی را اخیستل شو ی او پـه هغو باند ی مولف خپل نظر قا یـم
کړی دی یایی تائید کړی دی اویایی هم درد ځوا ب ویلی دی اودانسان
پر برخه لیك باند ی ښکلی نظـــرا چولی دی .

په دوهم عنوا ن کی دلیکوا ل دبشر دوستی احساسا ت د سو لـی
دسیاست په کلك ملا تړ انعکا س لری او دانسانی پیو ندو نواواړیکو
بیان یکی را غلی دی لیکوا ل دټولی نړی دخلکو دخیر اورفاه له پا ره
خبری کوی خو کله کله یی طبقا تـی پټ احساسا ت رابر سیره کیـږ ی
اونړی په دوو متضاد و غټو ډ لـو (لکه څر نگه چی هسی ده) ځینی
وویشل شی . لیکوا ل په خپـــل اثر کی نړی والو ستونـــــز و ا و
پرابلمو نو ته په ډیره خو ښبینانه ستر گه کتلی دی ، دی وا یـی :
«اوس دد ی حقیقت څخه هیڅـو ك سترگی نه شی پټو لی چی نننـــــی
نړی دپرو نی نړی سره ډیر تو پیرلری. دننني نړی دوحد ت او پیو
ستون په نتیجه کی افـکار و ا وعقاید و دعینی ریښو سره پیو ند
لگولی دی په دی معنا چی مو نـــږ دنو ی نظام په لور تیله کوی ، په
داسی تو گه چی بشر ی تمــــــدن باید و زغورل شی د ناروا اوناجایزو
استعمار ی ، استثمار ی اوشوونستی گټو څخه لاس واخیستل شی . »

دوهم

حال د ا چیدغه خبر ی لکـــه څرنګه چی پر و ن هم آرزوو ه ،نن هم لا تر او سه آرزو او هیله ده .عینی شرا یط لا تر اوسه زیـا ت پیچلی او خطرنا ك دی . لیکوا ل په تعقیب لیکی :

«ټول ایدیا لو ژ یك اختلا فا ت دعینی ریښتو سره په پیو ند کـــی باید حل اوپه ګاه عمل لاس پو ری‌شی.» چی دا په اوسنی پړاو کـــی ممکن نه دی .

لیکوا ل دخپل اثر په ور پسی مخ کی لیکی : « اوس سوال داد ی‌چی آیا لو ید یځه نړی په تیره بیـــاامریکا دخپلو ټو لو دموکرا تیکـــو عالی او شر یفو اصولو دلارښوونی‌سره سره په ریښتیا سره غواړ ی‌او یا کولی شی یو اینچ دخپلو ګټـــوښخه په صر ف نظر کولوســـر ه دآزادی ، دموکراسی او بشـــر ی‌حقو قو داعاده کو لو په لور قد م واخلی یا په نړی کی د بیګنـــاه‌انسا نانو دوینی تویو لو او وژ لو مخه و نیسی ؟له دغو سوا لو نـــوښخه سترګی پټو ل او دهغـــــی تر څنګ تیر ید ل که مستقیـــــم‌وی یا غیر مستقیم ، که شعور ی وی یا غیر شعور ی دحقا یقوپایمالول‌دی . »

پور ته مطلب دمسا لی پیچلـــی‌اړخ یوه ښنده پخپله لیکوا ل پــه ګو ته کړی او هم یی‌په وروسته‌مخو نو کی بیا خپل لور ی په ګوته کړی دی .

دعنوا ن په وروستیو مخو نو کی‌لیکوا ل دافغانستا ن پر مشکلا تو رڼا اچو ی دو طن پالنی ژور احسا سات څر ګندو ی او په هیواد کی دتپل شوی جګړی عواقب افغا نانوته ور په ګو ته کوی . دو حشت او دهشت یاد متمدنی نړی سو غات‌تر عنوا ن لاند ی محتوا کـــــی لیکوا ل دافغانستا ن په دغی لـــس‌کلنی جګړی کی د مدرنی وسلـــی داستعما ل او دبشر ی او انسانی‌کرامت ضد عملونو او دهغی‌دعاملینو دمخ څخه پرده پور ته کوی او دهغی ښخه سخته کر که کوی ، هغه

دلته دمتمدنی نړی اعمال ګمنــد ی‌او هغو کسانو ته چی دغه دو ل ښرخ خرحو ی په حقه اصطلا حــادبشر یت او انسانانو د سر سودا ګران وایی . لیکوا ل دمتمد نی‌نړی‌څخه خپله مایوسی داسی افـــا ده کړی ده : « ربښتیا هم چی دژو نددیر ه سخته تراژید ی‌دا ده چی په قدرت سره دوینا او عمل تر منځ پل جوړ یږی » .

لیکوا ل داخلا قی شجا عت تــرعنوان لاند ی موضو ع کی دانسا ن ښه صفتو نه بیانو ی خو پــــه وروسته کی دما یو سی آواز پورته کوی او ګیله لر ی چی ښه خلــك‌چی ده بیا نکړی دی زمو نږ په ټولنه کی نه شی پیدا کید لا ی.په وروسته کی‌یی په نړی کی دځینو وکړو نومو نه راو ړ ی دی چــــی‌دحقا یقو ا وښو چارو دسر تــــه رسو لو دپاره یی قربانی منلی دی‌او هڅه یی کړی ده چی په‌دی‌توګه زمونږ ځوان هیواد وا ل او پـــرشو کیو ناست کسا ن د ربښتیـــا او حقا یقو د را منځته کو لو په لورعملو نو ته راو هڅوی .

دلیکوا ل دغه پور ته مطلــب‌دګل پا چا الفت دهیواد دلـــو ی او مشهور شاعر او لیکوا ل پــــه یوه بیت کی داسی افــاده شوی‌دی:

په عقل نه شی لوی کارو نه په جذ باتو کیږی

بد نظا مو نــه دجنو ن اوعشق طو فا ن ما توی

لیکو ال دافغانستان ددو ستر رامپرا تور یو او استعمار ی‌قوتو نو چیو پا لتیکس د قر بانی او خیـــزدتختی په‌تو که عنوا ن کــــی دافغانستا ن سترا تیژ یك مو قعیت‌او دافغا نانو دو طن پالنــی ا و میړانی کار نا می په تار یخی‌لحاظ بیان کړی دی .

څرنګه چی ما دمحتر م محمدولی‌مندوز ی اثر ولو ست څر ګنـــد ه شوه چی هغه ته خپل‌تو ل‌احساسات‌چی دژو ند په چارو کی او خا صتا په دی وروستی لسیزه کی ور تــه پیدا شو ی د ی هغه یی دپوهانو

تحلورم

او سیاست مدارانو په نظر یــوعلما غنی کړی او دقلم په ژ بهٔ یی
راوړ ی دی .

په دغه اثر کی که څه هم کله ،کله لیکوا ل په قهر کیږی‌او خپله
ددید ساحه کمو ی او کله هــــم‌دزیاتو عا طفی احساسا تو لا ندی
راځی ، خو هڅه یی کړی ده چــی‌دټولنی په عینیتو نوکی خپله لاره
ولټوی او دیو ریا لست په صفــت‌خپل نظر قایم کړی .

زه دغه اثر ګټور ګڼم او پــه‌ځینو بر خو کی چی ما شفا هــــی
خبر ی و رسره کړی وی اصلاح‌کړی‌دی اثر د چاپ وړ بولم.

په پای کی دد ی اثر دلیکوا ل‌له پاره نور هم دښو غنی او علمــی
نظریا تو او مفکور و دوړا نــدی‌کولو په لاره کی دزیاتو بریالیتو-
بو نو په هیله . **اکاد میسین ګلداد**

تقریظ

دعلو مو اکاډ می دخپرو نـــو ښاغلی رئیس صاحب !

ما د سر محقق دمر ستیا ل ښاغلی محمدولی مندوز ی رسا لــــه (هیوما نیزم)چی دتقریظ دپــــاره مو رالیږلی وه (۳۸۸) پر ۳٤۷ لمبر لیك) و کتله . په دی رسا له کی دانسان انسا نیت او بر خه لیــك په نړی والو مسئالو باند ی دنړی وال تفکر اغیزه ، و حشت اودهشت یاد متمدنی نړی سو غا ت، پـــه یوه ور ځ کی ددوو ترا ژ یکو پیښو عکس العمل ، سیاسی ،اخلا قـــی شجاعت ، دسترو امپرا تور یـــو تر منځ دافغانستا ن موقـــــف ،دافغا نانو مبا رزی دسو لی انسا نـــی ښیګڼی اوجګړی ناوړه عوا قـــبشر حه شوی دی .

په دی رساله کی دد ی پرنسیپ په اتکا چی « انسا ن باید جـد ی او کار غو ښتو نکی وی ، خو نـه خشن . سخت گیره وی ، خو نـــه ظالم ، خیر خواه و ی ، خونه بـی اصو له ، زړه سواند ی و ی ، خو نه ضعیف النفسه . » دانســـا ن په کړو وړو پور ی مربوط پـــر مغو عالی انسانی خصلتو نـــو اووظایفو ږ غیږی چی انسا ن کولا ی شی دخپلی ارادی او تعقل په بر کت خپل ماهیت او انسانیت درك کړ ی او دخپلی بشر دوستانه مبارز ی په لار کی دټولو اجتماعی مصیبتو نـو څخه ځان وژغوری .

تر کو مه ځایه پور ی چی ز ه دښاغلی مندوز ی دلیکنو ســر ه آشنا یم دده په ټولو لیکو کـــی دپیل څخه تر پا یه پور ی اصلـــی هد ف انسان دی . دانسان سر ه دمینی په څر گندو لو کی دانســا ن

دنیکمرغی لاره لټوي . په دغـــه لاره کې دخپل خاص تاکلي فهم
درك اوتصو ر خاو ند دی. لیکو نکی دظلم، ستم ، تعصب او تنـــګ
نظریو سره نه پخلا کیدو نکـــی دی . په خپلو ټولو څر ګند ونو کی
په اسا سی او عمده ډول پر سیاسی اخلا قی او انسانی اصو لـــو
اتکا کوی . بی له کوم تعصب څخه دنړی دبشر دوستانو ـ فلسفـــی
او مذهبی متفکر ینو او سیا ســـت مدارانو دافکار و اونظر یو څخـه
په استفادی سره دخپلی رسا لـــی محتوا جوړوی . دده دلیکنو محتـو
دانسا ن سره مینه لرل او رښتیاویل دی .

په داسی شرایطو کی چی دافغانستا ن پر مظلو مو خلکو تحمیـل
شوی ناروا ، خو نړی جګړه لـــه ځانه سر ه وړینی تـو یـــول ، وژل
بی نظمی اوګډ وډی اوورا نی ویجاړی لری اقتصاد ی ټولنیز او کلتور ی
ارزښتو نه له منځه وړی او منفـی انحرافی پد یدی مسلطی کـو ی
انسا ن له هیو منیستی انسا نـــی پرنسیپو نو او ار زښتو نو څخــه
لیرد ی کوی نو زما په عقیده دد ی رسالی د(هیوما نیزم)خپر یـــدل
په یو ګټور کاروی .

په درناوی

سر محقق دوکتور عبدالحکیم هلالی

۱۳۶۸/۶/۲۳

سریزه

نثر باید دومره روان او سلیس وی لکه په سیند کی چی رڼــــی او شفافی اوبه بهیږی او لاندی هرڅه پکی لیدل کیږی .

ماتل پخپلو لیکنو کی هڅه کړیده چی پیچلی او مغلق مطالب په ډیرو ساده او روانو عباراتو افاده کړم .

ما په ۱۳٦۷ کال کی د اخــلاقاو هومانیزم تر عنوان لانــدی یو فلسفی او اخلاقی اثر دتقریظکوونکو په قضاوت او ارزیابــی په ډیرو ساده الفاظو و کیښ اوله چاپه راووت په هغه اثر کی می په مفصل ډول دهومانیزم مساله توضیح کړی ده . دلته لازمه نه گڼم په دغه مسئله اوږدی خبری وکړم .خودکتاب دعنوان له کبلــه دهومانیزم مفهوم په څو لنــډو کلمو کی په خاص ډول چی زمـا دموضوعاتو سره رابطه لــــری توضیح کوم :

هومانیزم دبشریت په تفکــر کی یو مترقی میلان دی چی دانسان سره د زیاتی مینی په څرگندولو کی د ظلم، ستم، تعصب، کیــنی او تنگ نظر یو په مخالفـــت راولاړیږی او دانسان دنیکمرغــه ژوند په تاکلو کی په دغه اخلاقی او انسانی اصل اتکا کوی : «انسان باید جدی او کار غوښتونکی وی ،خو نه خشن . سخت گیره وی ، خو نه ظالم . خیر غوښتونکی وی ،خو نه بی اصوله . زړه سوانــدی وی ، خو نه ضعیف النفسه . »

ماهم دهمدې پرنسیپ په اتکادانسا ن په کړو وړو پورې مربوط
هغو عالي انساني خصلتو نو او وظايفو ته اشاره کړې ده چې
انسا ن کولی شي دخپلی ارا دې او تعقل په بر کت خپل ما هیت او
انسانیت درك کړی او دخپلـــي بشر دوستا نه مبارزې په لار کې
دټولو طبیعي او اجتماعي مصیبتو نو څخه ځا ن وژغورې او دخپـــل
سرنو شت په ټاکلو کــــــــي ځانته رنګینه نړۍ جوړه کړي.خو
په دغه کتابګو ټي مي دانســــا ن دانتي هو ما نیستي میلان په کړو
وړو هم بحث کړی دی . ځکه انسان کله کله دخپل جهالت او یامتعصبانه
خو د خواهی او جاه طلبیو په تنګه ساحه کی ګیر راځي او دا ســـي
فجايعو او غمو نو ته لاس اچـو ي چي ژ به یی دویلو ، سترګـــي
دلید لو او غوږو نه يې داورید لـو طاقت په ځا ن کی نه لري .خو بیا
هم دی ټکي ته اشاره شوی ده چې دانساني استعدادو نو او اند یشـو
ساحه او س دو مره پراخه شوی ده چې د ځانګړ يو هیواو نو دسرحدو نو
څخه په تیر ید لو سر ه یـــــې دنړۍ وال تفکر په تو ګه ټو لـــه
نړۍ احتوا کړي ده ، انسا نـــي استعدادو نه او اند یشي دیو نواخته
فرمول دقالب بندی داسار ت او دمتحجر شخصیت دمطلقي رهبـــرې
جاه طلبی اوخود خواهي دتنـــــګ نظرانه دګماتیزم څخه دراتلو پـــه
حال کی دی . حقیقت په اشتبـــاه ،رڼا په تیار ه، ژو ند په مـــرګ
بریا لیتوب ته سپړی . دکینـــي او عداو ت دجهالت اوخود خوا هـي
تلسمو نه ماتیږي . حتی دهغـــــورهبر انو په نسبت مي هم خـــو
شبینانه نظر څر ګند کړی دی چې دخپلو زړو سننو اوعقا ید و پـــه
تنګه ساحه کی یی زړو نه سخت شوی دی او یا دسړی اوګر مـــي
جګړي په لور ي هو سید لی دی دژو ند ټولی بنیګنی دانقیاد تر ږ غ
لاندې په یو نواخته ژو ند کـــي لټوي . د عصر اوسني پړاو ټو له
نړۍ دبشر دوستا نه اوخیرخواهانه افکارو تر فشار لا ند ې راو ستـــي
ده. نو دغسی کسا ن هم مجبور دي چې دنړۍ عا مه افکارو ته ځانو نـــه
تسلیم کړ ي په هغه لاره و لاړ شي کومه چې دنړ ی وال بهیر پــــه
انساني مجر ی کی خلاصه کیږي .

دسر محقق سرستیا ل محمد ولی منـ وزی

۲۰ / ۳/ ۱۳۶۸

داستان انسانیت

PROPERTY OF ACKU 8526

بشریت کولی شی دخپلی اراد ی
اوسا لم تعقل په برکت دخپل
سرنوشت په ټاکلو کی‌د هسك لوړی
څوکی ته و رسیږی .

دانسا ن دانسانیت (ما هیت)په باره کی تر اوسه پور ی ډیرو
سترو پو هانو او فیلسو فا نونظرونه‌اند ی کړی دی .

ارسطو وایی چی انسا ن یــو ټولنیز حیوان دی .

د بنیامین فرا نکلن به عقیــد ه:انسا ن آلات جوړ وو نکی حیو ا ن
دی .

سقراط یی دځا ن پیژ ند و نکی‌حیوا ن په نا مه یادوی .

کرتسن ، د متفکر حیوا ن نــو م ورکړی دی .

پور تنی نظر انسا ن دنوروحیواناتو څخه بیلو ی دانسا ن‌دانسانیت
په خصلت تر یوه حده پوری رنـاچو ی خو دانسا ن دبشپړ انسانیت
او ماهیت دخر گندولو له پا ره‌پو ها ن او فیلسو فان دانســا ن
تکامل په تاریخی مقطع کــــــی‌لټو ی . دمارکس په قول :«دانسان
ماهیت یو مجرد امر نه دی چــــی‌د کوښی یا منفرد انسا ن خاصه وی
بلکی دانسا ن ماهیت‌دټو لو ټولنیز ومناسباتو مجمو عه ده . » ددی‌خبری
معنا داده چی دټولنی څخه ورچنــی(دباند ی) انسا ن ، دانسانی‌ماهیت
څخه محرو م دی . دغه خبر ه پــه ځینو نادرو حوادثو کــی- کله چی
دانسا ن بچی په حیوانا تو کی لوی‌شوی دی په علمی لحاظ ثبــو ت
ته رسیدلی ده .

لکه : «انسان یو تولنیز موجود دی چی انسانیت او ماهیت یی له اجتماعیت څخه نه شی بیلیدلی ».

انسان ځپل انسانی مختصات لکه شعور ، ژبه ، عواطف ، احساسات او داسی نور د خپلی کورنۍ او ټولنی څخه زده کړی دی . دانسان انسانیت په اجتماعیت کی په واقعیت بدلیږی .
څرنګه چی انسانیت د انسان ماهیت یا اصلی جوهر دی د مارکس داخبره چی وایی : «دانسان ماهیت د ټولو اجتماعی مناسباتو مجموعه ده » ؛ ټولو روانی او عملی مختصاتو ته شکل ورکوی.
حتی دانسان فزیولوژیکی مختصات (لیدل اوریدل، خوړل، ویدیدل) د ټولنیز ژوند تر تاثیر لاندی په نوی کیفیت بدلیږی .
یعنی مارکس دانسان داصلی ماهیت اوانسانیت بشپړ والی او ژور والی د تاریخ په تکامل او تحول کی لټوی .
ځینی پوهان او فیلسوفان دانسان ماهیت او انسانیت نابدلیدونکی بیالوژیکی غرایزو ته محول کوی . ددوی په عقیده دحب النفس ، دنسل ، د ترس او تښتی د تجاوز او تجمع اومالکیت غریزی دانسان انسانیت او ماهیت ټاکی . دهمدغه ثابتو بیالوژیکی غریزی پر اساس دانسان فردی او اجتماعی ماهیت او شخصیت جوړیږی .
زیګموند فروید ، دانسان دشخصیت جوړښت په دریو برخو ویشی :
(۱) اید ، دانسان په وجود کی یو بی خبره غافل او تیاره عنصر دی چی دخپلو غریزی او تهاجمی تمایلاتو په لټه کی دی

(۱) اید ، ایګو ، سوپر ایګو له پاوه په پښتو ژبه کی معادل کلمات نه پیدا کیږی . که څه هم چی ایرانیانو ورته « نهاد »« من» «من بر تر» کلمی وضع کړی دی .

چې اصلاً د شخصیت د بنا کولو بنسټ جوړه‌وي . دکو چنیو الـــی دوخت ټول خصوصیات دځانــه سره ساتي . دعیني ادراکاتــو یاد واقعي شیانو ذهني تصویر نه شي اخیستلی . دخارجي نړۍ پــه نسبت دبدن دفعل اوانفعالاتــو سره له نږدې په تماس کې دی ، دروانی انرژۍ او طبیعي غریزو ځای او اصلي منبع تشکیلــوي . اید، دخارجي نړۍ سره دنه پـــه تماس کې کیدلو له امله د زمان او تجربوله اغیزې څخــه مصئون‌دی . دتوټلنیز و فرهنګي‌ارزښتونو او اخلاقي اصولو تر اغیزې لاندې‌نه راځي . یوازني هدف یې داصل لذت (۱) سره سم دخپلو غریزو اړتیاوو رفع کول دی . عقدې نــه شي تحمل کولی . دغیر اجتماعـي‌نا معقولي ، تحریکوونکي ، ځان خوښوونکي ، لذت غوښتو نکــي‌پدیدې په‌توګه څرګند یږي .

ددې دپاره چې فرد و کولــی‌شي په بریالیتوب سره خپلـــی اړتیاوې دټولنیز و ارزښتو نوسره سمې په معقوله توګـــه پوره کاندې ، باندني نړۍ ته په‌پاملرنې سره د خارجي محیـــط سره دارتباط په ټینګولو، نــوې‌رواني سیستم « ایګو » ته‌ورنږدې کیږي . په دغه وخت کې دانسان‌دمعلوماتو سطحه لوړ یـــږي . دانسان دشخصیت دوهم عنصـــرایګو تشکل مومي او ځان ښکاره کوي . شخصي غریزې او تمایلات تر کنترول لانـــدې راولي دشخصیت واقعي برخــه تشکلوي څرنـــګه چې د انسان شخصیت دتکامل په حالت کې دې‌دریمې مرحلې ته ورنږدې‌کیږي. دغه مرحله درواني سیستم‌ددریم‌عنصر «سوپرایګو » یا وجدان په نامه یادیږي . په دغـــــه‌مرحله‌کې ښوونه اوروزنـــه میکرومیحطي نږدې شرایـــط ،ټولنیز عمومي شرایط دانســـان پر شخصیت اغیزه کوي دانســـان‌شخصیت لوړې او عالي مرحلې‌ته پورته کیږي .

---

(1) Pleasure Principle

دشخصیت دری واړه اړخونه یو دبل تر اغیزی لاندی راځی
هم‌آهنگی ایجادوی او دانسان فکری‌اوروانی سلامتیا پیاوړی کوی
دانسان لذتی جنسی او تها جمی‌غرایز دتړولنیز و غوښتنو سره سم
تسکین مومی انسان دلوړو جدان‌تر کنترول لاندی واقع کیږی .
که دانسان په‌وجود کی دغه دری‌واړه اړخونه هم آهنگی‌اوتوازن
ونه لری دیوه ناساز کاره
انسان‌په توگه په‌تړولنه‌کی تظاهر Abnarmal
کوی دځان او جهان څخه ناراضی‌کیږی دتړولنیز و ارزښتو نو سره
سازش نه شی کولی .

دکالیفر نیادپوهنتون مشهوراو معاصر فیلسوف پیپر دخپل اثر
دارزښتو نو دسر چشمی (۱) په‌(٤٥٩) مخ کی لیکی : دانسان
انسانیت او ماهیت دعوا طفوتمایلاتو ، استعداد ونو،ذوقونو،
شور او هیجانو مجموعه ده ، او داټول خصوصیات دانسان
دارگانیزم څخه راولاړیږی .یعنی‌دی دانسان شخصیت او ماهیت
داجتماعی مناسباتو ، اجتماعی‌سیستم ، دوران او طبقی څخه جلا
کوی دارگانیزم دعملی استعدادونومجموعه یی بولی .

هو اپه دی کی شك نشته چی‌انسان دبیالوژ یکی نوغی‌درواني
خصوصیاتو یو ډول حیوان دی .په دی کی هم شك نشته چی
انسان په فردی اوتړولنیز ژوندکی روانی خصوصیات اغیزه‌لری،
خو که چیری انسان یوازی دبیالوژ یکی‌غرایزو مجموعه‌وبولو،
دده ماهیت او انسانیت په‌عوا طفواو تمایلاتو کی خلاصه کړو ،
داجتماعی سیستم او طبقی څخه یی‌جلاکړو په دغه صورت کی به
دپیری یو تر منځ او حتی په یوه‌پیری‌کی دانسان دتکامل، تحولاوتنوع
پر مسئله سترگی پټی شی اودنوروحیوانا ناتو سره به یی دتوپیر
وجه مشکله شی .

---

(1) The Sourse OF Value

دانسان یو عمده او جوت توپیردنورو حیوا ناتو سره داد ی چی له یوی خوا دطبیعت دقوا نینو تابع دی اوله بلی خوا طبیعت ته هم تغییر ور کوی . دطبیعت دقوا نینو څخه پخپله ګټه استفاده کو ی . دطبیعی شیانو او پدیدو تر څنګ مصنوعی شیان او پدید ی جوړ وی هر څو مره چی طبیعت دانسان تر تاثیر لا ندی راځی اودانسان داستفاد ی وړ ګرځی په هما غه اندازه « انسانی» کیږی ، دنو ی کیفیت په اختیار و لو سره دانسان په ګټه تمامیږی . زما په عقیده دانسا ن دما هیتی تکامل خصلت بایدد بیالوژ یکی او اجتماعی خصلتو نو دتر کیب په سینتز کی و لټو ل شی . یا په بل عبار ت انسا ن دخپل محیط او ټولنی تر بیتی او جنتیکی خصو صیا ت په ځا ن کی ځا یو ی یعنی دانسا ن په شمو ل ټول ژوندی موجودات دوه خصلتو نه لری یود «ورا ثت خصلت» دی »بل هم دمحیط سره د قابلیت ا و تطابق خصلت . لو مړی خصلت په پرله پسی تو ګه دساتنی مبدا ساتی . دوهم خصلت د محیط سر ه دبدلو ن اوتطابق اسا س تشکیلوی. یا په بله وینا په هره بیالوژیکی نوع کی د ژو ند یو موجودا تو تکامل ددغو دوو متبار زو خصلتونو څخه نشات کوی په دی معنا چی توار ث په هره بیالو ژ یکی نو ع کی په پر له بسی توګه خپل پخوانی خاصیت اوور ته وا لی ساتی .دوهم خصلت تغیر مننه او نوی کیفیت څر ګندو ی. ددی د واړ و اړخونو تر منځ دمبارز ی په نتیجه کی ژو ند ی موجود چی دلته مطلب انسا ن دی تکامل او پر مختګ کوی . او دانسانی خصلت پـه لوړ و پوړ یو کی ځای نیسی . موږ نه شو کو لی دانسا ن دانسانیت او ماهیت دمسئلی حل یواز ی د ما بتو ټر یزو او جنتیکی خصلت په در لود لو سره حل کړو. دهمدغو خصو صیا تو تر څنګ دتا ریخ په اوږد و کی دمشخصو ټو لنیزو اقتصاد ی او معنو ی مناسبا تو په مجمو عه کی حل کیدای شی . په همد غه اسا س دانسا ن دبرخه لیك سوا ل ته هم ځوا ب ور کولی شو.

دانسا ن دبرخه لیكٔ په باره‌کی‌تر اوسه پور ی زیا تی نظر یـــی
وړاند ی شو ی دی‌دهغو نظر یـــوځخه دو ی دپا ملر نی وړ دی :
یوه مذ هبی نظر یه ده. چـــی‌دانسا ن برخه لیك دقضا او قـدر
سره تړی وایی چی دانسا ن برخه‌لیك پخوا ټاکل شوی دی او دهغه
څخه انحرا ف نا ممکن دی .
بله نظر په دکشف شو یـــواو پیژ ند ل شو یو قوا نینو سـر ه
اړیکی پیداکوی . په دی معنا چـی‌دفردی اوټو لنیز ژو ند عمو مـــی
لوری دپیژ ند ل شو یو قوا نینـــوځخه داستفاد ی او کټی اخیستلوپه
جریا ن پور ی تړلی دی .
همدا رنګه دانسا ن دبر خـــه‌لیك په باره کی لرغونی‌او معا صر
متفکر ین دوه ډوله نظر یی‌وړاندی‌کوی : یوه ډله متفکر ین دانسـان
برخه لیك ته خورا بد بیـــن دی‌دانسا ن سر نو شت یوه تراژ یکه
پدیده بولی ؛ وایی چی دانســـا ن ژو ند سراسر له فاجعو،تراژیدیو
او مصیبتو نو څخه ډك دی ؛ حتـی‌دانسا ن نیکمرغی دژو ند د ذا ت
سره منا فا ت ګڼی . دنـــــړ ی‌دجګړو میدان یی بولی په همد غه
ډول ژو ند هم له تضادو نو ځخــه‌ډك ګڼی. ددو ی په نظر دهرتضاد
څخه جګړه راولا ړ یږی ، جګړه له‌ځانه سره بی نظمی ، ګډ وډی ،
ماتی،رنځ ،عذاب ، وژل، وینـــی‌تویول ، و حشت او د هشـــــت
راوړی . دټولنی اکثر یت له دغـوډول پیښو ځخه ،چی جګړ ه‌ماران ،
قهرمانا ن اوزور ورا ن یی‌خو ښوی‌نه داچی خو ند اولذت‌نه اخلـی ،
بلکی کر که اونفر ت هم‌تـــر ی‌لری ، درنځ او عذا ب ځخه بلـه
نتیجه نه‌لر ی . دوی نړی‌د جګړ ی‌میدان بولی . په دغه میدا ن کـی
قوی پر ضعیف غلبه کو ی .حقیقت‌تل دزور مندانو تر پښو لانـــد ی
کیږی ، نړی هم دقدر ت مندا نوپه‌مدار چور لی . دټولنی اکثر یت چی
زور مندا ن او جګړه مارا ن‌نه دی‌باید غلی کینی، دزړه وینی وخوری
او درانه پاړو نه یوسی .

ارسطو به وايل : «مر يي په فطري توګه مر يي زيږ يدلی دی او ددې دپاره پيدا شوی دی چې لاسی کارونه و کړی او دحکيما نو د را حـت دوسيلی په توګه استعمال شی .

پو ها ن او فيلسو فا ن با يـد ذهنی کارو نه و کړی او له ټيټو جسمی کارو نو څخه ځان وژغوری .»

دو ی هر دو ل خو ښی او نيکمرغی دجګړه مارانو ، قهر ما نانو ا و زور ورانو تر تسلط لا نـــد ی يو بد مر غه مرګ ګڼي. دو ی ځان غو ښتنه او جاه طلبی دانســا ن په جوهر کی ګڼه تو منه بو لـــی. وايي چې دغه ژو ند ی حر يـص موجود (انسان) تل غواړ ی چې دخپلو غريزو او اړتيا وو پـــه پوره کولو کی تر نورو مقــد م وی . دو ی دټولنی او فرد تر منځ دښمنی او تنا قض ابد ی ګڼـــی ؛ ټولنه غواړ ی چې دفــرد آزاد ی محدوده کړی . فرد غواړ ی چـــی دټولنی څخه ځا ن آزاد کړ ی .پـــه دغه جګړه کی طبيعتاً او قاعدتاً ټولنه غالبه ده ، ځکه چې قو ی ده.خو که چيری فرد و غواړ ی دزور، ستم اوفر يب له لار ی په ټولنه غالب شی او خپله فردی اراده پر ټو لنه تحميل کړی په دغو دواړ وصورتونو کی بياهم بد مرغی دانسا ن پـــه نصيب ده . همدا رنګه دوی دليـل راوړی چې پخپله دانسا ن اودانسان دروح تر منځ تعاد ل او هما هنګـی وجود نه لري : ارګا نيز مي غرا يزيي يوی خوا ته کشو ی عقل او و جدان يي بلی خوا ته. يعنی دشور ا و شعور (غر يزی اوعقل) تر منـځ تضاد موجود دی . که عقل غالب شی لذت له منځه ځی او که غريـــز ه غالبه شي رو ح ناآرا مه کيږی ، په دغو دواړو صور تونو کی بياهم انسا ن بدمر غه دی .

همدا رنګه دو ی انسان يـــو ناتوانه حيوا ن بولی په دی معنا چې انسا ن دطبيعت اوټولنی دقهر جنی قوا دناځا پی حملو په مقا بل کـــی مقاو مت نه شی کولی . انســــان دمصيبتو نو ، ناجوړ تياوو، دستمګرو

جابرانو او مستکبر ینو په مقابل کی نا توانه دی . لنډه دا چی دطبیعت دړند و قوانینو ، دټولنیز و جابرو قوانینو او تاریخی سننو تر منځ انسان داسی ایسار شوی دی چی دخلاصون لپاره د تښتی لاره نه لری . دوی دانسان په باره کی دو مره بدبینانه قضاوت کوی چی وایی انسان دتاریخ په رنګارنګ قفسو نو کی ساتل شوی دی چی دبخت او طالع په جنګو لو سره کله په ارتو زرینو قفسو نو کی او کله هم په تنګو اواو سپنیزو قفسو نو کی ژوند کوی! حتی خپل پټ او صمیمی رازو نه یی هم په اختیار کی نه دی . انسان دهنر پیشو په توګه میدان ته راوستل کیږی ، د دوی د میل پر خلاف باید هر ډول ، ډول ته ونڅیږی او وګډیږی .

شکسپیر وایی : « دانسان ژوند یوه سر ګردانه سیوری یا هغه حیران بازیګر ته ورته دی چی خپل ټاکلی وخت پخپل عبث تلاش سره په صحنو کی پای ته رسوی ، وروسته بیا دده او دده دخبرو اثر هم نه پاتی کیږی . یا هغی افسانی ته ورته دی چی دلیو نی په خوله ویل کیږی او ټوله افسانه له بی معنا وو فریادو نو ، نارو ، قهر او هیجان څخه ډکه وی . »

شو پنهاور وایی : « ژوندیو بی پایانه رنځ دی چی په رنځ سره پای ته رسیږی ».

لرداکتو ن به ویل : « قدرت دویرانی او تباهی تو منه ده مطلق قدرت عینی تباهی ده ».

کارل یاسپرس د آلمان مشهور فیلسوف به ویل : «تمدن او د علومو تکامل دبد مرغی تو منه ده . دعلومو انکشاف د طبیعت جادو یی او فسونګر حالت له منځه وړی او ژوند دمعنو ی جذبی څخه خالی کوی » .

هوا شک نشته چې دانســـا ن تاریخ دمشکلا تو اوکړا وو لوتاریخ دی خو په عین زمان کی دخلا قـــوهڅو، څلاندو بریو، علومو ،فنو نو او ښکلیو هنرو نـــو تاریخ هم دی.

شک نشته چې د طبیعت قهـــرجنو پیښو ، زړو منفی سننودانسان په برخه لیکلو بی او مســخـر ی وهلی دی ،نړی یی دغمونو اواوښکو په ډنډ کی ډو به کړی ده . هغـه دقدماوو خبره چې ویل په یـــی « په زیا ته پوهه کی زیــــا تغمونه دی ». خو په عین زما ن کی دانسا ن تاریخ پر مختلو نکـی اوو ړاند ی تلونکی دی . په بدمرغیو غلبه مو می . یعنی انسان‌دا قدر تلری چې په طبیعی او اجتما عـــی جبر غلبه حاصله کړی . جهـــا نطبیعت اوټولنه دخپلو غو ښتنو ا و تمایلا تو سره سمه تسخیر کړی . نوی فلسفه دانسا ن دبر خــه لیک په باره کی دټولو بد بینا نونظر یاتو پر ضد را ولاړ یــــږ ی په دی نظر چې انسا ن دنــــوروحیوانا تو سره په توپیر کــــی دڼا کنی ، اتکل ، در ك ،شعـــور ،آزاد ی او مختار ی اراد ی، قدر ت لری . بشر دخپل برخه لیك پـــه ټاکلو کی لو ی لاس لری ، کو لی شی د خپل عقل او اراد ی په بر کت څان‌ته رنگینه نړی جوړه کړی .

نو ی فلسفه انسا ن دخپل‌بر خه لیك په ټاکلو کی یو عبث مضحـك او تراژیك موجود نه گنبی، بلکـــی‌دارگانیك او ذیشعو ره جهـــا ن دتکامل اوتحو ل داو ج نقطه یـــی‌بولی ؛انسان په ټو لو مشکلا تـو باند ی دغلبی یوه حیرا نوو نکـــی‌معجز ه گنبی. د یاسپر س دعقید ی پر خلاف وایی : انسان د خپلــــوعلمی او فنی څیړنو په نتیجه کــی په داسی حیرا نوونکو اکتشا فا تواو اخترا عاتو بریالی شوی دی چې کله کله انسا ن ته تصو ر پیـــداکیږی چې دفسونگر طبیعت دمعجزو په نړی کی ژو ند کوی .

دانسانّ دبرخهّ لیكّ پهّ بـــا رهٔکی او س تولی بدّبینانه فلسفی او ذهنی خیالو نه دماتی سره مخا مـخ‌شوی دی . دفرد ی او جمعی سعادت په لار کی ډیری ستر ی او جا لبی‌بریاو ی منځ ته راغلی د ی .انسان دتولید ی کارو نو اوټو لنیزی ترقی‌دغوره برخه لیك په لار کی په نهٔ ستړی کیدونکی مبار زه لاس پور ی‌کړی دی . په دغه مبارزه کـــی دنیکمر غی په لور ی لا رهٔپرانیستلی‌او دخپلی مبارز ی میوه یی هـــم تر یوه حده پور ی څکلی ده، خپـلـتراژیك برخه لیك یی په‌کو میـك برخه لیك بد ل کړی دی . دنورو بد مرغی په مقابل کی مبـار ز ی . دنیکمرغی زیر ی دځا ن ســـــر هٔراوړی دی .

هو ادا واقعیت دی‌هغه څـــــه‌چی انسا ن په رښتینی تو کـــــه نیکمر غه کوی دماد ی‌او معنـو ی‌اړ تیا وو رفع کول دی ، په داسی توکه چی د یوه انسا ن اړتیا و ی‌دنورو انسانانو سره په هما هنگی کی رفع شی . داسی مرحلی ته‌دورداخیلید و شرط دټولنی او طبیعت په جبر ی قوا نینو باند ی بـــر ی‌موندل دی ، دبشر یت دعالی نظام ایجادو ل دی ، په داسی تو کـــــه‌چی لوړ تخنیاك ، لوړ عا لی تمد ن په روحی او معنو ی تکامل متکـــی‌شی .

ددی دپاره چی دانسا ن دبر خــه‌لیك په باره کی‌زمو ږ خو شبینـــی لانور ه هم منطقی او مجسمه شـــی‌نه ښا یی چی دغه مسا له یواز ی دتیری زمانی او اوسنی زما نـــی‌دبعد و نو په تاریخی مسیر کـــی مطالعه کړو ، بلکی ددواړ و بعدونو دعمل په نتیجه کی د راتلو نکی «بعد» دمنظر ی اولر لید اتکـــلـ‌هم په دقیق نظر محاسبه شـــی . تیره زمانه د راتلو نکی زما نـــی‌پانګه ده . چا ر لزډیکنز وا یـــی : «موږ دزمانی په تیرید و ســـر هٔتغییر کوو زمانه خپله وظیفه پـــه شرافتمندانه تو که سر تـــــه رسوی.»

تا سوو گور ئ چی انسا ن یــووخت د« ماقبل تاریخ» سړی و ا و
اوس دحیرا نوونکو کمی او کیفـــی‌تحولا تو هغه دورا ن جوړوو نکـــی
موجود دی چی په تو لنیزو اوعلمی‌ساحو کی یی خپل ژو ند ته پـــــه
ژوره او بنیاد ی توگه تغییرورکړی‌دی .

په‌د یار لسمه میلا د ی پیـړ ی‌کی د راجر بیکن هغی رو یا تحقق
ومو ند چی ویل به یی :

«په سمندرو نوکی به‌بی لـــــه‌پارو، بیړئ په حرکت راشـــی او
مرغا نو ته ور ته ماشینو نه به په‌هواکی والوزی » .

دعینی او ذهنی شرا یطو پــــه‌سم در ك سره کیدلی شی دراتلو-
لکو پیښو پیشئ بینی وشی . پــــه‌تولنیزو رو حیا تو باند ی دلینـــن
فوق العاده پو هی لینن ته اجـــازه‌ورکړه چی د واقعیتو نو په در ك
کولو سره داکتوبر دانقلاب پیـــش‌بینی وکړی .

علم اوپوهه په بشر ی مغـــزوکی یو ساده انعکا س نه دی دفکر
دحر کت‌یوه‌پیچلی پرو سه ده چی‌دنیمگړ تیا وو څخه دکما ل پــــه
لور ی گام په گا م وړا نـــــد ی‌ځی . انسا ن د ساینس‌او تکنالوژی
دچټك پر مختگ عصر ته دا خـــل‌شو دساینس او تکنالو ژ ی‌په‌زور،
سپوږ می ته وخوت .

اوس انسا ن دعلم دعظیم کیفی‌جهش په در شل کی ولاړ دی . د
اتوژی په فوق العاده منابعو مسلطشوداتم زره یی په ډیرو وړو زرو
پدله کړه . فوق العاده سپك فلزی‌مواد یی کشف کړل لکه تیتا نوم‌چی
تر المو نیو م سپك او تر پولا دوکلك دی . په کیمیا کی‌پو لیمرونه
کشف کړل ، دالکترو نیکی او سبرنتیکی پو هی لا ره یی خلا صــــه
کړه . مصنوعی دما غ‌او خپلکا ر ه‌ما شینو نه یی په کار واچو ل .
دیوه انسا ن‌په بد ن کی یی دبـــل‌انسا ن زړه پیو ند کړ. دراجربیکن
دخبر ی سره سم یی فلزا ت پــــه‌هواکی و ځغلول او په خبرو یـــی
راوستل . دستورو جگړی‌او دسیاروتسخیر ته یی لاس واچاوه .

انسا ن دځپل تحر ك ،خلا قیت ابتکار او دکار دلوړ پوتنسیا ل
څخه په استفاد ی سره و کولـــی شول ژو ند ته داسی خو ند و ره
محتوا ورو ببښی چی د هغی څخــه دسترو نعمتو نو اوپر یما نیــو
تصور کیدلی شی .

انسا ن دټولنیزو جبر ی قوانینو په مقابل کی راولاړ شو ، دطبقاتو،
دملتو نو دستم اونژاد ی توپیرونو په مقابل کی یی په مبـارز ه لاس
پوری کړ. اوس دیوه داسی نظــا م په جوړو لو لګیا دی چی په هغــه
کی همیشنی سوله او آزاد ی، هرډول ماد ی او معنو ی پریما نـــی ،
دآزاد شخصیت وده اوتکامل تضمین کیدلی شی .

دنړی وال تفکر په رڼا کی اوس انسان داسی مرحلی ته رسیدو نکی دی
چی د قهر آمیز ی جګړ ی پــر ځای به دسوله ایزی مبارز ی له لار ی
خپل انسانی ایدیا لونه تحقق تــه رسوی .

دفرد په واسطه دفرد استثما رمحکومیږی . د تاریخ په وړ د و کی
داستعمار کمپله ټوله شو ی او لاپسی ټو لیږی . دنړی دانسانا نــو
تر منځ په حقیقی تو ګه انسا نی مناسبا ت ټینګیږی په دی معنا چی
«انسا ن دانسا ن ورور او ملګر ی دی .»

دهو ما نیزم په دغه اخلا قــی اصل اتکا کیږی :«انسا ن با یــد
جدی او کار غو ښتو نکی وی خو نه خشن ، سخت ګیره وی خو نـــه
ظالم . خیر غوښتو نکی وی خو نه بی اصو له زړه سواند ی وی خو
نه ضعیف النفسه . »

په زیا ته پوهه کی دزیا تــو غمونو مقوله او س په دغه ذهنیت
تعویض شوی ده : چی انسانی پوهه انسا ن په دی قادر وی چی دطبیعت
او تاریخ داسرار و پر ده څیــر ی کړی ، دطبیعت او تاریخ قوا نین
درك کړی او هغه دانسان دسعادت او نیکمرغی له پاره په کار واچوی.
دخرافا ت پرستی بو تا ن مـــا ت کړی دحقیقت او عینیت لا ره دخلکو
پرمخ خلا صه کړی .

چې نړیوالو مسایلو باندې
دوی نړیوال تفکر وغزه

اوس دو جدا ن رنا یی په نړی‌کی څپره شوی ده ، علمی سطحه
داخلاقی سطحی سره تطا بق کوی،انسا ن دعدالت او انسانیت لار ی
ته رابولی . انسا ن دخپلی‌اوږد ی‌مبارزی دغور ه برخه لیك پـــه
تاکلو کی په دی هڅه کی دی چی‌داخلا قی فضا یلو تر ځنګ، نو ی
انسان ، نوی جهان او نوی ارما ن‌ته دانسا ن په کیفی تغییر کــی
خپلی خیالی هیلی په واقعیـــت بدلی کړی .
انسا ن هیڅکله دخپلو هیلـــواو اومید و نوپه په مبا رزه کــی
ته دی سترړی شوی . دستــــــرو‌پیغمبرانو ، فیلسو فانو ، لیکو نکو
او شاعرانو څخه نیولی تر آخر ین‌پیغمبر حضرت محمد (ص) او بیـا
تر او سه پور ی هر یوه تر یــوه‌حده پور ی دواقعیت او عینیت په
لاره کی دانسانی هیلو دسر تـــه رسولو په لاره‌کی ستر بریالیتوبونه
لاس ته راوړی دی . مو ږ یقیـــــن‌لرو چی دپو هی په قدر ت سره به
دوجدا ن بیدار ی انسا ن دکړ و وړ‌ولارو څخه بچ‌کړی دانسا ن ښکلی
خوبو نه او آرمانو نه به تحقق ته ورسیږی .
لنډه داچی انسا ن دخپلو خلا قوکارو نو په جریا ن کی دعلـــم
او هنر ډیرو سترو بریا لیتوبونوته‌رسیدلی دی . دخپلی بشردوستانه
مبارز ی په لار کی یی تر او سه‌پور ی په‌میلیو نونو انسانـــا ن
داجتماعی مصیبتو نـــو ، ډول ډول‌امرا ضو ، بی‌و خته مړ ینو ،ړند و
قوا نینو ، ټولنیزو بی نظمیـــو ،طبقاتی تضاد و نو ، ملی اونژاد ی
تو پیرو نو ، روحی او فکـــــری‌ستونزو ، فقر ، جهل ،ډار او داسی
نو ر و آ فتـو نو څخـــــــه ژغورلی دی او په دغه لار کی‌نو ر
هم لا ګام په ګام وړاندی ځی .

دنړی راتلونکی ژو ند د تیر ژ تیاره ژو ند غلطی او نیمګړ تیاوی تصحیح کوی .

(م. م.)

بی له شکه اوسنی نړی دخپل چتك تحو ل او متضاد و پدید و د عمل او عکس العمل په بهیر کی دعصر دسینتیز په لو ړ پړا و کی ځای نیسی .یاپه بله و ینا د تـولنیز معاصر پړاو د متضاد وعناصرو دار کانیك و حد ت په نتیجه کی دنو ی نړی وا ل تفکر وړا نګی خپر یږی .

نوی نړی وال تفکر دموکرا تیك خصلت لری . عا می انسانی ښیګنی دټولو هیوادو نو دوړا ندی تـګ په مجمو عه کی لټو ی. ټو لنیز ،او سیاسی جریا نونو ته یو دبل په ګټه دټول بشر یت دتمـد ن وغورنی لپاره سمت ور کوی. نـن دعلمی اوتکنالو ژ یکی انقـلا ب په نتیجه کی نه یوازې پـــه تولید ی ساحو کی محیر العقو لـه

پدید ی منځ ته راغلی دی، بلکــی دانسانی استعداد و نو او اند یښتو ساحه دو مره پراخه شو ی ده چی دځانګړ یو هیوادو نو د سرحدو نو څخه په تیر ید لو سره یی دنړ ی وال تفکر په توګه ټوله نـــړ ی احتوا کړی ده . انسانی استعدادونه او اند یښی دیو نواخته فر مــو ل دقالب بند ی داسار تـاو متحجــر شخصیت د مطلقی ر هبر ی ، جـاه ـ طلبی او خود خواهی دتنګ نظرانه دګماتیزم څخه دراتلو په حال کــی دی . علنیت اونو ی سیا سی تفکردنړی دیکتا تور ی او مطلقی‌رهبری ځای نیسی .

انسانی پیوستو ن دنړیوا ل پیوستون په تو ګه دجدی‌پا ملر نی وړ موضوع ګرزید لی ده .

انسانی ارزښت دسیاسی نظامونو په تو پیر کی نه ، بلکی دنوی نړیوا ل تفکر په رڼاکی مطا لعــه کیږی . یعنی دطبیعی او ټولنیز و قوانینو دکشف په رڼا کی د زړ ی‌نړی سره په تو پیر کی په نـو ی نړی کی ژو ند وده کوی اولا نو ی‌نړی ته ورداخلیږی .

څرنګه چی دنړی تحو لات‌په یوه‌دایره کی نه چور لی دا دنی څخه اعلی ته‌حر کت کوی هیڅـــو ك‌دځان له پاره موجود حا لت نــه شی ساتلی .

نننی تفکر دسبا لپاره ، دسبـــاتفکر دبلی ور ځی لپاره زوړ د ی. موږ دزړی نړی څخه رخصت اخلــواو دنو ی نړی په لور حر کت‌کوو.

دداسی ګړند ی او چټك تحو ل‌په نتیجه کی کله دنړی انسا ن ډیری پیچلی او حاد ی نقطی تـــه رسیږی .دنړی دسولی او جګړ ی ماهیت هم دهمد غه تحول ســر ه‌اړیکی پیدا کو ی دبشر دبقــا او پا ملو کیدو سوا ل تری‌راولاړیږی.دغه سوا ل دټولو نړی والـــو ذهنیتو نه مشغو ل کړی دی .

تیره زمانه زموږ لپاره دعبر ت ډیر ستردرس‌دی‌بایدتری زده‌یی‌کړو

د حال اوراتلونکی زمانی دهر قدم په او چتو لوکی زمونږ تصمیم باید ډیر اغیز من، مسئولانه او ډیر دقیق وی . دهمدی اغیز من مسوولانه او دقیق تصمیم پــــه نتیجه کی کولی شو په یوه داډمن اوسو له ایز محیط کی ژوند وکړو. داسی ژوند ته درسید و په لاره کی باید دزړو افسانو د کهنـــه پرستا نو او بت پرستا نوسنګرونه مات شی اوانسان دخپل ســـرنوشت په تا کلو کیدهسك لوړی څوکی ته وخیژی . دهسك لــوړی څوکی ته ختل دتباه کوونکو جګړو څخه دکرکی او دسو لی سره دمینی دلوړ تخنیك ، لوړ عالی تمدن په قوت ممکن کیدای شی، د عالـــی وجدان دتکامل په سپیڅلتیا کــی ممکن کیدای شی .

جګړه جګړه ده . یعنی قتلو ل،وینی تویول ،و یجاړ ول،ددمنشانه او وحشیانه اعمالو ته لاس اچول دی .

جګړه د بشریت دماد ی او معنوی پانګی ضا یع کول دی .خلا صه دا چی جګړه ویره ، غم، وحشـــت ،دهشت ، وینی، مړی،لوږه ، تنده، تباهی او ویرانی ده . ارنســـت همینګو ی دامریکا مشهور رو ما ن لیکونکی څلو یښت کاله پخواجګړی ته دوژونکی جنا یت کار انـــه او کثیف عمل نوم ورکـــړی دی .پیشنهاد کوی : «ټول هغه کسا ن چی جګړی ته لمن وهی او له هغی څخه ګټه اخلی دجګړه ایز وعملیاتو په لو مړی ورځ باید نابـــو د شی . » دبلغاریا مشهور سا ینس پوه او هیـــو ما نیست زلا تا ر و فـ لیکی: جګړه نه یوازی داقتصا دی اوټولنیزی ودی خنډ ګرزی ، بلکی جګړه دکلتور ی ارزښتو نو مخه نیسی ، اخلاق کمزور ی کوی . دیوه نسل په اوږد و کی اخلا قـــی او معنوی بریا و ی زمولو ی . خو دخواهی ،بدرنګی او منفی ارزښتونه مسلط کیږی . دغه حقیقت دبشریت په تاریخ کی د ځوار لســـو زرو جګړو په نتیجه کی ثبوت تـــــه رسیدلی دی .

سوله : دعقل ، منطق اوعاطفی‌یو ځای گول دی . سو له دبشریت

دحقوقو او آزادیو تحقق ته رسول‌دی . سو له خیر غو ښتنه ده .
سوله دکینی او دښمنی په عو ض‌مینه او دو ستی ده ، مینه‌اودوستی
دکا یناتورو ح دی .سو له دژو نددبقا لپاره په یوه ډاډ من محیـــط
اکی دعا دلانه اقتصاد ی مناسبا توساتل او ټینګول ی ..

سو له دټولو هیوادو نو د جلاجلا سیستمو نو په چو کا ټ کـی
دننه ملی حاکمیت ، خپلوا کی ا ودخاور ی بشپړ تیاته په درنـــــه
ستر گه کتل دی .

لامار تین وایی: «زه سو لـــــه غواړم په هر قیمت چی وی . »

ناپلیو ن وایی :«هغه هیوادونه چی سو له غواړ ی باید دستنکیـو
دچوخو لو څخه ډډه و کړی او که نه دستنکیو چوخول به د تو پ په
ډزو بدل شی . »

کنیدی وایی :« که چیری بشریت‌جګړی ته خاتمه ورنکړی نوجګړ
به بشریت ته خاتمه ورکړی ».

ددی مقولی تر څنګ یوه بلـــه‌مقو له هم شته چی وایی :«په نړی
اکی دوه قو تونه موجود دی عقــــل‌اوتوره . دجګړی په نتیجه کی عقل
غالب توره مغلو به ده ».

میلتن وایی : «دسولی بر یـــالیتو بو نه دجګړی تربر یالیتو بونو
اکم نه‌دی . » داهغه مقو لــــــی‌وی چی هو ښیا رانو او سیا ســـتـ
مــــدا را نـــــو دسو لی اوجګړی‌په باره کی ویلی دی.

مقولی‌دتجر بو او فاکتو نو مظهـــــردی ، دعا مه ارتباطا تو او متقابلـو
منا سبا تو هغه مفا هیم د ی چـــی‌دانسا نانو تر منځ‌دواقعی پیښوډین
غوره خوا ص بیانو ی . مقو لــــی‌داجتماعی پیښو اواجتماعی روا بطو
یر از مویل شوی او چا ن شـــوی‌افکار دی . په تجر بو ثبـو ت تـــه
رسیدلی ده چا چی دهو ښیا را نواو پخو سیاست مدارانو دخبرو څخــه

شپو کی لا هو شوی دی او زوال یی‌دی دژو ند دسمندر په تا پا یه
کی خپل عقل‌اوپوهه‌دلا سه ورکړی‌سر زور ی او جاه طلبی په نیشه
مسرغړولی دی او یا یی دکبراوغرور،موندلی دی .

دننی پر مختللی تکنا لو ژ ی‌په نتیجه کی سلیم عقل حکم کو ی
چی د جګړی سیالی با ید دسو لی‌په سیالی بدله شی او د مننی و پ
توازن ، دمتقابلو ګټو تر منځ تامین شی .دټولی نړ ی‌په تیر ه
بیاد سیا سی لیډ را نو ، فیلسوفانو ، بشر دوستا نو ، حقو ق
پو ها نو او اقتصا د پوها نو په مخکی دا پو ښتنه مطر ح‌کیږی
چی‌د ټو لنیزو ، سیا سی اقتصادی‌او ایدیالوژ یکی تضاد ونو سره‌سره
څنګه کو لی شو په نړ ی‌کی متمدن او سو له ایزژ وند ته
دوام ور کړو ؟

که دغه سوال ته د فیلسو فا نو او سیاست مدارانو به ژ به
ځو اب ور کړو ځو اب به پیدا سی و ی : بشر
دخپلو با رزو او متضادو خصلتو نو د پیاوړی رو حیی د تا ثید اوتردید
څخه دمنطقی سنتیز مر حلی ته ځان رسو لی شی . دالمان نا متو
فیلسو ف هیګل به ویل : «حقیقت‌په یوه قضیه یاد هغی په نقیض
کی نه پیدا کیږی بلکی هغه باید دپخلا کیدو نکواضدادو تر منځ
په نوی‌ترکیب‌کی ولټو ل شی . » یعنی دی په‌هغه فضیلت پسی‌روان
وچی د پخلا کیدو نکو اضداد و ترمنځ په ګټور او خلاق تر کیب کی
پیدا کیده.

دملګرو ملتو په (۴۳) غو نډه‌کی داوسنی نړی مشهور او مبتکر
سیاست مدار م . س. ګر با چف‌دمو جودو، ویرا نوونکو اووپیچلیو
کشالو څخه دراو تلو او په نړ ی‌واله سطحه کی د باور او اعتماد
دایجادو لو په رابطه کی یو ژو رمنطقی تصو یر وړا ندی کړ : داسی
چی زمو نږ نړی دسیا سی، ټولنیزوجوړ ښتو نو ، فکری او ټو لنیزو

غور ځنگو نو دپراخه تو پیرو نوسره سره کولی شی چې په عین
توپیر کی توافق هم و لری یعنی نړی پخپل ډول وا لی کی یو
والی هم ساتلی شی.

رښتیا هم چې نن په نړی کی له یوی خواد مختلفو سیستمو نو او
اید یا لو ژیو تر ځنګ ، تو لنیزې آزا دی ښښو نکو غور ځنګو نو
دټو لنیز عدا لت ، آزادی او د موکرا سی دلاس ته را وستو په خاطر
دمتضاد قوت په تو که په مختلفو لارو او طر یقو تبا رز کړی دی .
له پلی خوا په مختلو هیو ادونو کی تکنا لو ژیکی او صنعتی
انقلا بو نه په ډیره چټکی سره مخ په وړ اند ی‌د رو می : اقتصا د ی،
سیا سی ، اطلا عا تی او سیمه‌ایزو پرا بلمو نه یی په جهانی پرابلمونو
بد ل کړ ی د ی : په تیره بیاترا نسپو رتی ډله ایزو اطلا عا تی
وسا یلو دنړی فز یکی وا ټن‌دخوسا عتو نودقیقو او ثا نیو په فاصله
سره نږ دی کړی دی. دیپلو ماتیکو روابطو ، د وستی تړو نو نو ،
اقتصا دی‌مرستو ، تجا رتی روابطو، تیور یکی او اید یا لو ژیکی
مفاهیمو ، دنړی والو تر منځ دګډتفکر او ګډ احساس په ایجادو لو
کی ډیره ستره ونډه اخیستی ده . دنړی هیڅ‌هیواد له دغو تا ثیرا تو
څخه ځا ن نه شی ګو ښه کولی.یا په بله وینا دنړی هیواد ونه
یو تر بله دو مره سره نږدی شوی‌دی لکه په یوه وجود کی‌دمختلفو
ار ګا نو نو سیستم چې یو له بل‌څخه متاء ثره کیږی . دشیخ سعدی
دغه شعر دلته ډیر ښه صدق‌کوی چې وایی :

بنی آدم اعضای یك دیگر اند که در آفر ینش زیك جوهراند
چو عضو ی بدرد آورد روز گار دیگر عضو ها را نه ماند قرار

نو ځکه تر ټو لو مړی دسوله ایز سیا ست پر اسا س دټولو
هیواد و نو دامنیت لپاره دبشر دو ستی د عا د لا نه منا سبا تو
دټینګښت لپا ره دنړی وال دموکراتیزم دمسئا لی ضرو رت را منځ
ته کیږی .

په نړی وال د مو کر اتیز مکی هر هیواد کو لی شی په آزاده توګه دوړا ندی تګ او ژو نــدلاره وټاکی او ټول هیواد ونــه دمسا وی حقو قو او متقا بلو ګټــو پر اسا س په سو له کی ژو نــد وکړی ، خوددی دپاره چی همکا ر ی په پراخه پیما نه وسعت پیــدا کړی لاز مه ده چی دنړی وال‌اقتصاددمحا فظی لپا ره په هرا ړخیــزه توګه دمحا فظی سیستم په نظــر کی ونیول شی په دی‌معنا چی دهر هیواد داقتصا دی منا بعو څخــه دامپر یا لیستی او نوی استعمــار دتبعیضی او تعز یری پا لیسیو په‌مقا بل کی په مسا ویا نه توګــه دفاع وشی . دجګړی دمخنیــو ی‌اوبی وسلو کو لو تر څنګ ددا ســی سیستم په ایجاد ولو سره یقینــاً په نړی‌وال امنیت ډاډ پیداکید لــی شی.

اوس دنړی وال اقتصاد دو د ی‌په لار کی زیات محد ود یتو نــه او خنډو نه موجود دی. موږ با یــددغه حقیقت درك کړو چی پانګوا ل سنتی رژ یم دبډای او فقیر ترمنځ دتجملی او ضروری شیانو تر منځ ډیر ستر وا ټن ایجاد کــړی دی.هیڅ مذ هب او داخلا قو علم هــم تر او سه پوری داسی تو صیــه نه ده‌کړی چی ګو ند ی ځینـــی دی په ناز او نعمت کی ژو نــدوکړی او ځینی دی د ژوند دلو مړنیو ضروریا تو څخه هم محرو م و ی .

تراو سه هم دځینو بیرته پاتی‌هیواد ونو اقتصادی وده ډیره بطی ده او په زاړه عنعنوی سیستــمبا ندی اتکا لری . ځینی هیوادونه دصنعتی انقلاب دپړا و څخه ډیــر بیرته پاتی دی . کــه وضع دغسی دوام وکړی دغه ډول هیواد ونــه به دخطر نا کو عوا قبو سره لا س او ګر یوان شی.

همدا راز دپر مختیا یی او پــر مختلیلو هیوادونو تر منځ دپراختیا او پر مختګ له نظره ، دګړ نــد یتوب او غړندتوب دفاصلی زیاتوالی

ژیا ت مشکـــلا ت رامنځ ته کړیږي. که دلته هم وضع همد غسې دوام و لري نړی به دسخت خطـــر سره مخا مخ شي.

دنوی بنیادی صنعتی پرو ســی‌دلتون لپاره چی دټو لو نړی والــو دکټو سره سمون ولری دهر هواد دسو لی ، آزا دی او د نـــړی وا ل پیو ستون دلوړی مفکو ری پـــــه بنیاد چی هیڅ هیواد پکی متضـرر نه شی هڅی روا نی دی. دپیر یـوپه اوږدو کی داو لسو نو دمبارزی دبهتر ینو دمو کرا تیکو اړ خو نـو څخه داستفادی او مرلو پر وسـه پیل شو ی ده چی ډیر بر جستـــه مثال یی همدا اوس په شـو روی اتحاد کی دخلکو دکنگر ی‌داستا زودانتخابا تی سیستم بد لون دی.

په شو روی اتحاد کی دخلکـــو کنگری لپاره دخلکو داستازو ټا کـل دنړی په ډیرو هیواد ونو کی پـه تیره بیا لو یدیځه نړی کی پـــه ډیری جدی پا ملر نی سره تعقیب‌شول.د غرب ډله ایزو اطلا عا تـو دغه انتخا با ت بی له نیمګړ تیا ودشو روی ټو لنی ددمو کرا تیـزی ،کو لو لپا ره ډیر جدی او په ز ړه‌پو ری ار زیابی کړل : دلو مو نـد ور ځ پا ڼی ولیکل : « پـــــه شوروی اتحادکی‌دخلکود نماینده‌گانو ټـــا کنی د شور و ی ټو لنـــی‌ددمو کرا تیزی کو لو پرو سی تـه په ډیر ښه شکل تبا رز ور کړ. » همدارنگه د ټا یم او ډیلی تلگراف و رځ پاڼو ولیکل: « ددی انتخـــا باتو دمهمو مشخصا تو څخه یـــوه مشخصه دانتخا بو نکو اعتمـــاد اوبا ور ووچی خپلو نما ینده گا نوته یی پخپله اراده او خو ښه را یـــی‌ورکړی. »

دگار ډین‌اواند یپیند نت دورځپا ڼو په قول : «دانتخابا تو گډون ،کوو نکو په شو روی اتحاد کـــی‌داو سنیو تحو لاتو په پلوی را یی ور کړی . دغه‌انتخا بات دشو روی‌اتحاد په تا ریخ کی دعطف دنقطـی په تو گه تلقی کیږی او دخپــــل ماهیت له نظره د۱۹۱۷ کال دود یعی سر ه چـــی جها نی‌ی ولړ زا وه‌پر تله کیدای شي.»

زما په عقیده ددې نوې مفکورې په عملي ډګر کې دپیاده کولو دپاره ستر سالار او مخکښ انسان م. س ګرباچف دی.

مخکې مې اشاره وکړه چې نړۍ دتحول او تکامل په پروسه کې ده زوړ مري او نوی زرغونیږي، نوي اختلافات او تناقضات دزړو اختلافاتو او تناقضاتو ځای په داسې حال کې اشغالوي چې دپرو-سو په تسلسل کې ورو ورو پخوانی تناقضات له منځه ځي. دتجربو په غنا کې تیر اشتباهات تصحیح کیږي. زموږ راتلونکی ژوند دتیر تیاره ژوند غلطي او نیمګړتیاوې تصحیح کوي. دپخوانیو تجربو څخه په استفادې سره دنوي او غوره ژوند دلارو دپیدا کولو لپاره هرو مرو باید دپرون او نن ترمنځ داختلافاتو بنیادي ټکي پیدا شي.

دتاریخ په اوږدو کې بشریت سختو ټکرونو سره مخامخ شوی دی. هر چیرې چې جګړې پیل شوي دي حتی هغه ډیرې ستري جګړې چې بشریت یې دنابودۍ ترسرحده پورې رسولی دی بنیادي اختلافات یې دعقیدوي اوایډیالوژیکي مسایلو په سرو واو یا خو یې دناروا او ناجایز واستعماري، استثماري او شئونیستي ګټو دلاس ته راوړ ستو په خاطر په خونړیو جګړو لاس پورې کړي دي، په میلیونونو بیګناه انسانان دمحدودو کسانو دمطلقه قدرتونو دجاه طلبۍ او ځانغوښتني په خواهشاتو کې استعمال شوي دي او زیاتې قربانۍ یې ورکړي دي. خو اوس له دې حقیقت څخه هیڅوک ستر ګې نه شي پټولی چې نننۍ نړۍ دپرونۍ نړۍ سره ډیر توپیر لري. دنننۍ نړۍ دوحدت او پیوستون په نتیجه کې افکار و او عقایدو دعیني پیښو سره پیوند لګولی دی. په دې معنا چې زموږ دنړۍ نظام په لوري تیله کوي په داسې توګه چې بشري تمدن باید وژغورل شي دناروا او ناجایزو استعماري، استثماري او شئونیستي ګټو څخه لاس واخیستل شي.

١ دعصر او سنی پړا وتو له نړۍ دبشر دو ستا نه او خیر خوا هانه
افکار و تر فشارلاندی راوستی ده. دنړی وال تمدن ژ غور نه دبشر
دو ستانو، معقو لو سیا ستمدارانو او دنړی درهبرا نو په ګډ اوخلا ق
تفکر پوری اړه لری، په داسی تو ګه چې دانسان فضیلت ته پـه
درناو ی سره دنړی دپرابلمونو داساسی اختلافا تو دحل لاری پیدا کړ ی.
تول اید یـا لو ژ یکی اختلا فات دعینی پیښنو سره په پیو ند کـی
حل او په ګډه عمل لاس پوری کړی.

آزادی او انتخا ب دنړی وا لـی سو لی ډیر مهـم فا کتو نه دی.
دد غو فا کتو نو په نشتوا لـی کی دسو لی او دمو کرا سی پـه
کلمه اصلاً خبری نه شی کیدای .

میخا ئیل ګر باچف دکیو با پـه سفرکی دسیمه ایزو کشالودمسایلو
سره د تماس په ترڅ کـی وویل : « دغه کشا لی زیا تره له
بهر نه دلاس وهنواو دخلکو دآزادانتخاب نه ، دهغوی دمخنیوی پـه
خاطر را پیدا کیږی » په دغـه سفر کی ده اعلان کړه : « شو روی
اتحاد په کلکه دهر راز هغو نظریو اودکتور ینو مخا لف دی چـی
دانقلاب او یا انقلاب ضد ، صـاد ررول تو جیه کړی.» دغه شـا ن
ده وویل : « شوروی اتحاد دواکمنو هیواد ونو په ګو رنیو چارو کـی
د لاس و هنـو د تو لـو ډ و لو نوسره مخالف دی . » داخو هغه ټکی
وو چی میخا ئیـل ګر با چف د نړی والو کشا لو د حـل له پاره د عینی
پیښنو سره دپیو ند په را بطه کی بیان کړل.

او س سوال دادی چی آیا لویدیځه نړی په تیره بیا امر یکـا
دخپلو تو لو دمو کراتیکو ، عا لـی او شریفو اصولو دلار ښوونی سره سره
په ربښتیا سر ه غواړی او یـا کولی شی یوا ینې دخپلو ملی ګټو
څخه په تیر ید لو سره دآزادی دمو کرا سی او بشری حقو قـو
داعاده کولو په لور قدم واخلی؟ یاپه نړی کی دبیګنا ه انسانا نـو

دوینو تو یولواو وژلو مخه ونیسی؟ له دغو سوالو نو څخه ستـــر گی پټول اودهغی تر څنګ تیر یدل که مستقیم یا غیر مستقیم ، کـــه شعو ری وی یاغیر شعو ری دحقایقوتر پښو لاندی کول دی. ډیر لر ی به نه ځم دیوی کو چنی نجلی دوژلو په پیښه کی اسرا یلی اعمالوته دکتنی په رابطه کی دغو سوا لونه ته ځواب وایم.

آیا داسی آزادی او بشری‌حقوق؟! چی دفلسطینیا نو په اشغا ل شو یو ځمکو کی چی امر یکا هـــم‌په دی اعترا فکوی ؛ دفلسطین‌خلك دخپلی آزادی او بشری حقو قـــودلاس ته را وستو په خاطر پـــه سوله ایزو مظا هر و او میتینګـــونوکی ګډ ون کوی. دتصا دف لـــه مخی یوه کو چنی اسرا یلی نجلـــی د یوی نا معلو می ګولی په لګید لو سره خپل ژوند د لاسه ور کـــو ی (کا شکی دغه معصو مه او بیګنـــاه نجلی نه وای وژل شوی) ددی‌نجلی مرګ په فلسطینیا نو ور تپـــــل کیږی . لو یدیځ ډله ایز اطلا عا ت د ډیر سخت خپګان او هیجا ن پـــه شر ګند ولو سره څو ورځی پـــه پرله پسی توګه پرو پا ګند کوی او د دوی د اطلا عاتو ډیره بر جستـــه مو ضوع تشکیلو ی . خو د دغـــو سلګو نو فلسطینی تنکیو ځوا نا نواو نجو نو په نسبت چی د خپلـــی پلار نی خا وری د آزا دی او بشر ی‌حقو قو د لاس‌ته راو ستو په خا طر هره ورځ په سو له ایزو مظا هر و او میتنګو نو کی ګډو ن کو ی‌خوپه ډیری بی رحمی سره د اسرا یلـــی‌عسکر و له خوا په دوی با نـــد ی زهر لرو نکی ګازو نه پاشل کیږی، په پلا ستیکی ګو لیو ویشتل کیږ ی او یا خو په دوی باندی راسآ دګرمو وسلو او تو پکو ګو لی او بوږ ونه چلول کیږ ی او ژوند دلاسه ورکوی. لوید یځ ډله ایز اطلا عات یـــی مازی د یوه عا دی خبر په تو کـــه نشرته سپا ری اویا خو دا هم نـــه کوی په تولو فجا یعو با ندی پـــرده‌اچول کیږی !

آیا داسی بشر ی حقوق ؟ ! چـــی د ملګرو ملتو د امنیت په شورا کی د تولو غړو هیوادو نو له خـــوا داسرا یلو اعمال غند ل کیـــږ ی او

محکو میږئ . خو یوا زی د امریکا نما یندہ دو یتو د حق پـه
در لو د لو سره هغه روا نـه کنی ! هو ! دو ی یوا زی تر هغه
وخته پوری دبشر ی حقو قو او دموکراسی ناری وهی چی دد وی
ملی منافع دخطر سره مخا مخ نه وی . خو په مجرد دد ی چی ددو ی
ملی منافع دخطر سره مخا مخ شی که د فلسطینیا نو په اشغا ل
شویو ځمکو ختمیږی یا واړه معصوم ماشو ما ن ، ځوانا ن ، ښځی او سپین
ږیر ی دد ی متمد نـی نړی په کولیو او ر ا کتو نـو
وژل کیږی پروا نه لری !!

دریا ض داسلا می هیواد و نو په کنفرانس کی په هر شکل او هر ه
بڼه ترور و لـو که د آزا دی ښښونکو غور ځنګو نو او د هیوادو نو
د آزاد ی پـه خاطر هـم وی سخت غند ل کیږ ی ، خو د لتـه پـه
افغانستان کی ښارونوته دزر کو نوبیګناه انسا نانو دترور په خا طر
راندہ را کتو نه دهمد غی متمد نـی نړی او مرستی تر نقا ب لا نـد ی
را استول کیږی په زر کونو واړه ماشو ما ن ، ښځی او سپین ږیر ی
دانسانی کرا مت اسلا می احکا مـو او اخلا قی موازینو پر خلاف په ډیر
فجیع شکل سره وژل کیږی .

رښتیا هم چی دڅو ند ډ یـر ه سخته تراژیدی داده چی په ندرت سره
دعمل او وینا تر منځ پل جوړ یږی .

لو یدیځ هیوادو نه په تیـر ه بیا امریکا په ډیر حرار ت سـر ه
دعالی او شریفو اصو لو لارښوونه کو ی خو له بلی خوا همد غه اصول
په ډیری بی شر می سره منحر فوی او تر پښو یی لا ند ی کوی .

ډیر و ختو نه دسو لی خبر ی کوی خو په عمل کی دجګړی او و ینـی
تو یو لو لپا ره تیار ی نیسی دانسانانو ینو په قیمت سو له ایـــز ی
لار ی لټوی .

ډیر و ختو نه دعدالت دهسکـی لاری لار ښو و نه کو ی خو پخپله
دبی عدالتی په تیته لار ه کی قد م وهی .

دیر و ختو نه په انتخا با تـــی خو زو کی خلکو ته وعدی و رکــوی
خو دبر یالیتو ب نه وروسته تولی‌هغه و عد ی تر پښو لاند ی‌کوی .

پل تلیچ وایی :« انسا ن‌دآزادی‌په خاطر انسا ن دی واقعی آزادی
دآزاد ی په تصمیم او د آزاد ی‌په عمل کی تحقق موندلی شی .»

هو ادا رښتیا خبر ه ده آزاد ی‌چی ما د ی‌او معنو ی تضمین و نه
لری دفر یب او اغفا ل لو مه د ه‌چی دهغه په غا ښکو (کړ یو) کی
آزاد انسا ن تل تر تله دحا کمـــی طبقی د ممتاز ا قلیـــت ددیکتا توری
تر فرما ن لاند ی محکو م ساتـــل کیږی ، اکثر یت که څه هـــم چی
د«خالصی دموکراسی » تر اشکا لولاند ی په رای و رکو لو لی گډو ن
کو ی خو بیا هم په عملی تو گـــه پخپل تصمیم کی دخپل سر نوشت په
ټاکلو کی گډون نه‌کو ی . ځکــــه تصمیم نیو نکی ممتاز اقلیت د ی‌چی
ټول ماد ی او معنو ی و سا یــــلددو ی په‌لاس کی دی . اکثر یـــت
هغه و خت دخپل سر نو شت پـــــه ټاکلو گډو ن کولی شی چی پـــــه

انسانی حقوقو باند ی دممتاز اقلیت‌ددیکتا تور ی اوزور مندی حکـــم
محکوم شی .

دسو سیا لیستی ټو لنی دموکراتیزم په نړی واله سطحه کـــی
سو له ایز او انتر نا سیو نالیستی‌خصلت لری. سوسیالیزم‌او نړی‌واله
سو له د دوونه جلا کیدو نکـــــواجزا وو په تو که دیر لوړ اخلا قی
او سیا سی ارز ښت لری . سو سیالیزم بی له قید اوشر طه جگړ ه د
سیاسی او اقتصاد ی تضاد و نـــوتر منځ داید یا لوژ یکی اختلا فا تـــو
دحل دنقطی‌په توگه‌ردوی .

یوری اندر پوف لیکی:
«که بشر یت نه غواړی دخطـــر سره مخامخ شی ،نه شی کولی چی
همیشه دتسلیحاتی سیالیواوجگړ وسره سارش وکړی . دشوروی‌اتحاد
دکمو نیست گو نـــد د ی ټکـــی سره‌مخالف دی چی ایدیا لوژ یکـــی
اختلا فات دهیوادو نو او خلکو په‌مقابله بدل شی او دوسلواستعمال
دټولنیزو سیستمو نو د قـــــدر ت‌معیار شی .»

دسو سيالیزم ايد يال جها نـی دی .په سو سياليستی دموکراتیز م کـی مر هيوا د کو لی شی په آزاده توګه دځان دوراندی تـک او ژو ند لار ه و ټاکی .

م.س ګر باچف داکتوبر دانقلا ب د(۷۰) کلیزی دتجليل په مناسبت وينا کی وايی:

«هيڅ کله په داسی پيښه نه شی چی ټول مترقی تحولات يواز ی دسو سيا ليزم مر هو ن دی خو په هغه ښکل سره چی دبشر يـت مهمو مسا يلو تبارز کړی دی او هغه لاره چی دمغی لور ی ټاکل کيږ ی څرګند و ی چی دنړی والی تر قـی او سو سيا ليزم تر منځ دبين المللی قوت په توګه نه شليدو نکـی اړيکی موجود ی دی .» دهمد غـو اړيکو په رابطه کی نا چاره يو، يودبل نظر يا تو ته نه يواز ی داحترام په نظر و ګورو بلکی يو دبل څخه يی زده کړو . موږ نه ښتو کـو لی ددموکراسی يا انتخا ب شيوه يو بل ته صادره کړو يا يو بل ته دخپلـی طريقی درسو نه ورکړو . يو په بل باند ی تحميلو ل داجبار مسئلـه منځ ته راوړ ی دموکراسی خپـل اصلی ماهيت بايلی .

دملګرو ملتو په (۴۳) غونډه کی م .س ګر باچف په ډا ګه اعـلا ن کړه چی : «اوس د نو رو په قيمـت دانکشا ف فرمو ل دنابود ی پـه حال کی دی دموجودو واقعيتو نـو په رڼا کی هيڅ دول اساسی بـر ی دنورو هيوادو نو د خلکو دحقو قواو آزاد يو په قيمت نا ممکـن دی . البته دمنفرد و هيواد و نـو په چو کا ټ کی د ننه بـه بنيا دی تغييرا ت اوټو لنيزجوړ ښت ادامه پيدا کړی دغسی ده او دغسی بـه وی . »او سنيو تجر بو ثابته کړی ده دهيواد ونو په داخلی انکشافاتو او بدلو نونو کی چی له خار ج څخه لاس وهل شوی دی او يا پـکـی مستقيمه مداخله شوی ده او يا يی پخپل ذوق سره ټولنيز بدلو نو نه وهبر ی کړی دی دلاس وهل شو يوهيواد و نو او دنړی والی سو لـی په لار کی سخت خنډ ونه ايجاد کړی دی بـی له ويرا نی او ښنيما نی

پلاه نتیجه هم په لاس نه ده راو ړ ی. داو سنیو شرایطو په را منخ ته
کیدو سره مجبور یو دانواعو پــــه وحدت کی ژ وند وکړ و. دانو اعوپه
وحدت کی ژو ند کول دا ایجا بو ی چی په نورو باند ی دنظر یا تـــو
دتحمیلو لو پر ځای دنظر یا تـــو دتبادلی څخه دکتی اخیستنی طریقه
زده کړو . په دغه صور ت کـــی کیدای شی خپلی نیمګړ تیاو ی دمقابل
لوری دانکشافی سر چشمی له لاری تکمل کړو هر لوری باید خــــپل
ارز ښتنا ك اړ خو نه په صـــــد ق او صفا سره یو بل ته ورو ښیــــی .
م.س ګرباچف دملګرو ملتو نـــو په (٤٣) غونډه کی دهیواد و نـــو
تر منځ دپراخو همکار یو په تر څ کی لاندی ټکو ته اشاره کوی :
١ـ «دهیواد و نو تر منځ دپرا خو ثمر لرو نکو متقابلواو برا بـــر و
مرستو پراخوالی .
٢ـ علمی او تکنالو ژ یکی انقلاب دبر یا وو څخه په اغیز منه تو ګه
استفاده کول .
٣ـ دنړی داقتصاد بیا جوړ و نه او داستوګنی دچا پیر یال و قایه .
٤ـ په وروسته پاتی والی غلبه ،دلوږی ، بیسواد ی او ددا ســــــی
نورو نړی والو بو ښکلو ریښـــی غوڅول . »
په دغه ډو ل بشر دوستا نـــه احسا س سره کیدا ی شی چــــی
دزرو ی خطر او وسلوا لو ښتنـــو مخه و نیو ل شی په شلمه پیړ ی
او دیر ویشتمی پیړی په در شــــل کی دسو له ایز دوام من او هو ســـا
ژو ند جها نشمو له انسانی لار ه پرانیستل شی .
په اوسنی نړی کی دا ســــــی قو تونو تبار ز موند لی دی چــــی
دحقیقت بر ښښنا یی رو ښا کـــړ ی ده دبشر یت دتباهی پرخلاف راپا ـ
څید لی دی . دنړی والو نیکو منــــاسبا تو دلتو ن لپاره زړی فلسفــی
او سیــاست ته په نوی وا ـی ســر ه تغییر ور کوی .

په دغه جهانشمو له شرا یطوکی موږ د هغو سرګشتو او ستمـ
تمبه لیدرانو په برخه کی هم بدبین نه یو چی زړو نه یی دخپلو
دارو سننو او عقاید و په ساتنه کی سخت شوی دی همیشه دسړی
اوکر می جګړی په لور یې هو سیدلی دی او یا دهرډول بدلون څخه په
ویره کی دی؛ دزړ ونو ډیر سترارمان یی دحال زمانی ابدیت دی
او دژوند تر لی ښیګڼی دا نقیادتر جغ لاندی په یونوا خته ژوندکی
لټوی .او سداسی شرا یط منځ ته راغلی دی چی حقیقت پر اشتباه ،
رونا په تیاره ، ژوند په مرګ بریالیتوب ته رسیږی. دکینی
او عداوت ، دغرور او تکبر، دجهالت اوخود خواهی تلسمو نه ماتیږی ،

دزړو ی وسلو د مخنیوی لپاره لومړی قدم پورته شوی دی. دنړی وال
سالم چاپیریال دایجاد په لوری بی منطقه تګرځا یو نه
په تفاهم بدلیږی . سترقدر تو نه اوس دی نتیجی ته رسیدلی دی
چی په نړی کی دهستوی وسلو ترا کم دو مره زیات شوی دی ،
نږدی ده چی دلیډرانو او سیاستمدارانو دعقل او اراد ی څخه ووزی
او نړی داور په لمبو بدله کړی .دهستوی وسلو لړو نکو هیوادو نو
په تیره بیا شوروی اتحاد او امریکا درک کړی ده چی
داوسنی نړی د علمی او تکنالوژیکی انقلاب په نتیجه کی په نظامی
برې سره سیاسی بری څوک نه شی ګټلای . دوی درک کړی ده چی
دسیالو هیواد و نو د هستوی قوا وو د توازن سطحه دو مره
لوړه ده چی دهر هیواد لپاره یی په مساو یانه توګه خطرو نه
منځ ته راوړی دی . دهمدغه نوی نړی وال تفکر په نتیجه
کی ښاغلو م.س. ګر با چف او رونالد ریګن دواشنګتن په ملاقات
کی وکولی شول د مسوو لانه اغیز من تصمیم په نتیجه کی ،
عمل په اعتبار سره لومړی قدم پورته کړی ، دبشریت
مینی اوګډ مسوولیت په احساس سره بی منطقه تګرځای په متقابل

تفاهم او اعتماد ډك كړئ ، دلنـــداو منځنی واټن و يشتو نكو هستوئ
تو غند يو دخطر ناكو عواقبو څخه بشريت ته نجا ت وركړی او بشريت
په دی متيقين كړی چی د معقـــو لوجدا ن په حكم دډيرو ډا ر وونكو،
پيچليو او مغلقو مسا يلو غو ټـی هم خلاصيد لی شی .

پرو فيسور ډاكتر اسين زلاتا روف دبلغا ريا مشهو ر سا ينس پـــو ه
او هيو ما نيست څه ښه ويلـــی دی : «هغه څه چی د ښه نيـــت
او شر يف احسا س پر بنا منـــځ ته راشی مرگ نه لری. »

زلا تاروف په يوبل ځا ی كـــی وايی : «ډير خواړه او په زړه پوری
خوبو نه هغه دی چی مو ږ تـــــه دراتلو نكی آزاد ی او ژور ی انسان
دوستی معناو ی تفسير كـــړی .» يالكه دا چی تولستو ی وا يـــی :
«هر څوك چی په رښتيا او سمه لاره لاړ شی ژر هدف ته رســـيږی . »

ددوو كلنو په جريا ن كی دسترو قدر تو نوتر منځ دسيا ســــــی
ډيالو گ فضا په متقابل تفا هـــم او اعتماد بدله شوی ده.خو يو حقيقت
بايدله ياده ونه. باسو چی نـــړی وال مسايل يواز ی او يـــواز ی د
سترو قدر تو نوتر منځ دتفا هـــم په فضا كی نه شی حل كيـــداى ،
متوسطاو كو چنی هيواد ونه د دوی تر منځ اړو نده اړيكی لـــــری ،
دملكر وملتو سازمان هم په همد غه بنياد منځ ته راغلی دی.

ملكری ملتو نه دټولی نـــړ ی داستازو د ارادی او تعقل مظهـــــر
اودنړ يوالی سولی اوامنيت دقا نو نونی ارادی ځای دی. خوافسوس دغه
سازما ن تر اوسه پور ی د آزاد اومستقل تفكر دارگا ن په تو گــــه
كار نه شی كولی .ددی ار گـــا ن استازی دخپلو مربوطو هيواد ونو
دسياست تر انقياد لاند ی محصو رپاتی شوی دی ، او ځينو هم دو يتو
دحق د رای قدر ت ترلا سه كـــړ ی د ی.خو ددی سره سره هم دبشر ی
حقوقو دانعكا س اوبيا دهغی دتحقق په لاره كی دتضمين ډير ستــــر
قوت كښل كيږی . دغه ار گـــا ن دخپل گډ تفكر په قضاو ت ســر ه

نفوذ واردولی شی ، دمسوو لیـــت په احسا س سره دنړۍ د حال ا و
راتلو نکی زمانی پر ټولو مسا یلو با ندی دحل کیلی ګڼل کیدلی شی،
دسیاسی اقتصاد ی ـ نظا می ،علمی تکنالوژ یکی او منطقی مسا یلـــو
څخه نیولی دژو ند تر چاپیر یـا ل پوری په مختلفو سا حـو کی ټو ل
سیمه ایز اولانجمن مسا یل دبرابروکټو او متواز ن عدالت پر اسا س
حل کولی شی .

همدا علت دی چی دنړۍ هیواد ونه دملګرو ملتو د بنو هڅو پـــه
هیله دخپلو مشکلا تو دحل لپا ر ه همد غه سازما ن ته مرا جعـــه
کوی . په اوسنیو پیښو کی ډیر ی بر جسته نمونی دایران او عرا ق
جګړه ، دافغانستا ن او پاکستا ن تر منځ دشاو خوا حالا تو ډیـــر
پیچلی اولانجمن مسایل وو چـــی دملګرو ملتو مینځګړ یتو ب تـــه
وسپار ل شو ل . هیچا یی تصـو ر نه شوکولی چی هغه انعطـــا ف
نه منونکی خمینی به دایرا ن ا وعراق په جګړو کی عرا ق تــــه
دتسلیمی سر ټیټ کړی .خو کلـه چی ایرا ن په جګړه کی دملا حظـــی
وړ بری تر لا سه نکړ او محتـــر م خمینی په دی پوه شو چی په دغه
جګړه کی دابر قدر تونو لاس د ی.ایران دبر باد ی اوتباهی په لو ر
روان دی ، دخپل سر سخته مو قف څخه راو ګرز ید لو دخپلو ټولـــو
ادعا وو پر خلاف ، خو په ډیـــر ی زړه بدی سره یی اعلان کـــړ ه :

«دز هر ودترخه جام دغړپ پـــه ځنبنلو سره دتود ی جګړی څخـــه
لاس اخلم. » سو له ایزه مبار ز ه یی پر تود ی جګړ ی غوره وګڼلـــه ،
دعرا ق سره یی دټولو مسا یلـــواو پرابلمو نو دحل په لار کـــــی
دملګرو ملتو مینځګړ یتوب ومانه .

افسو س چی محترم خمینی دد ی بی ګټی جګړی په عواقبو او تاوان
ډیر وروسته پوه شو . دعرا ق ا وایرا ن په جګړه کی په میلیو نونو
انسانا ن مړه ، ژوبل ، بنـــــدی، شکنجه او فرار شول . په زر ګو نو

میندی بوری او میر منتی ،کو نـه ی‌شوی . په زرګو نو معصو م‌ماشومان تر حاور و لاند ی شول . دعرا ق‌اوایرا ن تول اقتصاد ی شا هـ رګو نه قطع شول ، په بیلیو نونوډالرو خسا ره دواړو خوا وتـه واو ښتله د هغه ا یرا ن چی پـه منطقه کی دچتك وړا ندی تـګ آوازی خپر ی شو ی وی په تپـه ودریدلی . تول بشر ی، مـاد ی اومعنوی منا بع یی په خـاوروواو ایرو بدل شول .

شکسپیر وایی : «دزړ ور تیـاډیر ه غوره بر خه عقل او تد بیـر دی .»

ګا مبیتا وایی : «څوك چی سترکارو نه بی تدبیره سر ته رسو ی په پای کی تراژ ید ی منځ تـه ته راوړی .»

په رښتیا سره چی سلیم عقـل‌تر غرور او جنو ن ډیر لوړ قدر ت دی . هغو ی چی دسلیم عقل‌اوتدبیرپه غر بت دو چاره شوی دی پـه سیاست کی تجر به نلری دخپلـی‌سر زور ی او سرتمبکی دافرا طـی او احساساتی ایدیا ل په پیـرو ی‌غواړ ی خپل اهدا ف سر ته ورسوی دخپلو اهدا فو په نیمګړ ی لار کی‌پاتی کیږی نتیجه یی هم‌هرو مـرو تس نس کیدل اوبر بادی ده .

دافغا نستا ن د شاو خوا حالا توپه باره کی نه غواړ م زړ ی خبری دعباراتو په تغییر سره تکرار کړم.دلته زه دیو ی جملی په ارتبـا ط خبری کوم، یوه ورځ می دلوید یځـواطلاعاتو دیوی‌راډیو څخه دغه جمله په غوږ شوه : «پښتانه یی پـه توره ګټی او دمیز په‌سر یـی بایلی » (۱) دغی جملی زمـاد زړه څکه وکړه اود ځان سره مـی یاد داشت کړه .

زه فکر کوم هر چاچی دغه جملـه ویلی د ه دتاریخی حقا یقو پـه رڼا کی یی ویلی ده . د تا ریـخ په اوږدو کی پښتنو مشرا نـو او

---

(۱)محترم اکاډ میسین ګلداد راته وویل : دا دپاچا خا ن خبـر ه ده ښا یی د پاچا خان له خبری یی‌نقل قول کړی وی .

رهبرانو دهلی څخه تر اصفها نه پوری ملکو نه فتح کړل. دیـــو پښتنا نه او افغا نان پکی مـــړه او تباه شول خو په اخیر کی یی په ډیری آسانی سره د لا سه ورکړل .

که مو ږ په ربښتیا سره سیاسی پو هه در لود ای او خپل تاریخ مو په دقت سره مطالعه کـړی وای او د تاریخی درسو نو په رڼا کی مو په عمل لاس پوری کړی وای، د ثـــوردپاځون په پیروز ی سره بـــه ددومره سختو مشکلا تو سره نه وای مخامخ شوی . کاشکی پښتنا نـــه دخپل شها مت دو سلی ترخنگ په سیا سی وسله هم سنبا ل وای.

په دغه بر خه کی دپښتنـــــــــــوسره ډیره سخته جفا شو ې ده . د ملك سر دارانو دمبادا ورځی لپاره پښتنا نه د علم د ر ڼا څخه لـــر ی ساتلی دی . په کوزه پښتنو نخواکی هم انگر یز انو او پنجا بیا نو دغه جفا په پښتنولورو لی ده .

دشورو ی اتحاد دسرو لښکر وتروتلو ورو سته جگړه په ننگر هـار خو ست او کند هار کی په تبـــا ه کو و نکی جگړ ی بد له شـــو ې دځینو خار جی آژانسو نو په حوا له دجلال آباد په جگړه کی د (۱۰۰۰ــ ۲۰۰۰) پور ی انسانا ن وژل شو ې دی دلنډ ی مود ی په جگړه کـــی دغه ډیر در شت رقم دی. خـــوافسوس چی دجلال آباد له جگړ ی څخه پښتنو هیڅ پندوانه خیستــ اوس عینی جگړه په خو ست کـــی روانه ده .دځینو منابعو په حواله دد ی جگړی تلفا ت هم دیـــو ی هفتی په موده کی زرو کسو تـــه رسید لی دی .

دنیویار ك تا یمز ورځپا ڼی د اخبره رسوا کړه چی په جلال آبـاد باند ی دحملی پلان په پا کستـا ن کی دامریکا دسفیر او د پاکستـا ن دلوړ ر تبه نظا می کار مندا نو په مشوره اوقو مانده طر حه شو ی و او په دغه جلسه کی دافغا نانو یو ه نماینده هم گډون نه درلود.

دغه پلان دنړی په ډله ایـز واطلاعاتو کی په ډیره وسیعه پیمانه

وسوا شو . ډیره دتعجب خبره ده‌چی‌زموږ د جګړی دمرګ او ژو بلی
پلان دبیګانه وو په لاس طرحه کیږی او موږ لکه دقربانی‌پسونه
دجګړی میدان‌ته ځغلو او ځانونه قربانو و ا ځو مره عجیبه خبره
ده چی انسان و نه پوهیږی څه کارکوی اوکومی خواته روان
دی ا خوشحال خان وایی :

که هر څویی سوموه نه سمیږی پښتانه دی دګړو کانو دیوال

اوس سوال دادی : آیا دغه جګړی دخپلو پښتنو ورو نوتر منځ
نه دی روانی ؟که جګړی‌همدغسی‌دوام وکړی بی له مرګ ،ژوبلی،
بربادی او تباهی څخه بله نتیجه په لاس را تللی شی؟ موږ به تر څو
پوری جګړی ته دوام ورکو وتر هغو پوری چی زموږ نسل
ورک او تباه شی ؟ دبنا غلی ډاکتر نجیب الله خبره بیا به په قبرونو،
هدیرو او اروا حو حکومت وکړو ا پښتانه به بیا ارمان
کوی چی کاشکی وروستی عقل‌لومړی وای ا ایرا نخو د خارجی
دښمن سره مخامخ‌و دملی‌حاکمیت‌دځمکی دبشپړ تیا او یاد ځمکی
دپرا ختیا مسا له یی په مخکی‌وه؛دتودی جګړی له‌لاری خپلواهدافوته؛
درسید لو په نیمګړی لار کی پاتی‌شو. برعکس دلته خوپه افغا نستان
کی د سولی مسا له مطرح ده، په‌ځینو محا فلو کی په دغه خبره
ډیر ه کیدله که دشوروی اتحا دلښکری دافغانستا نڅخه ووزی
افغانا ن پخپلو منځو کی سره‌جوړیږی . او س خو هغه لحظی‌هم
راو رسید لی . هغه سخته ویره‌اوډا ر چی دافغا نانو په‌زړونو کی
پټ وچی شوروی ا تحا د د افغانستا ن خاوره اشغال کړی ده او
خارجی منابعو به هم دغه خبره ډیره کوله . او س خو دشوروی
اتحاد لښکری دافغا نستان څخه وتلی دی . زه فکر کوم چی
دشوروی اتحاد دلښکرو دشړ لوڅخه ورو سته جها د خپل اصلی
مفهوم دلا سه ورکړی دی . که اپوزیسیو ن ددولت سره دجګړی

پر مفهوم د«جهاد» نوم پر دی ! نو په هغه جگړه باندې چې داپوز يسيون تر منځ روانه ده دکوم جهاد نوم ايښود لی شي ؟! هغو راکټو نو ته چې په ښارو نو کې په بيگناه انسانانو باندي و ريږي دکوم جهاد ، نوم ور کولی شي ؟! دخلکو پر ضد جگړه هيڅ کله بريا ليتوب ته نه ده رسيدلی ! او س خو افغانا ن دخار جي دښمنانو په لمسون او مستقيمه مدا خله پخپل منځ کې په جگړه بوخت دی ! زموږ لپاره بياهم امريکا او شو روی اتحاد په سترگو لم کې سره کيني زموږ په سرنو شت خبری کوي زموږ جگړه او يا نه جگړه ددوی په حکم فيصله کيږي ! که جگړه دوام وکړي دورو نو افغانانو په وژلو بر سيره دوطن دتجزيې بوی هم تری راولاړيږي . خدای مکړه که وطن تجزيه شي او زموږ ديوه موټی هم اهنگ او واحد افغانستان دخاوری يوه برخه دبل چا د خاوری جز شي د دغه ستری ترا ژيدی او دد غه ستر او نه ښښونکی عمل مسوو ليت به دچا په غاړه وي ؟ او س زموږ دپناه گزينو او مها جرينو شمير په خارج کې د (۳ـ۵) ميليونو پوری رسيږي . نو په هغه وخت کې به څو مليونه کيږي ؟ د پو ښتنو ځواب ساده دی : دا مسوو ليت دهغه چا په غاړه دی چې په سياست کې تجربه نه لری د خپل احساساتی ايديال په پيروی د خپلو شخصی گټو ، خود خواهيو او جاه ـ طلبيو څخه په نه تيريدلو سره يې دوطن پلورنی تور او ننگين داغو نه په ځا ن لگو لی دی . دهغه چا په غاړه دی چې له ځانه اراده نه لری دبيگانه وو په لمسون او ارا ده دځان او ملك په سرنو شت لو بې کوي . دهغه چا په غاړه دی چې دوی نه پوهيږی څه کوي او کومې خوا ته روا ن دی ! او س مکار دښمن نقشه جوړه کړې ده چې دغه وياړلی افغانا ن او وطن داسی و ټکوی چې دابد له پاره ، په دوی کې دافغا نی غرور نيشه ما ته اوله منځه يوسی !

دافغانستان په تاریخ کــــی دشاه شجاع او شاه شجاعانو له درسونو شخه باید عبرت واخلـو .دغو تورمخو او بدنامو شیرو شـه په لاس راوستل ؟! غیر له دی چی دتاریخ دتورمخو او بدنامو شیرو په تو که دتاریخ کندی تــــه لویدلی وی .

آیا موږ نه شو کولی خپلـــی تولی عقدی و ازمو یو ،دوطن دنجات په خاطر ، دوطن دیو موتی پاتـی کیدو په خاطر ، دوطن دتباهــی او بربادی دمخنیوی په خاطــرتولی دښمنی یوی خوا ته کړو . د خارجی مداخله گرو ، ارمانونـــه گور ته وسپارو ؛ خپل مسایــل پخپله دجرگو او مرکــو له لاری حل کړو. او س وطن دسخت خطــر سره مخامخ شوی دی . جگـــړه یوازی دپښتنو ورو نو تو منـــځ روانه ده . دښمن په کمین کی غلی ناست دی مناسب وخت لټوی چـی وطن تجزیه او توتی توتی کړی .کاشکی تاسو « ۱۵۰ سا ل اپار تاید در افغانستا ن »دما هر دښمن هغه کاغذ لوستی وای چی څو مـــره دحماقت ، جهالت ، رذالت اوتعصب نه ډک جعلیات یی د پښتنو پـــه برخه کی لیکلی دی ، څه ډول نظراو څه ډول نقشه لری ؟! کاشکی تاسو دغه دلستونی مار پیژندلی وای ! جرگی او مرکی زموږ دپلرونو او نیکونو ډیر پخوانی او لرغونی دوددی . پښتنو ډیری پیچلی ا و غوټه شوی پیښی او مسایل دجرگو او مرکو له لاری حل کړی دی .

په پښتو کی یو متل دی چـــی وایی : « غوټه چی په لاس خلاصیږی غـــاښ تـــه څه حاجت دی »هغه هدف چی دجرگو او مرکو له لاری او یا د میز په سر لاس تـــه راځی ولی د جگړی په میدان کـــی دمرگ ، ژوبلی، ویر ، غم او ماتم له لاری لاس ته راوستل شی !که دغه سمه لار نه وی په دی منطق چی او س دغه جگړه دافغانانـــو دارادی څخه و تلی ده او په جگړه کی مستقیماً دخارجیانو لاس دی ؛

وحشت ما درست با شمعی نری سوغاتی

دخارجي قوتو له په لمسون او مداخلي پيل شوي ده تو كيداي
شي چي دملكرو ملتو سازمان ته مراجعه و شي دنوى نړيوال تفكر
او دنړيوال كنفرانس په تضمين سره جګړي ته داسي خاتمه ور كړى
شي چي په آينده كي بيا ځـــو كدى خاورى ته دتيرى او تجاوز
ستركي رابر كي نه كړى . دغـــه هيواد دتل له پاره آزادبى طرفه او د
سولى په منطقه بدل شي .

* * *

په دغه نا مطمئنه اوډاروو نکوورځو کی چی دراکتهو نو او بمو نو وحشیا نه حملو او چاودنو تـــو لافغانا ن په تیره بیا دکابل،خوست، ننګر هار او کند هار دښارو نـــواو سیدو نکی دیوه داسی حا لـــت سره مخا مخ کړی د ی لکه څـــو ګچی په اعدا م محکو م شویو یهره لحظه دخپل مرګ انتظار با ســـیخو په دو مره تو پیر سره چـــــی په اعدام محکوم شوی کسا ن ښا یی ګنا هکا ران او مجر مان وی او د غه بیګناه. رښتیا هم«کله چــــــــیانسا ن دقانو ن او عدالت د لار ی

څخه جلاشی نو په ډیر ټیټ حیوان بدلیږی » تاسو و ګوری چی :

دهر ی ور ځی دراکتهو نوشوغهاراو د بمونو غور ها ر دخلکواعصاب نږدی دلیو نتوب درجی ته رسو لیدی. دروحی فشار نو په دروندوالی کی د ژوند څخه بیزار شـــو یدی.هو سا ینه ، ډاډ ګیر نـــــه ، امنیت او مصوونیت په خطر کـــیلویدلی دی . ددښمنیو او اختلافا تو منحو سه څیره هر چیر ی ځـــا نښکاره کوی . دقهر او هیجا ن پـــه اور تی خلك سوزی .

کله کله داسی و حشیانه ، جنـــایتکارا نه او ددمنشانه اعما لو ته لاس اچو ل کیږی چیژ به یـــــیدوریلو ، غوږو نه یی داورید لو ، ستر ګی یی دلید لو طا قت پـــــه ځان کی نه لر ی . هو ! دار ښتیا ده:

ما د هغه مضمون د څو کرښــــو ته و روسته دلو ستلو طا قــت
په ځان کې نه در لود چې داخبـار هفته په (۳۰) گڼه کې دکا مله حبیب
په قلم په روغتونو نو کـــــــېد راکتو نو دقر بانیا نو دمړ یو او
ټپیانو دستر گو لید لی حال پـــه توگه لیکل شوی و او یـــواز ې
دسر طا ن په میا شت کې د (۳۹۰)را کتونو (٤۹۹) ټپیا نو او (۱٤۷)
شهیدانو راپور ورکړی شوی و . دداسې حالا تو څخه سړی ته احساس
پیدا کیږی چې زموږ وضعه بـــې ثبا ته شو ی ده د نا بو د ی ، او
ابر بادی په لور روان یو . په لا تینی ژبه کې یوه مقوله ده چې وایی :
«خدای چې څوك وغواړی تباه یـــې کړ ی نو لومړی یی لیو نی کړی.»(۱)
نو آیا دغه دلیو نتوب علا مه نه ده ده چې په دغه کوچنی هیواد کې چې
د نفو سو شمیر یې د پنځلسو میلیو نو څخه زیا ت نه دی دلسو کلو نـو
دجگړی په موده کې ددواړو متخـــاصمو خوا وو څخه دیو نیم میلیـو ن
څخه زیا ت کسا ن دوحشیا نــه حملو په اور کی سو زید لی دی او
څپل ژوند یی دلا سه ورکړی دی : په سلگو نو کورنی ویر جنی شو ی
دی . زو ی له پلاره اوپلار له زویه ، میر من له میړه او میړه له میر منی ،
وروو له ورور ه ، خور له خـــور څخه په مرگ او یا په ژو ند جلا
شوی دی . په زرگو نو کسانو خپل دوجود غړی دلا سه ورکړ ی دی .
پاك او سپیڅلی ماشو مان په او رکی سو زید لی او په مرگ محکو م
شوی دی .

دبشر دوستا نه عوا طفــو ا وانسانی کرامت پر خلاف ، دشخصـی
کتهو ، شتو او مال دجمع کو لو پـه خاطر د هیڅ شی پروانه سا تــل
کیږی . د پیسو په مقابل کـــــــې سر ټیټیږی ، پت ، عزت او ایما ن
خر څیږی .

---

(۱) Quen deu velt Perdere Priusdemental

ولایتی ژبی مقوله په حقیقت کی بدلیږی

موږ افغانان لیونیان شوی یو د تباهی او بربادی په لور روان یو. دغه دپلرو نو او نیکو نو وطن چی موږ ته په میراث پاتی شوی دی.
نن دی چی ټوټی ټوټی او دجهان له نقشی ووزی. او س سوال دا دی چی دغه وطن زموږ دپلرو نو میراث او دغه بیګناه انسانان دچا د هوا و هوس په منګولو کی ځیری ځیری او ټوټی ټوټی کیږی.؟
ځواب: د متمدنی نړی د ملی ګټو دهوا وهوس په منګولو کی د جهالت او ناپوهی په منګولو کی، دخود خواهی او جاه طلبی په منګولو کی.
هو اهمد غه متمدنه نړی چی په خوله دانسانیت او بشریت، آزادی او دموکراسی، ورورۍ او برابری نار ی وهی خو په عمل کی دخپلو ملی منافعو شخه یو انچ هم نه تیریږی د ورور وژنی او وینی تویونی جګړه یی په موږ تحمیل کړی ده، دوی زموږ شخه پروالړ یدوی باید خپلی مسالی او خپل منافع زموږ په وینو تامین کړی!!
دلته دنبا غلی ډاکتر نجیب الله دو ینا هغه خبره راپه یاد شوه چی د میر بچه کوټ، قره باغ، شکر دری، ستالف او کلکانو خلکو ته یی کوله: ځینو موږ ته یی راکتو نه راکړل، ځینو هم توپک او توپو نه چی خپل کور ورا نکړو. ددی پر ځای چی اور مړ کړو په اور باندی لرګی او تیل اچوو. که یو کور او را خیستی وی نو وایو پر یږ دی، چی دګاونډ کور هم اور واخلی تر ټول افغانستان وسوزی، وروسته به بیا په قبرو نو، هدیرو او اروا حکومت کوو!
دغه دی دمتمدنی نړی زهر لړلی سوغا تو نه چی موږ ته یی په دستر خوا ن ایښی دی او غواړی چی زموږ له دستر خان شخه قربان ګاه جوړه کړی، پاك فطرته او سپیڅلی افغانان په دغه زهر لړلی سوغات قربان کړی.

څه شوه هغه متمدنه نړی چې اور یې بل کړ موږ یې دوروړ و ژړنې په جګړه اخته کړو او س دخیرپه غونډی ناسته ، زموږ دمرګ ژوبلی او ناتار تماشه کوی او دی اور ته مونور هم پسی ورتیله کوی !

چیری دی دمتمدنی نړی هغه لیډران چې نور په ترور محکو مـو ی خو موږ ته دترور و سا یلرالیږی! په ډیر ه و حشتناك ډو ل سـر ه ددولتی او علنی ترور لـــه لار ی بیګناه انسانا ن په عام قتل رسول کیږی !

چیری دی دهغه متمدنی نـړ ی بشر دوستا ن او دبشر ی حقو قـو مدافعا ن تر څو چې ددو ی ملـــی منافع په خطر کی نه وی دبشر ی حقو قو نار ی وهی ، خو کله چې ددو ی ملی منافع دخطر ســـر ه مخا مخ شی په کو چنیو هیواد و باندی دتیری او تجاو ز څخه هـــم ډډه نه کوی :

دشورو ی اتحاد د باند نیو چاروزیر ، د شورو ی اتحاد په عالـی شوراکی په ډاګه اعترا ف وکاوه:«افغانستا ن ته د شوروی اتحـاد د عسکر و لیږل په حقیقت کی دنړی والو نور مو نو او قوانینو څخـــه تیری و، اوهمدا رنګه یی دشوروی اتحاد ددولتی او کو ند ی قوانینو او اجتماعی اخلا قو څخه تیری اوتجاوز وګا ڼه .»

امریکا دعیسو ی کـا ل ۱۹۸۹ کال ددسا مبر په شلمه نیټـــــه دمرکزی امریکی په یوه کو چنـی هیواد پانا مه باند ی دبین الدو ل دحقوقو د رعایت کو لو پرخلا ف په یوه غیر اخلا قی عمل سره پـــه ډاګه تیری وکړ . همدا رنګه پنځه کاله پخوا یی په کو چنی ګر ینا ډا عین عمل سر ته ورساوه . پـــه پانا مه اوګریناډا باند ی تیری د ملګرو ملتو د غړو هیواد و لـــه خوا په کلکه وغندل شو .

آیا امریکا حق لر ی چې په نړی کی دده وکراسی تر پرد ی لا نـدی په دغه پلمه یا هغه پلمه دنړ ی پرهیواد و نو تیری وکړی ؟!

په يوه ورځ کې د دوو تراژيکو پېښو عکس العمل

دډیر تعجب ځای دی چی مستر بوش په پانامه کی د یوی امریکایی میرمنی دتحقیر او یاد یوه امریکایی عسکر دوژلو په پلمه دنړی والو حقوقو ، نورمونو اوموازینو پرخلاف په یوه ناڅاپی او غلچکی یرغل کی د پانامی زرکسه بیګناه او تش لاسی انسانان په قتل رسوی او بیا په نړی کی ددموکراسی او بشری حقوقو ساتونکی او پالونکی هم ځان معرفی کوی؟!

ښایی مستر بوش په دغه خبره نه پوهیده چی بیګانه عسکر ولو که دمرستی په منظورهم کوم هیواد ته لیږل شوی وی دهغه هیواد دخلکو له پاره دخوښی او خوشحالی ارمغان نه شی راوړی ؛ هرومرو دهغه هیواد دخلکو دکرکی او نفرت سره مخامخ کیږی !

رښتیا هم چی دژوند ډیر سخته ترا ژیدی داده چی په ندرت سره دوینا او عمل تر منځ پل جوړیږی . کله کله په ډیر حرارت سره دعالی او شریفو اصولو لار ښوونه کیږی خو له بلی خوا هماغه اصول په ډیر خشن شکل سره منحرف کیږی او تر پښولاندی کیږی .

ډیر وختونه دسولی خبری کیږی خو په عمل کی د جګړی لپاره تیاری نیول کیږی د انسانانو دوینو په قیمت سوله ایزی لاری لټول کیږی ! ډیر وختونه دعدالت دهسکی لاری لارښوونه کوی خو په خپله دبی عدالتی په تیته لارکی قدم وهی .

ډیر وختونه په انتخاباتی حوزو کی خلکو ته وعدی ورکول کیږی خو دانتخاب نه وروسته تولی هغه وعدی تر پښولاندی کیږی !

د مضمون په پای کې دغه لاندې پوښتنې مطرح کوم

۱ـ آیا هغوی چې ځانونه مظلومان بولي او هغه نور ظالمان خو په عمل کې د هغو نورو سره تو پیر نه کیږي !
د ظالم او مظلوم ترمنځ به څنګه تو پیر کیږي !؟

۲ـ هغوی چې پخپله تور ه د بل د جسم څخه روح جلا کوي ځانته څه سزا ټاکي ؟

۳ـ تاسو به هغه اشخاص څنګه محاکمه کوي چې د هغوی عمل د فریب په پردو کې پټ دی او هغه بل خوار د نورو د فریب په جال کې نښتی دی !؟

٤ـ تاسو چې دغه دعوا کوی چې موږ د انصاف په اصولو ډیر ښه پوهیږ و آیا دغه اصول د ځان په برخه کې هم د تطبیق وړ بولی !؟

نیټه ۲ر۵ر۱۳٦۸

یووخت چی د علم رڼا تته وه بشرپه ظلمت او جها لت کی پــــه ناتوا نه ځیره ، دماد ی‌او معنو ی‌پانگی په نشتو الی کی ژو نــد کاوه انسا ن دډیرو خطر نا کــوپیښو سره لاس په گریوا ن و .خو کله چی دبشر یت په آسما ن کی‌دعلم لمر راوخو ت علم دانســا ن مرستی ته ورودانگل دمــاد ی ا ومعنو ی جسمی اورو حی نارا حتیــو څخه انسان وژ غورل شو ؛ انسان‌دخپلو جرا حی آلاتو او معجز وآسا دارو گا نو په واسطه پخپل عمــرخو ور ځی نوری هم ور زیا تــــی کړی . انسا ن پخپل نبو غ ســر ه‌وکولی شو ل چی په ځمکه‌اوهوا کی ډیری اوږد ی فاصلی لنډ ی کړ ی او په‌زمانه تسلط ومومی ، دد ی عصر انسا ن ته دداسی فکر پیــداشو چی علم زما با غچه ده نور علم موږ ته اجازه راکو ی چی په شنو باغو نو ک ی‌استرا حت و کړو . نړی موږ ته په ورین تند ی‌اوخوشحاله ځیره خاند ی . معطر ه او تــا ز ه هوا، نړی الو ابنې دونواو بوټوشني پا ڼی ،غوټی او گلان، دښــت ا و صحرا ، شنه با غو نه اورا غو نه ،شین اسمان ، آسمان ته دنـــگ ختلی غرو نه ، ځلا نده لمـــر ،میاشت او ستور ی ، درنو او بــو چینی او دریا بو نه ، د سا حـــل‌غاړی ، طبیعی منا ظر او ښکلـــی ځنگلو نه او داسی نور ډیر ستــرنعمتو نه زموږ په‌خدمت لی دی .

علم زموږ روح ژوندی کوی نور به دهیڅ شی څخه نه ډاریږو. ځکه دعلم الهه زموږ سره ده. علم ټول خطر ونه رفع کړی دی. او موږ ته یی آرامتیا رابښلی ده.

په ټولنیز نظام کی دسیالو هیوادونو تر منځ علمی ژوری ځیړنی پیل شوی په اکتشافاتو او اختراعاتو لاس پوری شو. په دغه نړی کی یو دبل نه دوړاندی کیدو مبارزه پیل شوه په نړی کی علم او حکمت داوج نقطی ته ورسید ل بالاخره دعلم زیادومره توده شوه چی د یونسل په اوږد وکی په دوو نړی والو جگړو کی، په دغه تودوخه په میلیونو انسانان ستی شول، دنړی ډیر ستر او متمدن ښارونه دخاورو او ایرو سره برابر شول. آیا د تعجب ځای نه دی چی انسان په علم سره متواضع نه شو! برعکس دغرور، خود خواهی او برتری حساس ورته پیداشو، دخپلو تباه کوونکو اعمالو څخه پښیمانه نه شو بلکی خپلو تسلیحاتی سالیو ته یی لاپسی دوام ورکړ، په اټومی او هستوی آزموینویی ټوله فضا په مسمومونکو غازاتو او رادیو اکتیوزراتو ککړه کړه، داټوم او نایتروجن بمونه اختراع شول، مکروبی وسلی خوشه یی او ساچمه یی بمونه، ډول ډول توغندی اوراکټونه او داسی نوری خطرناکی او تباه کوونکی وسلی جوړی شوی. په داسی عصر کی چی انسان په اټمی او هسته یی بمونو اکتفا نه کوی، په لاربښوونکو توغندیو او فضایی بیړیو دآسمان ذره خیری کړی حتی په داهم اکتفا نه کوی دستورو جگړی ته هم لاس اچوی هیڅوك ادعا نه شی کولی چی په جگړه کی به میدان څوك گټی. خوددی سره سره هم انسان دخپلی عصبی خود خواهی او لیونتوب څخه لاس نه اخلی دخپل هدف دلاس ته راوستو په خاطر دانسان دژوند بلی اومرگ په لوری دانکی، سوله او نیمرغی په ورانی او بربادی اودانسان په مرگ کی لټوی. دهمدی هدف دلاس ته راوستو په خاطر کله کله داسی جنایاتو ته هم لاس اچوی چی ژبه یی دویلو، غوږونه یی داوریدلو او سترگی د لیدلو

طاقت په ځان کی نه لری. و گوری انسان په تیره بیا د متمد نی نړی انسان دخپلو تنگ نظرا نـــه منافعو په خاطر دانسان دښمنیو کار کو می نقطی ته رسو لی دی !

هو ! هغه انسان چی ځـــان دمتمدنی نړی وارث او ژغورو نکی بولی ، د انسان د و ستـــــی او بشر دو ستـــی ، آزادی او دموکراسی ، ورو ری او برابری دعوا لری او هره ورځ دتـــر ور وحشت اود هشت پر ضد دمکر اوفر یب آواز را پورته کـــوی خو ددی ټولو فجا یعو عمده عا ملهم پخپله دغه دمتمد نی نـــړی انسان دی.

پر ون ددو شنبه ورځ کـــال ۱۳٦۸ داسد نهمه او دجو لای په (۳۱) نیټه دځمکی پر مخ دوه زره بو کنوو نکی ترا ژیکی پیښی منځ ته راغلی .

یوه تراژ یکه پیښه په لبنـان کی منځ ته را غله داسی چی پـه حزب الله پو ری مر بوط دجهـــان دمظلومانو د غرر ځنگ د ډ لـــی مشر شیخ عبدا لکر یم عبیـــــدداسرا یلی دولت دنظا می قوماندوگانو له خوا دده له کوره و تښتـــو ل شو. دمظلو ما نو غور ځنـــگ اسرا ئیلو ته التیما ټوم ورکـــړ که چیری عبید په دو مره تا کلی موده کی خلاص نه شی نو په بدل کی به یی دملگرو ملتو امر یکایی افسر ویلیام هیگنز ، چی پخـــوا ددوی له خوایر غمل نیول شـــوی و په اعدام محکوم کړی . اسرائیلو دمظلو ما نو دغور ځنگ التیماټوم او ضرب الا جل ته اعتنا ونه کـــړه دغه بدمرغه انسان د اسر ا یلـــی قو ماندو گا نو دنا وړه عمل پـــه نتیجه کی دحزب الله له خـــوا قر با نی او په اعدام محکوم شو .

په عین ورځ دکا بل په ښارکی هم ډیره تراژ یکه او خوا شینوونکی پیښه منځ ته را غله دا ســـی چی دکا بل دښار واړه ما شو ما ن

ښځی ځوا نان او سپین ږیری پـه هغه را کتو نو باندی په عام قتل ورسول شول چی پاکستان تـــه امـــر یکا د سو ند د مـــوادو په توګه برا بر کـــړ ی وو اودمجا هد ینوله خوا په کار واچول شول . ددغو راکټونو څخه یوراکټ دابن سینا په ر و غتـــــو ن ولګید لو دد وو پخوا نیو ور ځـوهغه قر با نیان او ټپیان یی هــم ووژل ، چی دهمد غه ما شین پـه څر خید لو سره په رو غتون کـــی بستری شوی وو . پیښبه دو مـره تراژ یکه ، بو کنو ونکـی او زړه دردوو نکی وه چی دقلم په ژبـه یی بیان ډیر مشکل کار دی.

په امر یکا کی دامر یکا یی‌افسرپه مرګ (کا شکی هغه هم نه‌وای وژل شوی) مستر بوش ،دبـــوش‌اداره او دکا نګرس غړی دو مـر ه په غصه ووچی دغه پیښبه یـــــی‌دوحشیا نه او جنا یت کار انه عمل په توګه وغندله ، د بشـــــــــــردحقو قو داعلا میی او نور مو نوپه خلاف یی‌وبلله . دتعجب خبره خولاداده چی دکا نګرس غړو دبـــوش داداری څخه دفوری عکس العمـــلغو ښتنه کو له په دی معنا چـــی په لبنان کی دی دحزب الله پـه ځا یو نو باندی‌چټک عملیات سرته ورسیږی له دی سره ښایی پـــه سلګو نو نور بی ګناه انسا نان‌هم په قتل رسول شوی وای. خو پـه افغا نستان‌کی ددغی زړه دردوونکی پیښبی په عمل با ندی دلو ید یځی نړی دسیاست‌مدارانو اوبشردوستانو په تیر ه بیا د امر یکـــا یا نـــوغـــــړ را پرر ته نه شو ، تـــول چو په خو له پا تی شول داسی‌ته‌وا، دلته هیڅ واقعه نه ده پیښبه شوی . دمستر بوش زړه په دغه پیښبه با ندی باغ با غ کید لـــو. ښا یی دغه پیښبه دده له پــــا ره‌دتسلیت ما یه وی چی فـــو ری عکس العمل یی و نه ښودلو .

امر یکا ، بی له دی چی ددغـو بیګناه انسا نانو په مرګ تاء ثـر ښکار ه‌کړی . دامر یکا غږ رادیوپه‌ډیر آبو تاب سره خبر خپور کـړ:

سیاسی اخلاقی شجاعت

ټن مجاهدینو دکابل دښار په مزدحمو ځایونو باندی «نظام مرګ تاء سیسا تو ته نږدی » راکتونه ورول شپیته کسه مړه او د سلو شخه زیات ټپیان شول .خو دروغتون دهغو دیوالونو په رنګید لو یی ډیر زیات تاء ثر ښکاره کړ ، کوم چی کوم وخت دا مریکاد مرستو په لګښت تر میم شوی وو. دغه دی دا مریکاد متمد نی نړی د بشری حقوو د انصاف غو ښتنو نکو مهر بانه زړه او عدالت ! !

دغه دی دوجدان حکم چی مستر بوش یی دانسان دوستی او بشردوستی په نوم پای ته رسوی !!

سه شنبه داسد لسمه نیټه – ۱۳۶۸ کال داکا ډ یی دکارلو ته

«ستر بحرا نو نه ستر او زړور شخصیتو نه منځ ته راوړی»

وا یی چی ستر بحرا نو نه، ستر او زړ ور شخصیتو نه منځ ته را وړی. ستر شخصیتو نه هغه څوك نه دی چی گو ندی دقدرت په څو کی نا ست وی او ستر مشا غل یی اشغال کړی وی. دستر و شخصیتو نو دعنو ان استحقاق هغه چا ته ور کول کیدا ی شی چی دخاصو فضایلوخاو ندان وی. یو له هغو فضا یلو څخه «شجا عت» دی. شجا عت دانسان په فضا یلو کی ډیر ستر فضیلت دی. شجاعت هغه ارا ده ده چی نه تسلیمیږی. په هر شی با ندی چی دانسان ښیگنی په خطر کی اچوی غلبه مو می. شجا عت دانسان دشخصیت نما ینده دی. هغوی چی شجا عت نه لری دسترو او زړ وروشخصیتو نو نوم ځا نته نه شی گټلی.

زړوران چی دهغوی سره جو خت اخلا قی او معنوی شجا عت ملگر ی وی د اخلاقی او معنوی لوړی ر وحیی په درلود لو سره هیڅ کله ډار ته نه تسلیمیږ ی، دوجدانی او از سره دمخا مخ کیدو په صورت کی دوظیفوی حکمو نو په پیر وی ډیری سختی او پیچلی لاری دسالم او معقول تفکر به میچ کولو سره، لنډوی دوی دخپلو شخصی گټو څخه په صر ف نظر کو لو سره دخلکو دسعا دت او نیمگړ غی لپاره اودوطن دآبادی لپاره په میړنتو باو زړور تو ب ترهغه وخته پو ری

دبشر یت ددښمنا نو په مقا بل کې مبا رزه کوي تر څو دوطن بیــرې په سمه لار رهبري کړي او لــه دوبیدو څخه یې وژغوري .

ار نستهمینګــو ی ، سیا سي ـ اخلاقي شجا عت ته « دفشار لاندې وقار» نوم ور کړی دی. په دې معنا چې د سیا سي ـ اخلا قي شجا عــت څښتنان په خپلو اصو لو او معتقداتو دو مره سخت معتقد وي چې هر ډول سیا سي فشار ددو ی وقــا رته صد مه نه شي رسو لی ؛ دخپلو اخلاقي اصو لو څخه یې نه شـــي منحر ف کو لــــی . ددو ی مبا رزه دغریبانو او بې وزلو له پاره د ترحم په غرض نه ده، بلکې په تو لــو وختو نو کې داصو لو تابـــع دی.ددوی دپاره ډیر مهم اصل عدا لت قانو نیت او مشروعیت دی. که په دغه لار کې سر هم بایلي ددوی د پـاره ابدي ویاړ او افتخار دی.

سیا سي ـ اخلا قي شجا عــت در ښتیا ، تعمق ، جد یت ،وجدان، اصو لیت او مسئو لانه تعمیم سره اړ یکې لري . ددا سي عقیــــدې خاو ندان هیڅ کله خپلو اصو لــو ته دتمسخر او تسا هل په نظر نه ګو ري . داسې کسان هیڅ کله په څو کې ، مو تړ ، مقام او پیســـو ځان نه خر څوي.

دسیا سي ـ اخلا قي شجا عــت لاره دضعف او تـــرس لاره نه ده بلکې په دغه لار کې ټول شیــان دبر یا لیتو ب لپاره په کار اچو ل کیږي.

هغوی چې دفشار لاندې وقـــا رلاره غو ره کړې ده هیڅ کله دخپلو شخصي ګټو دحصو ل لپا ره پـــه لټه کې نه وي . دوی هیڅ کلـــه دخپل نفسي کیفیت د ژو ندي احساس پرخلا ف ،دخپل شعور دحقیقـــــي انعکاس پرخلاف ، دخپل ایما ن ا ووجد ان پر خلاف ،د وخت دبڅې او ورځ چا ري په توګه داقتدار دخـــاوندا نو دخو شحا لو لو په خا طر دحقیقت او واقعیت څخه نه تیریږي. په هر ځای کې چې دحقیقت ســـره

مخا مخ شي اطاعت يي فرض گڼي. دوی په پټو سترګو او بی دلیله هیڅ شی نه مني . لو مړی تـــول شیان په ژوره توګه درك کوی اوبیا دخپل درك پر اساس فیصله کوی . دوی قضا یا وی دوجدا ن محکمی ته سپاری . وجدان يـــی لار ښوداو بی طرفه قاضی وی. دوی تل دحقیقت پلوی کوی کـــه دحق او حقیقت په ویلو سره ضرر هم ور ته ور سیږی غوره یی بولی نسبت دی ته چی دیوه مطلب پټولو سره حق او حقیقت ته ضرر ورسوی.

دوی عیاش نه دی په ډیـــروخو ندو نږاو لذ تونو پسی نګرځی. هغه خو ند او لذت چی دوجدان په سپیځلتیا کی وینی په بل هیڅ شی کی یی نه شی لید لی .په خپـل ژوند کی دانسان دوستی څخه بل ار مان او بل هدف نه لری .دغـه باو جدا نه او دسترو اخلا قـــو ښتنان دغره په شان دی هر څو مره چی سړی هغوی تـــه نږ دی کیږ ی دهغو ی عظمت او لوی والی څر ګند یږی .دوی هغه کسان دی چی د ټږ لوفشار ونو،دټږ لوخندونو دټږ لوخطرو نو او شخصی زیانو نو سره سره په خپلو وجدانی وظایفوعمل کوی او سر ته یی رســوی .دوی دخلکو دآرا می او هو سا یی پـه خاطر یوه شیبه هم آرامه نه کینی. ددوی دپاره راحت اومړینه د وا ړه یوشی دی.دوی تل په نورو احسا ن کوی ؛ دنورو لپاره کار کول خپله مقد سه وظیفه ګڼی . دوی انسانان دیوی ختی او خمیری له اصلـــه په پیدایښت کی یو جوهر ګـــڼی . دوی پخپله شاو خوا کی ظلـم،ستم او ما تم نه شی زغملی دو ی په حقیقی نیمګر غی هغه وخـــتایمان لری چی وینی ښځبو نکــــی ظا لمان یی په شاو خوا کی وجودونه لری .

ربنتیا هم چی ربنتینی شرا فت او عظمت په هغه چا پوری تعلـــق لری چی د بشردرنځو نو ، کړا وونو او تکلیفو نودکمولو لپاره یی خدمت کړی وی : دکینی ، حسد، بدبینی ،نفرت ، حر ص، شهوت ،ځانمننی، ځان ستا ینی ، غر ور ،غند نـــی، چغلی ، قهر ، او غضب احساس یی

په ځان کی وژلی وی . دفقـــر ، بیماری ، غم ، خپگان ، ویری اودار دمخو کیدو قوت یی په ځان کـــی مو ندلی وی.

په تاء سفسره باید وو یـــل‌شی چی اوس‌دلته دسیا سی‌اخلاقی مجا عت فضا یل ډیر کمـــز وری‌ښکا ری : رو حی ستو نزو ، فکری تشو شاتو، انفرادیت، بیگا نگـــی‌تکبر او خود خوا هی ، نفـــاق او جدایی، ځان ستاینی او ځان ځا نـــی‌په تو لو شیا نو تور څادر غوړولی دی. دقهر او هیجان په اور کـــی‌خلك سو زی .دغم او خو ښـــی احساس بیخی له منځه تلــــــی‌دی، انسان دمړ ژو ندی حا لت په؛ خپو کی او بوپه سر اخیستی دی.یو انسان دبل انسان دتو هینو لو او تحقیرو لو څخه خو ند اخلی .خلك ددروا غو، فر یب ، اغفـــان تهد ید ، تخو یف ، تطمیع اوتوطیی‌په جال کی نښلی . یو انسان دبل انسان څخه په ویره او ډار کـــی‌ژوند کوی.متقا بل اعتماد اودوستی خپله لاره ور که کړی ده، یو بـــل‌ته دکر کی او نفرت په نظـــر گو ری . دخود خواهی او جاه طلبی‌په نه تسکینید و نکوعقدوخلـــك قر با نیږی. هغه څه چی خلکوته‌ویل کیږی ؛ خلك دهغی په مقابل کی‌بی اعتنا دی دتشو خبـــر و اوشعار و نو د اشکالو څخه یی‌بل څه نه بو لی. ځکه خلك اوس پوهیږی‌چی خبری‌دعمل په نتا یجو اوزمویل کیږی‌اوبیاد ژوند سره‌نږدی اړیکی‌پیدا کوی .ډیر ځلی لیدل‌شو ی‌دی چی‌دسا لم وجد ان او ښو اخلا قـــوسیا ست مدا ران دیو شمیر زرنگو او فریبکا رو سیا ست مدارا نوپه نسبت دبر یا لیتوب لاره وهلی‌ده او منزل مقصود ته رسیدلی دی .

الانو نیز دکولمبیا د یوهنتـــون‌پوها ند لیکی: «دواشنگتن دښـــو اخلاقو، نه دپو هی او ذکا وت له کبله و چی موږ وکو لی شول پـــه؛ انقلا بی مبا رزه کی مطلو بوهدفو نو ته ورسیږو.»

همدا رنگه دغه پوها ند لیکی :« دلینکلن اخلا قی مو هبتو نـــه؛ ووچی په داخلی جګړو کی زمـــوږ یو والی په نصیبشو .»

جان افکنیدی لیکی : « په کنګره ه نبایی ځینې بد کاره سناتو ر ا ن
تفوق پیدا کړی او دامر یکـــــاسیا ست تر خپل نفوذ لاندی راولی
خو د امریکا د خلکو د اخلاقی قو ت له کبله دغه دول سیاست مـد ا ران
مو قتی او ګذ ری دی.»

رښتیا هم چی مشکله ده دهر ی رهبری په تو لو کادرو نو با ندی
اعتماد وشی . ځکـــه چی په هر ه رهبری کی ځینې کسان ، کم ورہ،
علیل الفکره او د تیا کلی مقام لپاره نا منا سب وی. ځینې عوام فر یبه ،
ځینې هم دطبقا تی تعصبا تو اوخواهشا تو په لو مه کی ښکیل شوی
وی ؛ ځان دبشر یت څخه ما فو ق ګڼی او په خلکو دبت په شـــا ن
تحملیږی.

هو ! هغوی چی دبشری صفتونو او علتو نو څخه ځان مافوق ګڼـی
هغوی چی ضعیف النفسه او کمـزوری دماغ لری. هغوی چی دکبر او
غرور په نیشه کی مست شوی دی او په دغه نیشه کی خپل عقـــل
او پو هه دلاسه ور کړی دی دژوند د سمندر په ناپایه څپو کی لاهـــو
شوی او زوال یی مو ندلی دی.

خو (هغوی چی دپت او عـــزت ژوند په بی کبری او توا ضع کـــی
لټولی دی. هغوی چی دخلکو پـــه رو حیا تو پو هیدلی دی، دخلکـــو
اخلا قی نور مو نو ، مقد سا تـــو ، عنعنا تو او اجتماعی شئو نا تو ته یی
په درنه سترګه کتلی دی. هغوی چی دهر قدم دپور ته کو لو لپــاره
محا سبه کړی ده دګړ نګ لرونکو غرو نو په ختلو کی یی لو مـړی
قدم په احتیاط ایښی دی. هغـو ی چی دقد رت په وخت کی په سړه
سینه کار کړی دی : په د یــــرمشکل ، کړ کیچن او سخـــــت
حا لت کی احسا سا تو ته نه د ی تسلیم شوی دعقل او پو هی پـــه
لار ښوو نه یی خپل عقل او پو هه دچارو په جر یان با ندی حا ـــم
ګرزو لی دی.

هغوی چی هیشه وفا دار، مهربا نه متحمل او صمیمی پا تی هوی دی. هغوی چی داو ضا عو، شرایط، مقتضیا تو، ایجا با تو او غوښتو په نظر کی ییو لو سره وینادعمل اوعمل دوینا سره بر ابر کړی دی.

هغوی چی قوی اراده استقا مت او ثبات دلا سه نه دی ورکړی، بی له انحرا فه یی دخپلی کړنلاری اسا سی اصول او معتقدا ت تعقیب کړی او خپل هد فته درسید و په لاره کی یی وروستی هڅی ته دوام ورکړی دی. هغوی چی دخلکو زړو نو ته ورننو تلی دی او دخلکو په زړو نو کی یی ځای نیولی دی. هغو ی چی دخلکو په روا نی خصو صیاتو او تمایلاتو پوهید لی دی د صحبت په وخت کی دمقابل لوری رو حیه، عقیده او دفکر طرز په نظر کی نیولی دی. هغوی چی دقوی انظباط او دسپلین تر څنګ د مهر با نی او ښښنی څخه کار اخیستی دی. هغوی چی په اداب او سلوك کی تندی او تر خی خبری، تو هین او تحقیر، قهرجنه اوخشنه وضعه، تند مزاجی او بی اعتنا یی نه ده ښودلی دوی د بر یا لیتوب لا روهلی او دمقصد منزل ته رسید لی دی.

زه به اوس دامریکا دجمهوررئیس جا نسون دمحا کمی په رابطه کی دکا نزاس د ایالت سنا تور اودمو ندراس دسیا سی اخلا قی شجا عت لنډه خوږیره په زړه پو ری قصه دنمو نی په تو ګه بیان کړم:

په ۱۸۶۸ عیسو ی کال کی دامر یکا جمهور رئیس جا نسو ن د استا نتول ددفاع و زیر دسناله تصو یب پر ته، له چو کی څخه لری کړ. دجمهور یت غوښتونکو په لمسون دجمهور رئیس په مقابل کی عا مه افکار را وپار یدل، په دی معنا چی جمهور رئیس نه شی کولی پخپل دیکتا تور مآ با نه عمل سره بی دسنا له اجا زی ددفاع وزیر موقوف کړی.

په هغه وخت کی جمهور رئیس‌دټو لوایا لاتو سره مسا ویا نه او دمو کراتیك چلند در لود . جمهو ، یت‌غوښتونکو متعصبینو نه‌غوښتل چی دجنو بی ایالاتو سره مساویانه اودمو کراتیك چلند وشی . دوی دجمهور رئیس ددی دول چلندڅخه نا راضه وو. دجا نسون دبـــد ی ور ځی لپاره غلی په کمین کـــی‌ناست ووتر څو چی د دفاع و ز یـر دمو قو فی پرابلم را پور ته شو . جمهوریت غو ښتو نکو ته پلمه پیدا شوه چی جمهور رئیس محا کمـــه اوله پښو وغور ځوی.

د جانسون د محکمی لپـاره (۳٦) موافقی رایی پکار وی . په هغـــه وخت کی دجنوبی ایا لاتو څوایا لته په اتحاد کی نه وشامل ، نورو(۲۷) ایالاتو (٥٤) رایی در لو دی.دقانون‌سره سم دنوموړی شمیردوه ثلثورایو کفایت کاوه چی جانسون یی لـــه حکومت څخه گوښه کړی وای .پدغه شمیر کی ددمو کرا تانو (۱۲)رایـــی‌دجـانسون پـــه گټه وی د (٤۲) جمهوریو غوښتو نکو سنا تورا نوله ډلی څخه (٦) کسوپه صراحت سره ویلی و چی دجانسون د اتهام‌لپاره کافی دلایل نشته ، دده پر ضدبـه رایی ورنکړی . دجمهوریت غوښتو نکو (۳٦) سناتورا نو څخه فقط (یـوه) سناتور ادمو ندراس خپله را یه پټه‌ساتلی وه . آدمو ندراس دکانزاس د ایالت ځوان سناتو و او دده مـــو کلین د جانسون سره سخت مخا لف و. هیڅا داسی تصو رنشو کولای‌چی گو ندی ادمو ندرا س به د خپلــــو مو کلینو په مخالف قطب کی‌ودریږی‌اود جان سون په گټه به را یـــه څرگنده‌کړی .

متعصیبو جمهوریت غوښتو نکوډیره هڅه کوله چی‌دراس رایه دځان‌په گټه استعمال کړی . داځکه چی دجانسون سرنوشت فقط په همدغه یـــو ه رایه پوری تړلی و .

یوه ورځ سناتور راس‌درود ایلند‌سنا تور « اسپراك »ته‌ویلـی و ، له دی سره سره چی زه جمهوریت‌غوښتونکی یم د جانسون سیاست دی نه خوښیږی خوپه دغه محا کمه کی‌به زه د بشپړبی طرفی او عدالـت څخه تیر نه شم . د راس ، دغه خبره‌په هر ځای کی د خلکو په خولو کـی ولو یدله ، جمهوریت غو ښتو نکو اود ده دایالت دموءکلینو سره‌یی‌سخت تشویش پیدا کړ .

جمهوریت غوښتونکو له فشار ،تهدیدار غاب ښخه نیولی تر رشوت ورکړو نو پوری دریغ ونه کړ، ترڅو د ر اس رایه دځان په ګټه استعمال کړی. دی دو مره سخت تر فشار لاند ی راغی چی نیویارك تربیون ولیکل : « راس اوس دیوی داسی ګید ړ ی سره شباهت پیدا کړی دی چی ددوو ډلوښکاریانو ایثار ه شو ی وی کله یی دی خواته او کله یی هغی خو ا ته څغلوی . »

دی دمو کلینو او همکا رانوله خواهمیشه تعفیبیده که وکولای شی دده په نظر پوه شی زور نالستان به هم هره ورځ دده په شاوخوا راټولیدل. خو راس ، په ډیر احتیاط او زرنګی سره و کولی شول چی خپله را یه پټه وساتی .راس چی له یوی خواپه سناکی دسیاسی مبارزی ز یا ته تجربه نه درلوده اوله بلی خو ابی بضاعته سړی وټولو خلکو ګما ن کاوه چی دی به په ډالرو خرڅ شی. جمهـــــو ر یت غو ښتو نکـو دده ورور ته شل زره ډالر د رشو ت په توګه ورو لیږل که وکو لـــی شی چی اقلا د را س په نظر پو ه شی .خو دده ورور هغه ډالر ر د کړل . هغه چاچی ده ته دغه ډالرراوړ ی و چیغه یی کړه ، شـــل زره ډالر ډیری پیسی دی نـــــه پوهیږم دغه بی بضا عته لعنتـــی انسا ن څو مره پیسی غواړی !

سبا ته چی د جانسو ن د محکـومیت جلسه دایر ید له په دغـــه شپه سنا تور را س ته دخپـــل ایالت دمو کلینو څخه دغه تلګراف را ورسید لو :

«دکانزا س ملت د قطعی دلا یلو څخه خبر دی فقط د جمهور رئیـس محکو میت غواړی . »

(دکانزا س دایا لت دزر ګو نـو کسولاس لیك)

په هما غه ور ځ سهار چـــــی جلسه د ایرید له ده د خپلـــــــو مو کلینو په ځواب کی داسی ولیکل « دوجدان آزادی یو ډول مو هبـــت دی ؛ ټول انسا نان با ید دهغــــی څخه بر خه من وی . زه هیچا ته حق نه ورکو م چی زما څخــــــه وغواړی دچاپر ضد او یا د چاپــه پلوی رایه ور کړم . ما قســـــــم خوړلی دی چی دخپل هیواد دعا لیه مصالحو په نظر کی نیولو سره به د آزادی په چو کا ټ کی دننــــــه دقانون سره سم په بشپړ بیطر فـی او عدالت دخپل و جدا ن په حکـم قضاو ت کوم او خپله را یه بـه ښرګند ه کړم » .

(دراس لاسلیك)

په هماغه ورځ هم دده شا وخوا جاسوانو نیولی وه. دراې څرنند ولو څخه لس دقیقې دمخه دکانزاس یوبل سنا تور وویل:
«خدای مکړه کهدی د جمهور رئیس دتبر یه کو لو په پلوی رایه ور کړی باید دخپل سیاسی کار یو فاتحه واخلی.»

دقضا او قدر لحظی راو رسیدی دتیښتی اوتر دید لاره ور کـه شوه. د جلسی ددخول لپاره په ټکټونو باندی سرونه مات شوی و. د سنا د تالار تولی چوکی ډکی وی. بی له استثنا ټول سناتورا ن حاضر وو. دهیواددعالی دیوا ن رئیس اعلان وکړ چی دټولو وطن دارانواو خارجیانوڅخه هیله کوم چی خاص نظم او سکوت مراعات کړی. په ټول تالار کی چوپه چوپتیا شوه. د هیجان لحظی راور سیدی پـه رای اخیستلو پیل وشو. تر څو

راس ته نو بت را ورسیده (۲۵) کسو سنا تورانو د جمهور رئیس دمحکومیت په جرم رایی ورکړی‌وی. لس کسه نور هم معلوم ووچی دجمهور رئیس‌په محکومیدلو رایه ور کوی. یوه رایـه لازمه وه چی (۳٦) رایی او یا دوه ثلثه یی پوره کړی وای. جمهور رئیس محکوم او معزول کنـل شوی وای، هغه درا س رایـه وه. په دغه لحظه کی هم هیڅوك دده په نظر نه پوهیدل. پـه دغه حساسه لحظه کی د هیوا ددعالی دیوا ن رئیس ونه کـړای شول خپل هیجا ن پټ وساتی په ډیر تند آوا ز سره یی وویل:
«ښاغلی راس! ستا را یه څه ده؟ آیا ستا په نظر جانسون مجرم دی او که بی تقصیره؟»

په دغه هیجانی لحظه کی‌دټولوسناتورا نو سیلوی (ساوی) په سینه‌کی بندی شوی. ټو لغوږونه دځوا ن سناتور را س په لـور بو ځکی شول. خپله راس وا یـی‌چی په دغه لحظه کی زمادلیدلو او اوریدلو قوه څو چنده شـوه‌ټول حاضر ین می په نظر کـی مجسم شول په ډیر رسا، څر گند، قطعی او مصمم آواز سره می وویل بی تقصیره!

په دغه لحظه کی هغه څه چی‌نه وای شوی وشول او ټـول خلك حیرا ن پاتی شول. دهیوا ددعالی دیوا ن رئیس فورا خپلـه پریکړه داسی اعلان کـړه: (۳۵) سناتورانو د جمهور رئیس پـه محکومیت، نو لسو کسو د جمهوررئیس په برائت رایی څر گندکړی (۳٦) یا دوه ثلثه رایی نه پوره کیږی بناً جمهور رئیس تبر یـه گڼل کیږی.

وایی چی دد ماجرا نه و روسته میر من راس ښاغلی راس ته وویل : داد ی څه وکړل ! تا خو خپل سیاسی کار په اور کی وسوز اوه . ده په ځواب کی وویل : «ښا یی نن پر ما میلیو نو نه کسان لعنت ووایی ، خو زه ایمان لرم چی سبا ته به تقدیر شم . ځکه ما خپل هیواد دهغه ستر خطر څخه و ژغوره کوم چی ورسره مخا مخ شوی و. خو بی له خدا یه هیڅوك نه پو هیږی چی دغه عمل تر کو می اندازی پوری ماته گران تمام شو . »

هو ادا یو واقعیت دی چی دسیاسی ـ اخلاقی شجاعت په لاره کی کله کله ځینی سیاسی رجال په رښتیا او پا کمنی کی دو مره سخت او متعصبو ی چی د خپلی منطقی سخت گیری اونجا بت له کبله د ناکا میو سره مخا مخ کیږی .

جان کو ینسی آدا مس، د امر یکا ډیر برجسته سیاستمدار، دیپلومات، سنا تور او جمهور رئیس په خپلو یاد داشتو نو کی لیکلی دی : « زه په خپل ځان کی دسیاسی مبارز ی سره مینه لرم ...خو په دغه هیواد کی سیا ست مدا ر دگو ند خادم دی . په داسی حال کی په رښتیا سره هغه څه چی زه یی غواړم عاجز یم . زه باید دټولو خلکو او هیواد خادم وم ، نه دیو ی ټاکلی ډلی اوگو ند خادم. »

همدا رنگه دی لیکی : « زموږ هیواد په گو ندی اطا عت کی داسی غرق شوی دی که د یو هیابل گو ند څخه په ړند وستر گو اطاعت و نه شی ډیره ستره گناه گڼل کیږی . ددغو دواړ و لار و تر منځ زما په نظر غیر ممکنه ښکار ی چی و به کولی شم په بشپړه تو گه دخپل وجدان په حکم عمل و کړم او هغه ښه نوم چی تر اوسه پو ری می گټلی د ی په دغه لار کی دلاسه ورنه کړم. خو ما تصمیم نیولی د ی چی له اصو لو څخه نه تیریږم که چیر ی په بشپړه تو گه دخپل هیوادرضا یت حا صل نه کړم

په زړه کې خو به خو شحا له وم چې لږ تر لږه خو مې دخپل و جدان او عقل په حکم عمل کړی دی . »

جان کو ینسی دسیاسی ـ اخلاقی شجاعت دلوړ ی رو حیې په پیروی دګو ند تړولو فشار و نو ته تر اخیره پورې تسلیم نه شو .

دا څو مره په زړه پورې دقیقې او پر ځای خبرې دي چې هوښیارانو کړی دی : ـ حکو مت د بشریت د عقل طرحه ده دا د دې لپاره چې دخلکو غو ښتنې تا مین کړي . »

« حکومت امانت دی هغه کسان چې په نورو حکومت کوي اما نت ساتو نکي دي اما امانت او اما نت ساتونکي دواړه دخلکو دګټې و دساتلو لپاره خلق شوي دي . » رښتیا هم چې په نړۍ کې دا سې سیاست مدارا ن تیر شوي دي چې دخلکو دغو ښتنو دتا مین په خا طر یې خپل امانت (دخلکو اعتماد) په ډیر صدا قت سره ساتلی دی . د خپل هیواد او ملی مصالحو په خاطر یې دګو ند څخه فا صله اختیار کړې ده ، دخپلې تړ لنې دخیر په لارکې خپلو شخصي اصولو ته وفا دار پاتې شوي دي ، دخپلو شخصي ګټو په نسبت یې دخلکو او وطن ګټې غوره ګڼلې دي . خو دد ی حقیقت منل ډیر مشکل کار دی چې یو څوک د ی دخپلو شخصي ګټو څخه په صرف نظر کولو سره په بشپړه تو ګه دخلکو او وطن ګټې غوره ګڼلې د ی . دلته سوال پیدا کیږ ي چې کومه محرکه قوه موجوده ده چې دخپلو شخصي ګټو څخه په صرف نظر کولو سره دو مره ستر ی فدا کار ی ته غاړه ږدي ؟ فکر کوم چې د پوښتنې ځواب ساده دی . دغه فدا کار ی دد ی لغاره نه ده چې ګرندی د ځان په نسبت دنورو خلکو سره زیاته مینه لرل دي . دلته یو علت موجود دی هغه دا چې ځینې کسان دځو کیو ، مقام او داسې نورومادي ګټو په نسبت دځا ن معنو ی حیثیت ته په زیا ت احترام قا یل دي. د دوی په عقیده بنایی داسې ور ځ اور سیږ ی چې حقا یق به ښکاره شي خلک به وپو هیږي چې د و ی حق په جانب وو . د غسې کسان

چې ځانو نه دعالي اخلا قواواصولومظهر گڼي او که دا واقعیت ولري په رښتیا سره دو ی دسیا سي اخلاقي شجا عت ډیر ستر قهرمانان دي . دخلکو او ملت دعالي مصالحوپه لاره کې مو قتي محبو بیتو نو او شخصي گټو ته ار ز ښت نه ورکوي .

بنا یې دځینو په نظر دد غه ډول زړ و رو او اخلا قي اصو لو سیاست مدارانو لاره چې دو ی په روان دي سمه نه و ی خو دمسالي سموالي او نه سموالي په عا مه قضاوت پورې چې دټولو قضاوتونو چا ن گنګل کیږي ، اړه لري .جیفرنس‌لیکي : «ډیر کم وا قع کیږي چې عا مه افکار او عقا یددي په ناپو هي او بد نیتي‌بر یګړه وکړي . هغه څوك چې د عامو خلکودافکار و اوعقاید و پرخلاف نظر لري باید خپله رایه او نظر له‌سره وازمو یې . » دخلکوغوښتني تما یلات دیوې مسالي دسموا لي‌او نه سموالي لپاره معیار گڼل کیدای شي . دچارو د ښه وا لي‌او بد والي دپر تله کو لو لپا ر ه دټاکلیو معیار و نو په اسا س‌قضاو ت کیږي .

قضاو ت هم باید دحواد ثـو دمنطق سره سمو ن و لري . دقضاوت معیار دهر اړ خیزي‌ارزیابي‌پر اسا س دخلکو په عمل کیږ ي. په دې معنا چې پلانی سړی څه کول دکو م شي لپاره په لټه کې و او څه یې غوښتل .مو ږ دعمل‌په واسطه دشیا نو او حواد ثو په ماهیت او حقیقت‌پوهیدای شو.

تاسو و گور ی چې دتا ریخ پـه پاڼو کې ډیر نو مو نه ثبت شو ي دي خو ټو ل دو ی ستـــــراو با عظمته اشخا ص نـه وو . تاریخ دداسي کسانو نو مو نه هم‌په یاد لري چې د ټـولنیز و او پر گنیز و گټو پر ضد را ولاړشوي‌دي ، هغه یې کړي ده چې دخپلـو شخصي او طبقا تي منافعو په خاطر دخپل شخصي قدر ت دلاس تـه راوستلو په خاطر دهر خار جي‌سره‌دخپلو خلکو په سر معا مله وکړي .

افغانستان د دوو سترو امپراتوریو
او استعماري قوتونو د جیو پالیتیکس
د قرباني او خیز د تختې په توګه

دیوه بی غیر ته ، بی دیانتـــه او غدار ایجنت په تو گه خپـــل پلارنی وطن نورو ته وسپا ر ئ او دتاریخ څرخ شاته وگرزوی ، دغه ډو ل اشخا ص چی دتو لنیز واوپر گنیزو گټو په ضـــد راولاړ شوی دی دتاریخ دتور مخی انسا ن په توگه دتا ریخ کند ی ته لوید لی دی . په دغه برخه کی لینـــن څه ښه ویلی دی : «تر ټو ړوری چی د سودا و گټو پښه په منـــځ کی وی بور ژواز ی خپل هیـــواد خر څوی او دهر خار جی سره بـــه دخپلو خلکو په سرمعامله وکړی (۱)»

د تاریخ په پاڼو کی د داسی زړوروسیاست مدارا نو نو مو نه هـم ثبت شوی دی چی خپلو اصو لو ته په وفا داری سره نه یوازی دناکامی بلکی د مرگ سره هم مخا مـــخ شوی دی خو د خپلو سر سختـــو مخا لفینو په نسبت یی په تا ریـــخ کی بر جسته او مجلل نوم گټلـــی دی ، تر مرگ و روسته هم فاتح گڼل شوی دی .

په ربنتیا سره ډیر سپیڅلـــی پیاو ړ ی او ویا ړلی کسان هغـــه شوك دی چی خپله ټو له انر ژ ی یی دخلکو په خدمت کی دخلکـــو دسعاد ت لپاره په کار اچو لـــی وی . هغو ی چی تعهد سپار لی دی دحقیقت او عینیت په لار کی بـــه دانسا ن دشر ف څخه دفاع کو ی دډیری ستری از موینی دکړ نگونواو پیچو مو څخه تیر یږی . دو ی هیڅ کله دخپلو ملگرو او راتلـــو نکی نسل هو سا ینه دخپل شخصی ژوند پرهوسایینی نه خر څـــوی .د ټا ن هو سا ینه دنورو پـــه هو سا ینه کی لټو ی . فقط هغـــه کسا ن کولی شی پخپلو تا ریخی رسالتو نوکی او خپلو وظا یفو کی بریالی شی چی دفو ق العاده پرهی، زیاتی انر ژی او شجا عت څښتنا ن وی او خپل ټول نفسانی خوا هشا ت تر خپلی ایدیا لوژی او سپیڅلیـــو سیاسی هد فو نو قربا ن کړی .

---

(۱) افا نا سیف علمی سو سیالیزم دیور ش سرور تر جمـــــه (٤٠٨) مخ ١٣٦٢ کال .

تیری زمانی د عبر تی درسو نــو
تاریخ د بشر یت پرا تیـك دی د
ښخه یی باید زده کړو .

....

هغه وخت چی دهند نیمه و چه دانګر یز انو د استعمار یـو مستعمره وه ، انګر یزا نو ته یـی د«طلا یی مر غی » حیثیت در لود. هیچا ته یی اجازه نه ور کو لـه چی په هند حمله و کړ ی . لـه دریو بحر ی خوا وو ښخه یی پخپلوسیالا نو باند ی دهجو م او تاړا ك لاری تړلی وی ، یواز ی یوه لا رپاتی وه چی دهغه په تړ لـو او بندو لو سره یی کولی شـو ل پخپلو سیالا نو باند ی تړ لــی لاری وتړی ،هغه افغا نستا ن دزمر یا نو هیواد و .

افغا نستان د جیو پو لیتیکـــس له نظر ه داشیا په زړه کی پـه ډیر مهم او حسا س جغرا فیـاو ی موقعیت کی پرو ت دی. انګریزا نو او درو س تزار ی دولت ته یـی خورا اهمیت در لو د . دافغا نستان ښخه ډیر لنډه لار ه دهندو ستا ن نیمی و چی ، منځنی آسیا ، ختیـځ ایران ، سین ځیا ن اولو ید یـــځ ته غزیدلی وه. دعربو اوانګریزا نو ښخه ما سیوا نو رو تړو لــــــوسیالا نو کولی شول چی له همدی لار ی په هند حمله و کړ ی. نـو ځکه انګر یزا نو او دروس تزار ی دولت ، دی هیواد ته ستر گـــی برگی کړی وی او ددو ی تو جه یی ځانته جلب کړی وه .

دانګر یزانو په زړه کی تل دغه ارمان وکه وکو لی شی چـی لـــه یوی خوا دافغا نستان پـــه تسلطسره دهند له نیمی وچی ښخـــه دنړاری رو سیی نفوذ قطع کـړی او لـــه بلـــی خوا د خپـــل پر مختلفو نکی صنعـــــــــت لپا ره نوی بازار و نه ولټو ی .

دروسیی تزاری دولـــت هـــم دانګریزانو په شان دهند د«طلا یی مرغی » خو بو نه لیدل . پتـــر کبیر په (۱۷۲۳) کال کی ایـران ته ما تی ورکړه. په (۱۷۲۵) کال کی مړ شو.

د روسیی تزار ی دولــــــت دشلمی پیړی تر اوایلو پــو ری
دخپلی پر اختیا غو ښتنی پا لیسی ته دوام ور کړ دمنځنی ایشیاځمکی،
دآمو تر غاړو پو ری ونیو لی.

دنو لسمی پیړی په اوا یلو کی په هند با ندی دنا پلیون دحملی
طر حی تزا ری رو سان دلو مړی ځل لپا ره تحر یك کړل.

په (۱۸۰۱) کال کی لو مـړ ی پال جنرال اورلیف ته امر صادرکړ،
چی داور نبرگ، بخا را او خیـو ی له لاری د (۲۲) زرو عسکرو او
(۲٤) تو پو نو په قوت پر هنـد حمله وکړی. دغه جنرال اورنبرگ
ته لانه ور سید لی چی دانگلیس دسفیر (کنت دوپا لهن) په تحریك
پال دپتر وگراد دنظا می افسرانو له خواد خوب په کو ته کی ووژل
شو. دده د مړ ینی سره سم په هندبا ندی دحملی نقشه خنثی شوه.

لو مړی الکسا ندر هم غوښتـلچــــی دغــــه نقشــــه تکر ار
کړ ی دفرا نســـــــــــی اواستریاد امپرا توری د گډو ن په
مرسته یی (۲۵) زره رو ســــــی عسکر په هند با ندی دحملی لپاره
چمتو کړی وو چی داستر آبــاد ،هر ات او کند هار له لاری پــــه
هند حمله وکړی خو څر نگه چی دغسی نقشی پو خوا لی او تینـگ
اسا س نه درلود عملی نه شوه.

دسنه سا روف په قو ل (۱) دهمد غو نقشو په لړ کی دچخاچف
دنظریی پراساس روسانو غو ښتـل چی یوه قول اردو ، استر آباد ته
ولیږی او هر ات تسخیری کـړی. دکندهار لــــه لاری (۳۰) ز ره
عسکر ددیرهٔ اسمعیل خان اولاهورپه لوری مارش کړی اوهندو ستان
تسخیر کـړی. پــــه همـــد ی تر تیب جور لیف هم ددغه دوو ل
نقشو د تطبیق کو لو خو بو نـــه لیدل په دی هیله چی دکا بــــل
له لاری پر هند حمله وکړی. خوددی ټو لو نقشو په طر حه کو لو
سره دحملو یوه هیله تر سره نه شوه.

---

(۱) میر غلام محمد غبار افغـــا نستان در مسیر تاریخ صفحــــــه
(٤۹٦).

ددی لندی مقد می شخه مطلب داوچی تزا ری دو لت دسیا ست
غو ښتنه داوه چی افغا نستا ن د ضرور ت په وخت کی د هند
دانگر یزا نو په مقا بل دتخو یف، تهد ید دآلی او یاد خیزدتخی په
تو که قر با نی کړی .

هر کله به چی د روسیی تزار ی دو لت ددوستی لاس دافغا نستان
په لو ری اوږد کړ ، دافغا نستا ن درهبر انو او یا پا چاها نو له
خوا به ددوی په دو ستی اعتما دکید لوا وښه راغلی به ور ته
وو یل شو ل . دهمدی اعتماد ا و دو ستی
په نتیجه کی دامیر دو ست محمد خان او امیر شیر علی خان حکو متونه
رنگ اوله منڅه ولا ړل. دغه موضو ع لږ څه په لاندی ډو ل
تو ضیح کوم : د روسی امپرا طوردوهم الکساندر، جنرال ایرانو فته
امر صادر کړ چی د ثمر قند اوچتر ال له لاری ، دکشمیر په لوری
حرکت وکړی . جنرال کا فمان دی دبخا را او ثمر قند له لاری دبلخ
او با میان په لوری حر کت وکړی.

امپر اطور ، امیرشیر علی خان ته ددو ستی لاس ورا وږد کړ ،امیر
هم د امپرا طور لاس په ډیری مینی او گرمی سره
وښو را وه او هر کله را شی ییور ته وویل .
په (۱۸۷۸) کال کی د جنرال ستولیتوف تر مشر تابه لا ندی
یو ستر هیئات (یو مر ستیال یوداکتر پنځو س کسه سواره)کابل
ته راغی.

دامیر شیرعلی خان اوستو لیتوف مذا کرا تو په نتیجه کی دیوه تړون
په مسو ده موا فقه وشوه. په دغه مسو ده کی روسا نو تعهد سپارلی
و که په افغانستان با ندی چاحمله کوله ، روسان به یی مر ستی
ته تیا روی . همدا رنگه په دغه مسو ده کی په تجا رتی روا بطو
او په صنا یعو کی دمحصلا نودروزنی پر موادو هم تینگار شوی و.
دانگر یزا نو سره دجگړی په صورت درو سیی وسلو ، مهما تو اودجگړی

دمصار فو ژمنه هم شوی وه . خو کله چی په (۱۸۷۸) کال کیدبرلین کنګری سو له په ارو پا کـــی تینګه کړه دهغی جګړی ویره چی په ارو پا کی یی رو سان تهد یـدول لهمنځه ولا ړه، درو ســـی تزا ری دو لت پخپلوو عدو وفـــاونکړه . دبر لین دکنګری څخه دوه میا شتی لانه وی تیری شوی چـیامیر شیرعلی خان خبرشوانګر یزان په افغا نستان بانـــد ی د حملـی لپاره تیاری نیسی .

دهمد غه کال داکتو بر پــــه میا شت کی ده درو سیی امپراتور، کا فمان او ستو لیتو فته دخپلـووعدو دتر سره کو لو لپاره ډیـــر لیکو نه واستول چی د ځینو لیکونو بشپړ متن په لاندی تو ګـــه تو ضیح کیږی . امیر شیر علیخان په یوه لیك کی کا فمان ته لیکی:

«دښمن (انګلیس) دافغانستانسرحد دخیبر دری ته را رسید لــی دی . هغوی غواړی چـی زمـا سرهلید نه وکړی . په نږدی وخت کی به یی ووینم . خو په ظا هر کـیدغه یوه پلمه ده کار دزمان لـه جو ړښت څخه تیر شوی دی دو یغوا ړی چی زموږ په هیواد هجو م را وړی . زموږ وظیفه داده چـیدخپل توان په اندازه د خلـــکو دژو ند مال او هیواد څخه دفـــاع وکړو . ددی امکان نشته چـــی دکینی اور دی په اسا نی ســـرهمړشی. ددیلیك تر رسیدو وروسته به ډیر وخت نه وی تیر شـــو یچی تا سو به خبر شی ، افغـــان ـ انګلیس یو دبل سره په جګــــړهاحته دی . تر کو مه ځایه پو ری چی ز ه ستا سو په دو ستی بشپړاعتماد لرم نو یقین لرم چی پـــه دغه مسئاله کی به خپلی دوستانهمهر بانی نه دریغوی ، هـــر ډول چی تاسو لازمه کنی مو ږ تـــــه مرستی را ورسوی.»

امیر شیر علی خان په یو بـــل لیك کی امپراتور ته دا سیولیکل: « دهغی ور ځی څخه چی دروس دبااقتدار ه دولت او افغا نستـــان ترمنځ د دوستـــی ور خـــلا صشوی دی او زموږ تر منځ لیکو نه مبادله کیږی . دانګلیس دو لـتدسرو الا نو زړو نه رنځید لیږ ی زموږ اعما لو ته په ښه ستر ګه نه ګو ری .داسی کا رونه تـــری

را ولا ړیږی چی دګاو نـد یتو ب‌نزا کت یی نه ایجا بوی . دده ئ
دنګما ری او فریبکا ری اور لانـه‌وم‌ړ شوی چی ستاسو سفیر کا ل
ته راغی . دغه‌فقره دزیا تی‌دښمنی‌سبب شوه یعنی ستا سو دسفیرله
را رسید لو ورو سته ، دوی بـدچلند کوی او هر ډول دښمنی تـه
یی لاس اچو لی دی . انګلیسانولو مړی یوه جو په معتبر سوا ره
دهیواد سر حد ، جمر ود ته نږدی‌دسفا رت په نامه را لیږ لی د ی
غوا ړی چی بی زموږ له اجـا زی‌پا یتخت دکا بل ښار ته را ننو زی
او ستا سوسفیر ته سپکی سپوری‌ووا یی . خو په سر حد کی زمو ږ
صا حب منصبا نو دد وی مخـــــه‌ونیوله پری یی نه ښو دل چـی دی
خوا ته را تیر شی . هغوی ته یی‌وویل چی دو ستی په زوره سر ه
نه کیږی رسم او قا عده (پرو توکول) اجازه نه ور کوی چی یـو
سفیر دی دیوی ستری ډلی سـره‌کوم هیواد ته دسفیر په تو کـــه
ولاړ شی . دو ی نا چاره بیر تـه پیښور ته ستا نه شـول . او اوس
په ډیر بیړه تیا ری نیسی چـــی په افغا نستان حمله وکـړی او
دافغا نستان سلطنت منهد م کړی‌ددی سره سره هم افغانی اعمـالو
ددو ستی پر خلاف کوم عمل سرته نه دی رسو لی او نه غوا ړو چی
لو مړی زموږ له خوا په ناوړه‌عمل‌لاس پو ری شی احتیاط دلا سـه
نه ور کوو . خودغه فقره څرګنده‌ده هوښو مره چی موږ تواضع کـوو
ددوی غر ور اودښمنی لاپسی زیاتیږی . دانګلیس دولت او افغا -
نستان تر منځ اړ یکی دتیرو څلویښتو کلنو په حا لت کی قرار نه
لری یعنی دهغه وخت سره چـــی‌دروس با اقتدار ه دو لت لـــو ی
سفیر او دانګر یزا نو یو کار منـدافغا نستان ته راغلی وو . مرحوم
امیر دو ست محمد خان دخپل عقـل‌او پو هی پر بناد اعلیحضـــرت
امپرا تور دو ستی ته دانګر یزانو په نسبت ترجیح ورکاوه . دهما غی
مخصمی په نتیجه کـی پر افغـــانستان بلارا نازله شوه . لنده‌داچی
عرض کوم د انګلیس دولت ټینګه اراده لری‌چی زموږ سره‌جګړه وکړی

زمونږ خلك هم په ټول قوت اوقدرت سره تیاردی چی دخلکو ژوند مال او هیواد څخه دفاع وکړی. هیله لرم چی د افغانستان دمحافظی او ساتنی په خاطر تاسو اعلیضرت د خپل ی مرتبی او قدرت په اندازه زمونږ سره مرسته وکړی. زه یقین لرم چی د خپل ملوکانه الطاف مراحم به په دغه حساسه لحظه کی زمونږ څخه ونه سپموی.»

همدارنګه امیر شیرعلی خان په نورو ډیرو لیکونوکی دمرستی غوښتنه کړی وه. اعلیحضرت امیراتوراو جنرال ستولیتوف خو هیڅ ځواب ورنکړ. یوازی کافمان دځینولیکونو په ځواب کی امیر شیرعلی خان ته لیکلی و: «داعلیحضرت امیراتور په دستخط ماته په یوه لیك کی لیکل شوی دی چی تاسو ته خبر درکړم: اوس زمونږ لپاره دمرستی امکانات نه لیدل کیږی.»

دکافمان په ټولو لیکونوکی امیر شیر علی خان ته لیکل شوی وچی د انګلیسانو سره جوړه وکړی. دهغو ټولو مرستو وعدی چی د امیر شیر علی خان سره شوی وی یوه هم په ځای نه شوه. امیر شیر علی خان پخپله مجبور شو چی دمرستی په هیله روسیی ته ولاړ شی. روسانو دوړ تګ اجازه ورنکړه. په مزار شریف کی دنزلی او ملا په درد اخته اوهلته مړ شو.

امیر شیر علی خان د روسیی په تزاری دولت باندی دخپلی اتکا او خوشباوری ډیره سخته جزا ولیدله. درو سیی تزاری دولت نه یوازی خپل تعهدات پرځای نه کړل بلکی دهغه تاراکاو لاتار تماشه یی کوله کوم چی انګریزانو په افغانستان واردکړل.

دانګریزانو سیاست او غوښتنه څه وه؟

لکه څرنګه چی مخکی موا شاره وکړه هند له یوی خوا انګریزانو ته د «طلایی مرغی» حیثیت درلودهیڅاته یی اجازه نه ورکوله چی په هند حمله وکړی. له بلی خوا د پانی پت له جګړی و روسته

انګر یزا نو ته ثابته شوه چــــې دنورو سیالا نو تر څنګ پخپلــــه افغا نستا ن په نظا مي او معنــو ی لحاظ د انګر یزا نو ډیر ستر سیال دی. د انګریزا نو سیاست او غـــوښتنه په افغا نستا ن کی دا وه چی یا ـــــی که و کولی شی . دغه هیوادد نظامی اشغا ل په واسطه او په ښــو دګوډا ګیو حکو متونو په واسطـــه تجزیه ، ټوټی ټوټی او له وغور زوی ، د سیاسی او اقتصادی استقلال په اړیکو کی یی تجر یــد او دنړی سره یی اړ یکی وشلوی .دافغا نستا ن داصیل فر هنګ ا و کلتور ریښی قطع کړی. دمیلیتو نومذهبی ، لیسانی او قو می اختلا ـ فاتو ته لمن ووهی ؛ مختلـــــــف میلیتو نه په کور نیو جګړو اختــه کړی؛ ټول تاریخی فضا یـــــل اوافتخارا ت یی له منځه یوسی .

دانګر یزا نو ډیره خطر نا کــــه پالیسی په افغا نستا ن کی دخپلو اجنټا نو او ګوډاګیا نو په واسطه دمملکت اداره کول و . ځکه دو ی پوهیدل چی مستقیم اشغال د افغـــانانو لپاره دزغم وړ نه دی .

انګر یزا ن دخپلی نقشی پـــــه تطبیق کی تر زیاتی انداز ی پور ی موفق شول . دافغانی ټو لنی پـــه منځ کی دخپلو تخر یبا تو لپـا ر ه لاره خلا صه کړه . او دخپلـــــــی تعرضی نقشی لپاره یی شرایـــــط برابر کړل.

دسر جا ن کی په قول :« بـــی اتفا قیو او کور نیو جګړو دافغا ـ نستان امپراتوری ټو ټی ټوټی کړه ؛په جنوب ختیځ کی دانګلیس حکو مت پیاوړی کړ . » دهمدغه فعــــــــالیتو نو په نتیجه کی انګر یزا ن تحریك شول چی دافغانستا ن مساله یوطر فه کړی . نو ځکه لار د پا ـ لمر ستون ، دانګلیس صد را عظم دهند حکو مت ته و لیکل :« او س شرایط داسی برابر شو ی دی چـــی په افغانستا ن کی جد ی مدا خلـــه وشی.»

همدا رنګه یا لمر ستو ن دلند ن په پار لمان کی وویل :« زه فکـر کوم که موږ دافغا نستا ن څخـــــه لا س واخلو د انګلیس د و لت به

دیر مصالح او خپلی ملی گټی دلاسه ورکړی . په هره ملاحظه چی دافغانستان څخه لاس وا خلوداسی ورځ به را ورسیږی چی مجبور به وو په زیا تو جانی او مالی تلفا تو یی اشغال کړو . »

دهند گورنر جنرال هم ویلی و: «موږ باید زیاته هڅه و کړو چی په افغانستان کی د خارجیانو دنفوذ مخه و نیسو . زموږ امنیت یی ایجابوی چی په افغانستان کی دایمی سپر جوړ کړو چی د شمالی او مغربی دښمنانو څخه په امان کی ژوند و کړو. » هماغه و چی دیو لاس پوڅی او گوډاگی څیری ترنقاب لاندی یعنی (شاه شجاع) سره د ٥٤ زرو منظمو عسکرو او عصری توپخانی په قوت وطن ته رانوتل افغانستان یی دهندوکش تر جنوبی لمنو پوری اشغال کړ . دانگلیس د مخفی کمیتی مشر لارد اکلنډ د هند گورنر جنرال ته د ١٨٣٦ کال دجون دمیاشتی په (٢٥) نیټه په یوه یاد داشت کی داسی لیکلی و: «په افغانستان کی د تزار یانو د نفوذ سره د مقابلی لپاره په هرډول چی غواړی عمل وکړی . »

په ١٨٧٩ کال داکتوبر په (١٢)نیټه لیک کی لارد کرانبروک د انگلیس د باندنیو چارو وزیر ،لارد لیتن دهند و یسرای ته لیکلی و : « له دی وروسته افغانستان دیوه کل په توگه موجودیت نه شی لرلی . »

لارد لیتن ویلی ؤ : «دانگلیسی قواوو له خوا دافغانستان نظامی اشغال باید دومره دوام وکړی چی دافغانستان ملت د انگلیس داطاعت سره عادت پیدا کړی او دانگلیس دامپراتوری په زورو پوهیږی» بیکنس یوبل انگلیس دلیتن په دغه سخاوت باندی انتقاد کوی لیکی : «دافغانستان اشغال باید ابدی او جاویدانی وی. » بنایی دغه ستره امپراتوری او استعماری دولت دافغانانو د حق دمبارزی په لار کی دافغانانو دزړور تو بڅخه غافل اویا خود خپل قدرت په نیشه کی دومره مست و چی په دی نه پوهیدل افغانان د خدای له مینی ور وسته د وطن په مینه کی مرگ ترتولوغوره او مناسب مرگ گڼی او هیچاته اجازه نه ورکوی چی افغانان تر خپل نفوذ لاندی د غلامی ژوند ته مجبور کړی .

ویاړلی افغانا ن دحق دمبا رز ی له واقعیت څخه دتاریخ په پاڼــو

کی ډیری ستر ی نمونی لری .

ښا یی دغو ستر و امپرا تور یواو استعمار ی قوتو نو ته دنګیاـ لیو او پتیا لیو افغا نانو دزړ ورتوب او پیاوړ تو ب دتو ری‌شرنګ نه وور معلوم .

ښا یی چی په دی نه پو هیــد لچی دغه داتلا نو اتل هیواد پــه، جګړه کی ما تی نه منی .

ښا یی چی په دی نه پوهیــد لچی افغا نانو هیڅ کله په تا ریــخ کی دغلا می ژو ند نه که په مستقیم‌ډول وی او یا غیر مستقیــم ډو ل غاړه نه ده ایښی .

ښا یی چی په دی نه پو هیــد لافغانا ن په هغه چاهم ترحــــم نه کو ی چی اقلا دو طن ددښمنا نوسره یی مرسته کړی وی . رښتیا هم داسی هیواد چی دملالی په شا نځوانی یی په خپله غیږ کی‌روز لی وی دویاړ نی اوستا ینی وړهیوا ددی . ویاړ لی افغا نا ن دحــــق دمبارزی له واقعیت څخه دتا ریخ‌په پاڼو کی ډیری ستر ی نمو نی لری: داحمد شاه‌بابا، میـرویس ،اکبر خا ن ، امیر امان الله خــــا ن څخه نیولی تر امین الله خـــــا ن‌لوګری ، عبدالله خان اڅکزی، میر مسجد ی خان کو هستانی، محمــــدجان خا ن وردګ ، ملا مشك عالم، میربچه خان کوهدا منی ، ببرك خان ځدران ، ملا موسی خـــــا ن مسعودی او ملا پیو نده و زیری ،پوری دوطن دآزاد ی، استقــلا ل ، دخاور ی د بشپړ تیا په‌لاره کـــی‌ځانو نه قربا ن کړی دی دښمــــن ته یی اجازه نه ده ورکړی‌چی ددی‌پاکی او مقدسی خاور ی تقــد س او سپیڅلتیا ته په سبك نظــــروګوری او یادغه مقد سه‌خـاور •

پنځپلو ناپا کو قد مونو ملو ثــه کړی . تا سوو کوری چی یو وخـت دپا لستا ن صدراعظم لیاقت علـیخان په یوه تقر یر کی دافغانستان خلکو او خاور ی ته په سپك نظر کتلی و ، توهین آمیزه او سپکـی خبری یی مازی ترخولی را وتلـیوی بی له درنګه سید اکبر خا ن ببرك زوی څدرا ن دده خو له پـه وینو ولړ له او دخاور و سره یـی برا برکړ ، ځان یی‌هم په‌هما غـه لحظه کی دخلکو او وطن په مینه کی لـه پتنګ په شمع وسوزا وه.

هو !دا واقعیت دی چی حق پـه باطل همیشه غلبه مو می او باطل دحق په مقابل‌کی‌په ګو ندو کیږی:

«هتلریان» او «موسو لینیا ن »بنایی و کولی شی دلنډ ی مـو دی لپاره مطلق قدر ت په‌لاس‌کی‌واخلی‌خونه همیشه ، یوه ورځ راتلونکی ده چی دهر زه او بیکاره‌و چوو بنوپه شا ن به‌لو کی شی .

هغه قوت چی دتو پك له دوری‌څخه راوز ی دخلکو په قوت نـه دی بریالی شو ی . د استعمـــارګرغیږن او نا مطلو به سیستم لکه آسمانی تکه ځو ځلی‌په افغانستان‌راناز ل شوه خو په ډیره لنـډ ه موده کی یی دغه کرغیږن استعماری‌قوتو نه په ګو نډ و کړل اودخاورو سره یی برابر کړل داستعمـــاردکر غیږ نو او لوغړ نو پنجو څخه یی دغه هیواد آزاد کړ .

دك. مارکس په قول : «دانګلیس‌دلو مړی جګړی په وروستی پیښه کی دهغو پنځلسو زرو عســکر وڅخه ډاکتر براید ن یوا زنی پا تی شونی‌و چی په یوه ډنګرآس‌سپورو«نیم بسمل» جلال آباد ته و رسید او د لوږی څخه مړ کیده .

بد قوتو نه بنا یی په موقتـــی‌توګه په حقیقت غا لب شی خــو حقیقت تل حقیقت پاتی کیـــږی،حقیقت خپل غالب مغلوبو ی حـــق حقدار ته رسیږی. دا ځکه چی دحق‌او باطل تر منځ‌دمبارز ی پـــه جریا ن کی حق همیشه په با طـل‌غلبه موندلی ده :

مها تماگا ندی ۱۵ کاله دهنـدخبر او شیگنی لپـا ره دآزا دیٔ مبارزی ته دوام ورکړ .

ده چرچل ته ولیکل : «حق تـه غاړه کیږده او دهند د استعمـا ر ښخه لاس واخله ! »

چرچل په ځواب کی ور تــــه ولیکل: «زه د انګلیس‌دامپرا توری دتصفیه کیدلو لپا ره دنا ظـــرپه توګه نه یم صدراعظم شوی.»

بالاخره چرچل دمهاتما ګاند ی دحق‌مبارزی ته په ګونډو شو هندخپله آزاد ی په حقه و ګټله .

په (۱۹۲۹) عیسو ی کال کـی مهاتماګاندی د امریکا تورپوستا نو ته د خــوا خوږی یــو پیغـا مواستولو . په دغه پیغا م کــی دومره اغیز من قو ت پرو ت و چی‌یو شمیر زیا ت تور پوستا ن یـی هند ته دمها تما ګاند ی دلید لـواو ملاقات لپاره وهڅول . دپیـغا م متن په دی ډول و :«نه ښا یـــی‌چی دامریکا دوولس میلیونه تور ـ پوستا ن په دغه‌واقعیت‌وشر میږی‌چی ګو ند ی دو ی دمر یا نو بچیا ن دی دغه تحقیر اوبی پتی دمریا نونه ده بلکی په هغه چاپور ی‌تعلق لری چی مریا ن یی ساتلی د ی .خو راځی چی د تیری زمانی په پت اوبی پتی پسی ونه ګرزو دغـــه ټکی در ك کړو : راتلونکی په هغه چاپور ی تعلق لری چی واقعیـــت‌خو ښوو نکی دی ، سپیڅلــــی او مینه ناك دی . حقیقت تل حقیقـــت‌پاتی کیږی . دروغ‌پایښت نه‌لری . یوازی مینه پتی لګوی . مینه ا وحقیقت دواړه د نتلیو علاج کوی.»

ویاړلی افغانا ن هم دحق دمبارز ی‌له واقعیت ښخه له برمه ډکـــی حیرا نوونکی او معجزه آسا نمو نی‌لری . له دغو نمونو ښخه دافغا ن ـ انګلیس در ی ستر ی جګړی دی :

ددی خاور ی زمریا نو او پـړ انګانو دانګلیس دتیری کوو نکـــی استعمار پر ضدحق دمبارز ی پـه‌جریا ن کی دانګلیس دامپرا تور ی په نه ماتیدونکی ذهنیت بانـد ی‌داسی مر ګونی ګو زا رو نه‌وکړل

چې داستعمار گرانو په وژ لو سره يې دخپل وطن څخه دانگريزا نو قبرستان جوړ کړلو . دآزاد ی دلارې سور بير غ يې د «بالاحصار» په لوړو څو کو ور پاوه. دانگليس استعمار ی قوت ته چې په سيمه کې يې لمر نه ډو بيده داسې ما تې ور کړه چې دماتې او بيشر مې مثال يې دتاريخ په پاڼو کې په زر ينو کرښو ثبت شو . د افغانستان دخلکو دبر حقې او عادلا نه مبارز ې ياد گارو نه د آسيا په زړه کې دټولې نړۍ د استعمار ی قوتو نو لپاره اوهم د آزاد ی ښښو نکو غورځنگونو لپاره دعبر ت او هم دسرمشق په توگه پاتې شو ل . جمال ناصر به ويل :«دافغان ـ انگليس در ی جگړې دټولې نړ ی دآزاد ی ښښونکو غور ځنگو نو لـه پاره يو رو ڼ مشعل دی . »

زه به دافغان ـ انگليس پـه دريو جگړو کې دافغانانو د وطن پرستی دميني خصلت په دوونمو نو کې په مشخص ډول توضيح کړ م. خو پخوا له دې چې دافغا نانـو په دغه وياړلی خصلت وغږ يږ م بهتره گڼم چې د وطن پرستی پـه معنالږ څه رڼا واچو م .

وطن پرستی

دوطن مينه هغه سوزوو نکې مينه ده چې په هغه کې ورو نـه مليتو نه وروڼه گڼل کيږی . پـه هغه کې ملی بيلوالی دخلکو ا و مليتو نو تر منځ نابرابر ی ځا ی نه لري . په هغه کې نـژادی توپيرو نه محکوميږی .

دوطن پرستی او وطن دو ستی استثمار ، فقر ، جهل پر ضـد مبارزه ده .

دوطن پرستی معنا دخپل و طـن ساتنه ده : استقلال دلا سه ورکول نه يوازی د داخلی استثمار گرا نوستم دی بلکې دخارجی استعمارگرانو او استثمار گرانو ستـم هـم دی . طبعا دهيواد خلك دهغی سره توافق او تطابق نه شي کولی .

وطن پرستی د ستم ، استعما ر، ډيره مشخصه معنا د خارجی دښمنانو تيري په مقابل کې د خپل وطـن او ملت څخه ډيره کلکه دفاع ده .

دوطن پرستی اووطن دوستـــیدمینی قوت دخارجی او دا خلـــی غارت کرانو او لو تما رانوپه خوله هغه کلك گو زار دی چی واقعا وطن او خلك د استعمار چپا نو د غلا مـــیدداخلی داړه مارانو د ستم څخــه ژغوری . ملی او نژادی تعصـــب دوطن پرستی دخصو صیا تو سر ه اړخ نه لگوی . په وطن پر ستـــی کی د ملی غرور معنا د ملیتو نـــو فر هنگ ، کلتور او سننو ته پـــه درنه ستر گه کتل دی . دمثـــا ل په توگه : ښا یی یو پکتیا وا ل دافغانستا ن په جنو ب کی دپکتیـــا ددنگو دنگو غرو نو ، ښکلیـــــوځنگلو نو ، طبیعی مناظرو ، پا کی هوا، لونگی، شړی ، څانگیوهلو ،اتڼ کولو او نبنی ویشتلو ســـــره زیاته مینه ولری .

همدا رنگه ښا یی یو بد خشـــیدافغانستان په شمال کیدلاجورد ینو غرونو ، ښکلی طبیعی منا ظـــرواوز لو بی ، چپنی او خو لی سر ه زیاته مینه و لری .خو بیا هـــمدهر پکتیا وا ل او هر بد خشـــی لپاره دوطن مینه تر ټولو مینـــوزیا ته مینه ده . دامینه هغه مینه ده چی پکتیا وا ل دجنو ب څخـــه او بد خشی دشمال څخه دیو وا حد انسا ن په تو گه دخار جیقو تونواو داخلی استثمار گرانو اولوټمارانو په مقا بل کـــی او د داخلـــــیخارجی اجنټا نو په مقابل کی د یو واحد ، مستقل، مترقی او سرلوړیافغانستا ن لپاره سره یو ځـــا ی کوی او دوطن نه ددفا ع پهلار هکی یو موټی او یو قوت جوړوی .

دافغان - انګلیس په دروجګړو کی دافغانانو دوطن پرستی دوی نمونی

لو مړی نمونه :

استقلال ته دخطر په وخت کــی آزادی او یووالی دافغانانو دوه نه جلا کیدونکی خصلتو نه دی . آزادی انسان ته اراده ، یووالــی او قوت ورکوی . اراده او قـــوت چی دواړه سره یو ځای شی هغـه قوتو نه هم دماتی سره مخامــخ کوی چی په مستعمرا تو کی یـــی لمر نه ډوبیږی .

دخو ست دسپین ږیرو غازیا نوله خو لو څو ځلی داخبره اور یــد ل شوی ده او داخبره په خو ســت کی ډیر شهرت لری وایی : « کلــه چی ملکی غونډ مشر غازی ببــرک خان ځدران په ۱۹۱۹ کال کـــی دخو ست ځدرانو ، و زیرو ، تنیواو منګلو دلسو زرو غازیا نـــو سره د « ټل » دجګړی په میــدان کی په سپین آس سپور ودده دوه زامـن شــیرک او زمــرک (۱) هم په څنګ کی ور سره ولاړ وو . غازیانو ته یی د پښتنی ننګ او غیرت په باره کی خبری کولی چی ناڅاپه په دوی باندی دانګلیسانو دطیارو په بمبا ریو له یوی خوا د عصری تو پخانی په پرله پســی ډزو له بلی خوا حمله پیل شوه . په دغه لحظه کی موقتا دغازیانو په روحیه کی یو څه ماتی ولید ل شوه . ځکه نظامی قوا وی لــږ څه شا ته وتمبید لی . وایی چی په دغه حساسه لحظه کی ملکـــی قومانده ورکوونکی غازی ببرک خان ځدران دجګړی دمیدان پـــه غازیانو ورغږ کړل : « ای پښتنــو زمریانو مرو ، خو بی ننګی ته نه تسلیمیږو . مرګ یاڅو ند . »

---

(۱) افغانستان در مسیر تاریخ دمیر غلام محمد غبار تالیف پــه (۷٦٤) مخ کی د استقلال د جګړی دمشاهیرو او غازیانو په ډلــه کی دببرک خان ځدران او دده دیوه زوی شیرک نوم ذکر کړی دی . په داسی حال کی چی دده بــل زوی نایب سالار زمرک هم دخپل پلار سره دټل دمحاذ په جګړه کـــی دانګلیسانو پر ضد په ډیره میرانه او شهامت جنګید لی دی .

ددغه دراندہ غږ په اوریدوسره غازیانو زړورو او ننګیالیو افغانانو
پر انګلیسانو داسی نـا تـا رجوړ کړلو چی سپینه ورځ یی پـه
توره شپه کړ له . دمرد کیو پـه سرو لمبو کی شپه په رڼا بدلـه
شوه اورڼا پـــه آزادی‌اواستقلال.

انګړ یز انو د جګړ ی څخه لا س‌واخیست د تسلیمی بیر غ یـــی
ور پا و ه دجګړ ی زمر یا ن «تل» ته ور داخل شو ل او د «تل» پـه
او سپنیز ه قلعه یی د افغا نستا ن بیر غ‌ور پا وه . په دغـــه ور ځ
انګلیسا نو ته ثابته شوه چی پـرافغا نانو بر ی موند ل او ددو ی
غاړی ته زندی ور اچول یونا ممکن کار دی .

تاسو و ګوری چی لارد کار نکتن دانګلستان دباندنیو چارو پخوانی‌وزیر
د افغان ـ انګلیس په در یـــوجګړو دتجر بو پر اساس دافغانستان
د نیولو اویا اشغال په باره کی‌ډیرپه زړه پور ی مثال وړاندی کـو ی
وایی چی : « پر افغانستان تیری اوتجاوز داسی مثال لری لکه څوك چی
زمری ترلکی‌ونیسی چی‌نه یی همیشه نیولای شی او نه یی خوشی کولای
شی‌که یی خوشی کړی زمری‌نیوونکی‌د زمری په خوله کی ټوټی ټو ټـی
کیږی که یی نه خوشی کوی تـــرکومه وخته پوری به یی دغه زمری
ترلکی نیولی وی ؟ ! » دلار د کار نکتن د خبری مطلب د او ، بهتره ده
چی د داسی زمریانو دنیولو څخـــه ډډه وشی .

مو ږ به هیڅ کله دهغو زړوروافغا نانو قر بانی او قهرما نـــی
له یاده و نه با سو چی په و ږ ی‌نس ، لوڅو پښو ، بڅه (څیـــری)
کالیو او تشو لا سو یی د وطـــن‌څخه دفا ع کوله یو ی مجهـــز ی
منظمی او عصر ی اردو ته یـــی‌ماتی ورکړ ه .

پر یږد ی چی د زړورو افغا نانوپه زړو نوکی دغه پیاو ړ ی‌روحیه
او د آزادی دجګړی خاطره د ســرمشق په توګه دتل لپاره ژو ند ی
پاتی وی .

پر یږد ی‌چی فا شیستـــا ن اوامپر یالیستا ن په دی وپو هیږ ی
چی پر افغا نانو بر ی موندل‌ددوی‌غاړی ته زندی وراچول یو نا ممکن
کاردی .

دوهمه نمونه :

مرحوم احمدعلی کهزاد دافغانستان مشهور مورخ دافغانانو تولنیزه خیره داسی ترسیم کړیده : « افغانان په ایشیا کی زړوور ، غیرتی ، پیاوړی ، هوښیاراو میلمه پالونکی خلك دی . دوطن سره مینه یی دمور په شیدو کی رودلی ده . »

همدا رنګه انګلس دافغانانو خیره اوجغرافیوی موقعیت داسی ترسیم کړیدی :«په مرکزی ایشیاکی دافغانستان جغرافیه وی موقعیت ودخلکو بیلګه ایزو خصوصیاتودی هیواد ته خاص سیاسی ارزښت وربښلی دی چی په ډیر مشکل سره ارزیابی کیږی . افغانان زړور ، تنومنداو آزادی خوښوونکی خلك دی . »

هو! آزاد طبیعت په آزاد افغانستان کی دافغانانو سپیڅلی خصلت دی . د آزادی عشق دافغانانودسرشت او طبیعت ډیر ځلیدونکی خصوصیت دی.دنړی هیڅ قدرت او هیڅ قوت نه شی کولی دغه خصلت او خصوصیت په غلامی بدل کړی او یا یی ددوی څخه واخلی .

ویاړ دی وی پر هغو بریالیو،جنګیالیو ، ننګیالیو او میړنیو افغانانو چی د آزاد طبیعت دساتلو لپاره په جګړه کی سرونه بایللی، نیغ په نیغه جګړی ته ورداننګی دد ښمن په سنګرونو ورخیږی خپل سرونه یی په ورغوی کی نیولی او ځان دهیواد دنجات په لاره کی قربانوی .

دجنګ په ډګر کی ټول افغانان اتلان دی . دعمل خلك دی میړانه او زړور توب یی دلمر په شان ځلیږی .

افغانان دجنګ په ډګر کی ویره او ډار ، بی غیرتی ، بی حرمتی ، بی ننګی ، اوبی شرافتی کنبی . دایو تاریخی حقیقت دی چی اصیلو او میړنیو افغانانو او پروطن مینو افغانانو په میهنی جګړه کی هر ډول اختلافات ، دښمنی او بی اتفاقی یوی خواته کړی دی . فقط دواحد متفق او هم آهنګ افغانستان لپاره جنګیدلی دی . د ملیت ، ژبی ، کلتور او مذهب توپیرونه یی هیر کړی دی، استثنا او تبعیض یی نه دی منلی دټولو مسایلو په راس کی یی دوطن آزادی غوره ګڼلی ده .

په دغه لار کی یو په بل نه دی‌بد گما ن شو ی . دوطن د آزادی او نامو س ساتلو په عشق کی یی‌زړونه مالا مال دی . د ځـــان ، مال ، جایداد او هر څه نه تیـــرشوی دی دخپلو پلرو نو ، نیکو نو دعظمت جاه وجلال ، میړا نـــی اوزړور تو ب په یاد وبود یی خپلـــه وظیفه پیژ ند لی او دغه وظیفـه یی په ډیر جرات او شها مت سر پای ته رسولی ده .

افغانا ن که په کو مه پیښه کی‌نه دی بر یالی شو ی او یا خپـــل مقصدته نه دی رسیدلی ، وی به ،خو دخپل وطن په نسبت یی هیـــخ وخت خپله تقوا دلا سه نـــه د ه‌ورکړی همیشه یی خپل ژو ند په رضا کارا نه او داو طلبا نه توگه دبهتر ینی تحفی په تو گه خپلـــو خلکو او وطن والو ته وړا نـــد ی‌کړی دی . د وطن په مینه کـــی مرگ یی تر ټولو مرگو نو غـــو ره‌او مناسب مرگ گڼلی دی .

هو !زه چی څه وایم او یا یـــی‌لیکم دکلما تو رنگینی نه ده قالبی او کلیشه یی جملی نه دی ، فنـــی‌لطافت او دهنر رنگینی هم نه ده. دایو تاریخی حقیقت دی . دغـــــه‌حقیقت دافغا ن ـ انگلیس په دریو جگړو کی ثبو ت ته رسیدلی دی .

افغا نانو په دغه جگړوکی جنگی‌عصر ی و سایل نه در لـودل . د جنگ په تکتیك هم نه پوهید ل خود متقابل اعتماد ، ټینگی ارا د ی ، قـــوی ایمان ، پـــاك و جـدان او دافغانی ننگ او غیر ت په پیاو ړتیا او زړور تیا یی دو طن دو ستـــی‌او وطن پرستی په لار کی خپـل‌پت اوعزت په ځا ی کړی دی ، خپـــل‌ننگ ا ومیړانه یی ثبو ت تـــــه رسولی دی .دیر نگیا نو په سنگرونو ور ختلی دی او پر نگیا نو تـــه یی غا ښی ما تونکی او مر گو نـــی‌گوزارو نه ورکړی دی او دخپـــل هیواد څخه یی دیر نگیا نوقبرستان‌جوړ کړی دی .

هو ! مو ږ دخپلو پلرو نو ا ونیکو نو هغه بی سار ی مقاو مـــت چی په دغو دریو جگړو کی یـــــی‌سر ته رسولی دی هیڅ کله نـــه هیروو . مو ږ ددو ی پاکو اروا حو ته درود استوو او هم ډاډ ور کو چی په دغه لار کی بـــه ددو ی دویاړ نه ډکو کارنا مو په پله‌روان وو . ددو ی دمیړانی زړور تیـــا ،ثبات او قر بانیو خا طری بـــه تـــل تر تله زموږ په زړو نو کی‌ژوندی‌پاتی وی .

PROPERTY OF ACKU
8526

مأخذونه

۱ـاحسان طبری ، انسان ،پراتیک اجتماعی در رفتار فردی و رو تا سیون مطبعه ۱۳٦٤ .

۲ـمیر غلام محمد غبار افغانستان‌در مسیر تاریخ کابل ۱۳٦۷ .

۳ـنفتو له حالفین ، انگلستان‌دافغانستان پر ضد د تاریخ‌پانی هنووستی مطبوعاتی آژانس‌نشراتی‌مو سه ، مسکو ۱۹۸۰ .

٤ـجان فیتیز جرالد کنیدی‌سیمای شجاعان تهران چاپ سوم ۱۳٤۲ .

٥ـمحمد ولی مندوزی اخلاق اوهومانیزم دافغانستان د علوم اکاډمی خپرونه ۱۳٦۷ .

٦ـلویس هنری دخوند او پندخبری ـ مترجم محمد ولی مندوزی دافغانستان د علوم اکاډمی دزیری خپرونه .

۷ـم .س. گورباچف گزارش سیاسی کمیته مرکزی ح.ک.ا.ش.به (۲۷) کنگره حزب‌کمونسیت‌اتحادشوروی ۱۳٦٤ .

۸ـافانا سیف ، علمی سوسیالیزم مترجم سرور یورش کابل ۱۳٤۲ .

۹ـمارتین لوتر کینگ ندای‌سیاه چاپ اول ابان ۱۳٦٤ .

۱۰ـاحمد زراوند افکار جاویدان چاپ تهران .

۱۱ـ ذبیح الله فرجی نقش ناکامی در شخصیت تهران ۱۸ر۲ر۱۳۵۵ .
۱۲ـ کراپیون حقیقی سوسیالیزم تولنیز مناسبات او شخصیت د پروګرس نشراتی موسسه ۱۹۸۵.
۱۳ـ احسان طبری یاد داشت ها و نوشته های فلسفی - ۱۳٤٦.
۱٤ـ واسیلی لیابوف ، پیرو زی کبیر موسسه مطبو عاتی مسکو - ۱۹۸۵ .
۱۵ ـ پیام دحمل (۲۱) نیټــه ـ۱۳٦۸ .
۱٦ـ انیس ۱۹ حمل ۱۳٦۸ .
۱۷ ـ دملګرو مــلتو په (٤۳)غونډه کی دم.س . ګرباچف وینــا ۱۹۸۹ .
۱۸ ـ بنیټ دلوتر کینګ دخاطرو بیو ګرافی (په انګلیسی ژبـــه) نیو یارك ۱۹٦۸ .
۱۹ ـ اخباو هفته ، ۱۸ اســد ، ۱۳٦۹ ، کابل ، مطبعه دولتی .
نوټ : دمطا لبو فهر ست دوهمی پاڼی کر بڼه کی دما خزو نه دکلمی درست شکل ما خذو نه دی .

د (۱۳٤۹ ـ ۱۳۵۱) کلونو کې د پوهنې وزارت د ښوونې او د روزنې ریاست او تألیف او ترجمې د ریاست مسلکي غړی و. د (۱۳۵۲ ـ ۱۳۵٦) کلونو کې د پوهنې وزارت د استخدام رئیس و. د (۱۳۵۷ ـ ۱۳۵۸) کلونو کې د باندنیو چارو د وزارت د تشریفاتو رئیس و. په ۱۳۵۹ کال کې د افغانستان د علوموا کاډمی ته تبدیل او تراوسه پورې د همدغې ستري علمي مؤسسې د دایرة المعارف ریاست د قاموس سونو د څانګې علمي غړی دی.

سفرونه: امریکا، فلپاین، سنګاپور، مالیزیا، تایلند، کیوبا، مسکو او لیننګراد ته یې تحصیلي، علمي او رسمي سفرونه کړي دي.

ب ـ آثار:

۱ـ اخلاق او هیومانیزم، چاپ.

۲ـ هیومانیزم، همدغه اثر.

۳ـ په ټولنه کې د فلسفې رول، ترجمه، چاپ.

٤ـ د ښوونځیو اداره او نظارت، چاپ.

٥ـ دخوند او پند (۱۵۰۰) غوره خبرې، چاپ.

٦ـ زما د خاطر اتو یو کوچنی داستان، چاپ.

۷ـ کانې دغریب په سرراولویږي کوچنی داستان، چاپ.

۸ـ انګلیسي، پښتو نوی قاموس (د لیکو ونکی دري کسیزې دلې غړی) ـ (۲۰۰۰) مخونه، (٤۰۰۰۰) کلمې تر چاپ لاندې.

۹ـ دکوچنیانو د زده کړې له پاره دضروري روحیاتي زمینو او انګیزو مطالعه، (تیسس) په انګریزۍ ژبه، ناچاپ.

۱۰ـ دلیننګراد سفر، چاپ.

۱۱ـ زما خاطرات، ناچاپ.

۱۲ـ دکابل، عرفان په مجلو، افغان ملت او روز ګار په جریدو کې ګڼ شمیر لیکنې او مقالې.

بیوګرافي او اثار .

الف : محمد ولی مندوزی ، په ختیه مندوزی شیبی خیل دی . په ۱۳۱۵ه . ش کال، د پکتیا دخوست په لویه ولسوالی کی زیږیدلی دی.
په ۱۳۳۰ کال، د اسمعیل خیلو او مندو زیو دلومړی ښوونځی څخه فارغ دی. په ۱۳۳۶ کال کی د کابل له دارالمعلمین څخه فارغ شوی دی . په ۱۳۳۹ کال کی د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځی د پښتو ادبیاتو او فلسفی له څانګی څخه لیسانس واخیست . په ۱۳۴۰ کال کی په ابن سینا اوبیا په کابل دارالمعلمین کی د ښوونکی په توګه مقرر شوی دی. په ۱۳۴۳ کال کی دیونسکو ترفیلو شیپ لاندی په لومړنیو تعلیماتو کی د نهو میاشتو له پاره فلپاین ته تللی، دفلپاین له پوهنتون څخه یی مافوق لیسانس (Post graduate degree) اخیستی دی.
په ۱۳۴۳ کال کی دکابل دارالمعلمین د تجربوی ښوونځی دمسلکی معاون په توګه مقرر شوی او یوکال یی دهمدغه دارالمعلمین دسرپرست مدیر په توګه یی وظیفه اجرا کړیده .
په ۱۳۴۶ کال کی روښان دارالمعلمین ته تبدیل اوداستاد په توګه یی وظیفه اجرا کړی ده .
په ۱۳۴۷ کال کی دیونسکو ترفیلوشیپ لاندی امریکا ته تللی ، په ثانوی تعلیمات توکی یی داندیانا له پوهنتون څخه دماستری دیپلوم اخیستی دی .

پاتی په دریم مخ کی

مطبعه آریانا